د پوهنې وزارت

پښتو

اتم ټولګی

Ketabton.com

پښتو

اتم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، گوجر دي
پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان

دا هېواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

پښتو

اتم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

الف

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: پښتو

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د پښتو برخې د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنت غړي

ټولګی: اتم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې مونږ ته يې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه يې برخمن کړي يو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. مونږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي ېې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمېرې	سرليکونه	مخونه
لومړی لوست	لويه خدايه، لو يه خدايه!	۱
دو يم لوست	نعت	۵
دريم لوست	خپلواکي	۹
څلورم لوست	د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه عدالت	۱۵
پنځم لوست	د بنځو حقونه	۲۱
شپږم لوست	ملي يووالی	۲۷
اووم لوست	د ماينونو او ناچاودو توکو د نښو پيژندنه	۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست	د امير شېر علي خان واکمني اود پښتو ژبې وده	۳۵
نهم لوست	نورستان	٤١
لسم لوست	پوهاند ربښتين (ادبي څيره)	٤٧
يوولسم لوست	لاسي صنايع	٥٣
دولسم لوست	مرکه د پښتو	٥٧
ديار لسم لوست	نومځري (ضميرونه)	٦١
څوار لسم لوست	ليک نښې	٦٩
پنځلسم لوست	انشاء او ليکوالي	٧٥
شپاړسم لوست	متلونه (د کاڼي کرښې)	٧٩
اووه لسم لوست	د مور زړه	٨٥
اتلسم لوست	ښوونکی د ټولنې لارښود	٩١
نولسم لوست	نړېواله ادبي څېره ټاګور	٩٥
شلم لوست	ښکالو	١٠١
يوويشتم لوست	موږ ولې کيسې لولو؟	١٠٥
دوه ويشتم لوست	خوږ ژبی شاعر سيد حسن خان	١١١
درويشتم لوست	د اپينو زيانونه	١١٩
څلورويشتم لوست	عبدالرحمان بابا	١٢٣
پنځه ويشتم لوست	اوبه او چاپيريال	١٢٩
شپږ ويشتم لوست	احمد شاه بابا (ملي مشر او شاعر)	١٣٥
اووه ويشتم لوست	لرغوني ا ثار	١٤٣
اته ويشتم لوست	د هنري نثر ډولونه	١٤٨
	ويپانګه	١٥٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه، لویه خدایه!

د بېټ نیکه پر دې مناجات د کتاب لومړی لوست پیلوو. د ټولو چارو واک د لوی خدای ﷻ په لاس کې دی. بنده باید تل له خدای ﷻ مرسته وغواړي. الله ﷻ ته مناجات او زاري د بري او نېکمرغۍ لامل ګرځي.

- مناجات څه ته وایي او موضوع یې څه وي؟
- تاسو بېټ نیکه پېژنئ او د هغه مناجات مو اورېدلی دی؟
- د بېټ نیکه دغه دعا یا مناجات له نورو حمدونو څخه څه توپیر لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه، لویه خدایه!
ستا په مینه په هر ځایه
غږ ولاړ دی درناوی کې
توله ژوي په زاري کې
دلته دي د غږ لمنې
زمونږ کیږ دی دي پکې پلنې
دا وګړي ډېر کړې خدایه!
لویه خدایه، لویه خدایه!

دلته لږ زمونږ اوسېل دی
وړه کور کی دی، وړه بوږجل دی
مینه ستا کې مونږ مېشته یو
بل د چا په ملا تله نه یو
هسك او ځمکه نغښته ستا ده
د مړو وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدایه!
لویه خدایه، لویه خدایه!

(بېټ نیکه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

بېټ نيکه په خپل دغه مناجات کې د لوی خدای ﷻ دربار ته د دعا لاسونه پورته کوي او داسې هيله کوي: زمونږ زړونه يوازې او يوازې ستا له مينې ډک دي او د بل چا په پله نه يو روان، زمونږ په ولس ورحمېږې. دوی را ډېر کړه، ځکه چې هسک او ځمکه ستا دي او د هر څه وده او پالنه ستا له لوري ده.

د شاعر پېژندګلوي:

بېټ نيکه زمونږ له نومیالیو نیکونو څخه دی. ژوند يې د ۳۰۰ او ٤۰۰ هـ . ق. کلونو تر منځ اټکل شوی دی. تر ټولو پخوانی کتاب چې د بېټ نيکه په اړه مونږ ته معلومات راکوي، د سلېمان ماکو ((تذکرة الاولیاء)) دی. د تذکرة الاولیاء کتاب تر ٦۱۲ هـ . ق. راوروسته لیکل شوی دی.

وايي چې بېټ نيکه د کسي (سلېمان) غره په لمنو کې اوسېده او تل به د خدای ﷻ پر عبادت بوخت و. هغه د خپلې قبيلې مشر، روحاني شخص او مشهور ولي و. دغه راز بېټ نيکه شاعر هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ تر شوونکي وروسته دې څو زده کوونکي په وارسره مناجات د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۲ـ څو زده کوونکي دې د دغه مناجات د مفهوم په اړه خبرې وکړي.

۳ـ هر زده کوونکی دې په مناجات کې صفتونه په نښه او په ټولګي کې دې په لوړ آواز ووایي.

٤ـ په پورتني مناجات کې نومونه په نښه کړئ او ووایاست چې څو ډوله نومونه مو پیدا کړل؟

٥ـ په ساده ډول د حمد، مناجات او نعت توپیر په څو کرښو کې ولیکئ او خپلو ټولګیوالو ته یې واوروئ.

٦ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي.

درناوی، ژوي، بورجل، مېشت، نغښته، پالنه

۷ـ زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې ستونزمن لغتونه په جملو کې استعمال کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د دې درس اصلي مطلب په خپلو کتابچو کې وليکي.

په تاسو کې هغه څوک غوره دی چې د هغه د لاس او ژبې له ضرر خخه بل مسلمان په امان وي.

((حدیث شریف))

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعت

تاسې په لومړي لوست کې مناجات ولوست. مناجات هغې وينا ته ويل کېږي چې په هغه کې د خدای ﷻ له درباره د څه غوښتنې او دعا لاسونه پورته کېږي. اوس تاسې نعت لولئ، په نعتيه شعرونو کې د محمد ﷺ صفت او ستاينه کېږي. مناجات او نعت زياتره منظوم وي، خو کله کله منثور هم وي.

نعت څه ته وايي؟

- تاسې کوم نعتيه کلام اوربدلی يا لوستلی دی له مناجات سره څه توپير لري؟
- آيا مناجات او نعت منثور هم وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیادمو کې دې نشته دی همسر څوك
پرښتو کې دې هم نه دی برابر څوك
د معراج په شپه جبریل هم پاتې راغی
کله تلی شي هم کا به د افسر څوك
سپورمی هم وهرته حیرانه دوه توکړې شوه
اشارې نه د نبي دی ناخبر څوك
لات، منات، عزا[1] همه خاورې په سر شول
اخیستلی شي له حق سره ټکر څوك
ابو جهل[2]، بولهب[3] ټول خوار و زار شول
څنګه کړي مقابله د پیغمبرﷺ څوك
سنا صفت د لوړې څوك پوره کوی شي
احاطه به د بربښنا وکړي د لمر څوك
د اسړې ځای مو هم ته یې محمدﷺ
زمورږ مه شه په دنیا کې بل رهبر څوك
خپل پردي وهرته په عدل کې یو شان وو
ثاني نشته د عادل خیرالبشر[4] څوك

(لنګر بي بي)

لنګر بي بي د پښتونخوا د اشنغر د سیمې شاعره ده. د نومورې شاعرې په اړه په ادبي تذکرو کې ډېر معلومات نشته. د فقیر محمد عباس قادریه په (خوارې نعتونه) نومې کتاب کې یې ځینې نعتونه راغلي دي. مورږ هم پورتنی نعت له دغه کتاب څخه اخیستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

په پورتني نعت کې دا څرګنده شوې ده چې حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ تر ټولو غوره بنده او استازی دی. حضرت محمد ﷺ تر ټولو وروستنی پیغمبر دی، د نبوت لړۍ پرې ختمه ده. الله ﷻ د هغه د نبوت د پخلي لپاره له هغه څخه ځینې معجزې صادرې کړې. لومړنی معجزه یې دا وه چې د رسول الله ﷺ له زوکړې سره سم د کفارو ستر بتان لکه: لات، منات، عزا او نور پر ځمکه را پرېوتل.

د معراج په شپه رسول الله ﷺ د جبرایل (ع) په ملګرتیا له مسجد اقصیٰ څخه د الله ﷻ په امر آسمانونو ته وخوت او له الله ﷻ سره یې خبرې وکړې. همدارنګه په کوچنیوالي کې د هغه د مبارکې سینې څیرل او د هغې پرېمنځل هم یوه معجزه وه.

د رسول الله ﷺ بله معجزه دا وه چې سپوږمۍ د هغه په امر دوه ټوټې شوه او بېرته سره یو ځای شوه. په نعت کې د رسول الله ﷺ ستاینه او صفت راغلی او د هغه مقام څرګند شوی دی.

څرګندوني

۱- لات، منات، عزا: دغه درې مشهور بتان وو چې کفارو به ورته سجدې کولې.

۲- ابو جهل: د محمد ﷺ سر سخت مخالف و چې تر مرګه مسلمان نه شو.

۳- ابولهب: دا هم د محمد ﷺ سخت مخالف، او د اسلام دښمن و.

٤- خیرالبشر: تر ټولو انسانانو غوره (حضرت محمد ﷺ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱- زده کوونکي دې شعر په وارسره ولولي او د دې نعت مفهوم دې په خپلو خبرو کې ووایي.

۲- زده کوونکي دې لاندې بیتونه معنا کړي او ودې وایي چې په دغو بیتونو کې کومو پېښو ته اشاره شوې ده.

د معراج په شپه جبریل هم پاتې راغی
کله تلی شي هم زکابه د افسر څوک
سپوږمۍ هم وزته حیرانه دوه توکړې شوه
اشاري نه د نبي دی نا خبر څوک

۳- زده کوونکي دې په شعر کې نومونه پیداکړي او څرګنده دې کړي چې په شعر کې کوم ډول نومونه راغلي دي.

٤- زده کوونکي دې د دې کتاب له ویپانګې (لغتنامې) څخه د دې لغتونو معنا پیدا او بیا دې په جملو کې استعمال کړي: معراج، افسر، احاطه، همسر.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت محمد ﷺ د ستاینوپه اړه په شپږو کرښو کې یوه لیکنه وکړي.

حضرت محمد ﷺ د ټول بشریت د لارښوونې لپاره راستول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلواکي

خپلواکي او ازادي د خدای ﷻ یو لوی نعمت دی، د ژوندانه یوه ستره نېکمرغي ده. انسان ازاد پیدا شوی او له ازادۍ سره مینه لري.

انسان ته خپلواک ژوند له هر څه نه غوره ښکاري. د خپلواکۍ یو ساعت د بلواکۍ له ټول عمر نه غوره دی. خپلواکي او د خپلواکۍ ساتل د هر ملت د ژوندانه یو بنیادي توکی دی. ازادي په توره اخیستل کېږي او په پوهه او تدبیر ساتل کېږي.

لکه چې خوشحال بابا ویلي دي:

ازادي تر پاچاهیه لا تېری کا

چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي

- خپلواکي څه ته وایي؟
- افغان ولس څنګه له انګریزانو څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړه؟
- د کوم پاچا په وخت او په کوم کال کې د افغانستان خپلواکي اعلان شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګرېزانو تر یرغل وروسته هم افغانستان یو اشغال شوی هېواد نه و. له یرغل سره سم افغانانو د خپلواکۍ لپاره سرښندونکې مبارزې پیل کړې. له انګرېزانو سره یې درې لویې جګړې وکړې او هیڅکله یې د هغوی ښکېلاک ته غاړه کښېښوده.

په ۱۲۹۸ هـ . ش . کال کې افغانانو د غازي امان الله خان په مشرۍ خپله سیاسي خپلواکي اعلان کړه او له اوږدو جګړو او بیا خبرو اترو وروسته انګرېزانو هم د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژندله.

افغانستان په ختیځ کې لومړنی هېواد و چې د نړۍ د هغه وخت له زبر ځواک (ستر قوت) یا انګرېزانو څخه یې د ډېرو سرښندنو په بدله کې خپلواکي تر لاسه کړه. افغانان د ختیځ د ډېرو هېوادونو او ولسونو لپاره د آزادۍ د اتلانو په توګه وپېژندل شول او د آزادۍ غوښتنې ولولې یې نورو ته هم ورورسولې.

خپلواکي د یو هېواد د خلکو حق دی، خو دغه حق باید په خپله ولسونه خپل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو له نېکه مرغه د خپل ټول تاریخ په اوږدو کې د دغه حق لپاره مبارزې کړي دي او تر لاسه کړی یې دی.

د بلواکۍ پر ضد مبارزه د انسان په خټه کې اغېزل شوې ده. د وطن احساس، د خپلواکۍ احساس او د آزاد ژوند احساس زموږ د ولس له سترو سپېڅلو څخه دی. نومیالی شاعر او لیکوال ګل پاچا الفت څه ښه وایي:

یو پټ غلی احساس دی چې آرام مې نه پرېږدي
په اوږه مې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرات مې زیاتوي دومره په ځان یمه پوه شوی
غافل له خپله حقه او غلام مې نه پرېږدي

زموږ ډېرو شاعرانو د خپلواکۍ په ارزښت او د آزاد ژوند په ستاینه کې شعرونه او نظمونه ویلي دي. په دغو شعرونو کې که له یوې خوا د خپلواکۍ ارزښتونه څرګند شوي دي، له بله پلوه دافغانانو هغو اوږدو مبارزو او سرښندنو ته هم درناوی شوی دی چې په ښلا ښلو دورو کې یې د یرغلګرو او ښکېلاکګرو په وړاندې کړي دي.

فضل احمد خان غر افغان وایي:

واورئ ای په مخ د ځمکې اوسېدونکو
له آسمانه چې آواز راځي د څه دی
د آزاد ژوند یو ساعت په حقیقت کې
د غلام د همېشه ژوندون نه ښه دی

د نومیالي لیکوال او شاعر شهید محمد موسیٰ شفیق د یو اوږد شعر څو برخې په دې ډول دي:

زه د آزادۍ د شمعې اوږته پروانه یمه
زده یمه تاریخ ته خوندوره افسانه یمه
تل د سمندر د زمانې کې درد انه یمه
موج مې جذبې وهي یو سیند بې کرانه یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تږ يمه له سرنه په ناموس او ننګ فدا يمه
داغ د آزادۍ نه کوم کرکه آزاد پا يمه
زه هغه غازي يم چې خو ځله شهيد شوی يم
بيا يم پيدا شوی که کوم ځلې فقيد شوی يم
موږ سره ټولي د يووالي په زنځير يو ټول
پوه د خپلې خاورې په تنظيم او په تدبير يو ټول
عشق د خپلواکۍ مې په سينه کې په هاها وي تل
پاک مې احساسات دي آزادي مې تمنا وي تل
خير د بشر غواړم امنيت مې تقاضا وي تل
ماسره چې نښلي بدبختي د هغه چا وي تل

رښتيني آزاد او ويښ ملتونه هغه دي چې د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته د خپل هېواد د جوړونې، بيا رغاونې، پرمختګ او د خپل ژوندانه د هوساينې لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې او هلې ځلې وکړي، ځکه رښتينې خپلواکي دا ده چې يو ملت په مذهبي، سياسي، اقتصادي، کلتوري او نورو ډګرونو کې پر ځان متکي وي.

د خپل ژوندانه د هوساينې لپاره په خپله کار وکړي، نورو ته د تمې سترګې ونه نيسي، د ځان، هېوادوالو او هېواد د روا حقونو څخه د دفاع توان ولري.

داکارونه هغه وخت کېدای شي چې د ملت ټول وګړي سره متحد او يو موټی وي. يو پر بل لورېنه ولري، يو د بل په غم غمجن او په خوښۍ يې خوښ شي. ملي ګټې پر شخصي ګټو غوره وګڼي يعنې که هغه ته زيان او تاوان رسېږي هغه پر ځان ومني، خو د هېواد او هېوادوالو ګټو ته زيان ونه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

خپلواکي او آزادي د خدای ﷻ يو لوی نعمت دی، د ژوندانه يوه ستره نېکمرغي ده. هر څوک د آزادۍ حق لري.

افغانانو د خپلواکۍ د ببرته اخيستلو په مبارزه کې له انګرېزانو سره درې لويې جګړې وکړې او په ۱۲۹۸ هـ . ش. کې يې د غازي امان الله خان د واکمنۍ په دوره کې خپله سياسي خپلواکي ببرته تر لاسه کړه.

خپلواکي په ملي يووالي او د ژوندانه په ټولو ډګرونو کې په زيار ګالنې سره ساتل کېږي. په ځانګړي ډول په اقتصادي ډګر کې بايد يو ملت دومره زيار وباسي چې نورو ته د تمې لاس وراوږد نه کړي، ځکه تمه ده چې له خپلواکو ملتونو څخه هم مريان جوړوي.

څرګندونې

ختيځ: په دې متن کې له ختيځ څخه موخه هغه سيمې او هېوادونه دي چې د نړۍ په ختيځه برخه کې پراته دي، لکه: د هند لويه نيمه وچه، جاپان، ايران د منځنۍ آسيا هېوادونه او نور...

زبرځواک: په ځانګړو وختونو کې ځينې هېوادونه له اقتصادي، سياسي او پوځي پلوه د نړۍ تر نورو ټولو هېوادونو ډېر پياوړي وي. دغوپياوړو هېوادونو ته د خپل وخت زبرځواک يعنې ستر قوت وايي، لکه په ۱۸ مه او ۱۹ مه پېړۍ کې لويه بريتانيا (انګلستان)، يا له دويمې نړيوالې جګړې مخکې جرمني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د متن ځینې برخې وار په وار ولولي او د آزادۍ په مفهوم دې ټولګیوالو ته خبرې وکړي.

۲ـ زده کوونکي دې په متن کې د راغلو شعرونو معنا په خپلو کتابچو کې وليکي او په ټولګي کې دې واوروي. هر زده کوونکی دې د یو، یو شاعر شعر په پام کې ولري، خو د شاعرانو د شعرونو وېش به د ښوونکي له خوا کېږي.

۳ـ زده کوونکي دې د (الف) بکس د لغتونو مترادف په (ب) بکس کې پیداکړي.

(الف)	(ب)
خپلواکي	غلام
آبادي	آزادي
بلواکي	غلامي
قرباني	سرښندنه
مریی	رغاونه

٤ـ افغانانو ولې دري ځلې له انګرېزانو سره جګړې وکړې؟

۵ـ په متن کې ستاینومونه (صفتونه) په نښه کړئ.

٦ـ د خپلواکو او ناخپلواکو ملتونو د حال په اړه خپل نظر څرګند کړئ.

۷ـ زده کوونکي دې د آزادۍ په اړه د کوم بل شاعر نثر او یا پښتو لنډۍ په ټولګي کې ووایي.

کورنۍ دنده

د خپلواکۍ د جګړې په اړه یو په زړه پورې مطلب وليکئ او بلې ورځې ته یې په ټولګي کې واوروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه عدالت

د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته د راشدينو خليفه ګانو دوره وه. لومړی خليفه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه، دويم حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، دريم حضرت عثمان رضي الله عنه او څلورم حضرت علي (کرم الله وجهه) و. دغه څلور واړه د رسول الله ﷺ د يارانو په نامه شهرت لري. په دې څلور واړو خليفه ګانو کې هر يو د يوې ځانګړنې له مخې ځانګړی شهرت لري.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت د چارو د ښې سنبالتيا او عدالت له امله ډېر مشهور دی چې تر اوسه يې د نړۍ کې بل ساری نه دی ليدل شوی.

- عدالت څه ته وايي؟
- که د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د عدالت يوه لنډه کيسه مو زده وي ويې وياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جهالت په دوره کې چې د عربو د ژوندانه هر ډګر ناپوهۍ او باطل پرستۍ نیولی و، ژوندۍ نجونې پکې ښخېدې، بتانو ته سجدې کېدې، غلاګانې، شوکې او قتلونه کېدل، د اسلام راتګ داسې یوه معجزه وکړه چې دغه خلک یې په ډېره لږه موده کې داسې سره متحد کړل چې د دنیا لوی لوی سلطنتونه یې د بیرغ په وړاندې سلامي شول.

څه دېاسه ۱٤ سوه کاله دمخه د عربستان په وچو شګلنو دښتو کې یو منظم او غښتلی امت جوړ شو په لږه موده کې یې د هغې زمانې سترو او ځواکمنو باطل پرستو سلطنتونو ته ماتې ورکړه. په شام، روم، فارس، افریقا، اروپا او د چین په ځینو ځایونو کې یې د توحید او حق پرستۍ رڼا خپره کړه. د عدل، انصاف او آزادۍ داسې یو نظام یې پکې پلی کړ چې دا نن یې هم په نړۍ کې ساری نه لیدل کېږي.

دا ټولې بریاوې د اسلام د پېغمبر حضرت محمد ﷺ د تعلیماتو او د هغه مبارک د یارانو او اصحابو د ایمانداری، صداقت، زیار او کوښښ له برکته د مسلمانانو په برخه شوې وې.

د رسول الله ﷺ یاران او اصحاب د اسلامیت او انسانیت غوره بېلګې او مثالونه دي. دوی نه یوازې د اسلام بلکې د انسانیت په تاریخ کې لوړ مقام لري. د نړۍ زیاتره پوهان، عالمان، فیلسوفان یا په بله وینا د علم او عقل خاوندان او حقیقت منونکي په دغه حقیقت اعتراف کوي.

نن هم که موږ مسلمانان د الله ﷻ په احکامو، د حضرت محمد ﷺ په لارښوونو او د اصحابو کرامو په کړنو عمل وکړو، نو ډېر ژر به وکولای شو چې د اسلام هغه پخوانی شان او شوکت یو ځل بیا راژوندی کړو.

حضرت عمر فاروق ﷺ د خطاب زوی او د رسول الله ﷺ د لویو اصحابو له ډلې څخه و.

حضرت عمر فاروق ﷺ ته د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ تر وفات وروسته په (۱۳ هـ . ق . کال) کې د خلافت واګې وروسپارل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت عمرﷺ د خلافت په وخت کې ډېر فتوحات وشول. ډېرې سيمې د اسلامي خلافت په واک کې راغلې. د ده په وخت کې د اسلامي خلافت په سيمو کې ډېر امن او امان و او وګړو په ډاډ سره ژوند کاوه. لامل (سبب) يې د حضرت عمر فاروق ﷺ سياست، تدبير او عدالت و. حضرت عمر فاروق ﷺ د اسلامي حکومت ستنې (چې حضرت محمد ﷺ ودرولې وې) داسې ټينګې کړې چې لرزېدل يې ناشوني وو. د اسلامي عدل پر بنسټ يې د خلافت چارې داسې تنظيم کړې چې د نړۍ هيڅ يو نظام ورسره سيالي نه شوه کولای.

حضرت عمر فاروق ﷺ د خپل خلافت په ټوله موده کې د يوه وېښته هومره هم له عدالته تېری ونه کړ. شتمن او غريبان، چارواکي او ولسي وګړي هغه ته د عدل او انصاف په بهير کې يو شان وو.

حضرت عمر فاروقﷺ يو ځل د حج په ورځو کې ټول چارواکي راوغوښتل، په عامه غونډه کې ودرېد او ويې ويل: که څوک له دوی څخه شکايت لري ودې وايي.

په دې غونډه کې د مصر والي عمروبن عاص ﷺ او نور لوی لوی چارواکي هم حاضر وو. يو کس ودرېد او ويې ويل: فلاني حاکم پرته له کوم جرمه سل درې ووهلم.

حضرت عمر فاروق ﷺ وويل: پاڅېره او خپل کسات تري واخله!

حضرت عمروبن عاص ﷺ وويل: ای اميرالمؤمنينه! په دې کار سره به ټول حاکمان بې زړه شي. حضرت عمر فاروق وويل: له دې پرته بله لاره نشته او عارض ته يې بيا وويل: راولاړ شه او خپل کسات تري واخله! عمروبن عاص د عارض څنګ ته ورغی او هغه يې په دې راضي کړ چې سل ديناره واخلي او له دعوې تېر شي.

يوه ورځ د قريشو مشران د حضرت عمر فاورقﷺ د ليدلو لپاره راغلل، صهيب، بلال، عمارﷺ او نور کسان لا د مخه حاضر وو چې زياتره يې آزاد شوي مريان وو. نوبت يې د مخه و، نو حضرت عمر فاروقﷺ لومړی آزاد شوي مريان خپل حضور ته ومنل او د قريشو مشران منتظر پاتې شول.

ابوسفيان چې د جهالت په وخت کې د خپلې قبيلې مشر و، داکار ورته ښه ونه ايسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېې ویل: سبحان الله! مریانو د خلافت له دربار اجازه وموندله او موږ انتظار باسو. د یو شمېر نور کسانو چې د ابوسفیان همفکره وو، دا کار خوښ نه شو، خو یو شمېر نورو د عدالت راز پېژندونکو وویل: موږ باید له حضرت عمر فاروق رضی الله عنه څخه شکایت ونه کړو، اسلام ټولو ته په یوه آواز بلنه ورکړه، څوک چې د خپلې بدمرغۍ له امله وروسته پاتې شول، نن هم باید وروسته پاتې شي.

د قادسیې له جګړې وروسته چې معاشونه ټاکل کېدل، ټول قبیلوي امتیازات یې له پامه وغورځول او یوازې اسلامي وړتیاوې یې په پام کې ونیولې، د اُسامه بن زید معاش یې د خپل زوی عبدالله تر معاش زیات وټاکه. عبدالله وویل: والله اُسامه په هیڅ جنګ کې تر ما نه دی مخکې شوی. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وویل: مګر هغه پر رسول الله ﷺ تر تا ډېر ګران و.

یو ځل د غنیمت مال راغی. اُم المؤمنین حضرت حفصه(رضی الله عنها) چې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه لور او د رسول الله ﷺ بي بي وه، خپل پلار ته ورغله او ویې ویل: څه چې زما حق وي رایې کړه! حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وویل: لورجانې! ته زما په ځانګړي مال کې حق لرې، دا د غنیمت مال دی، آیا ته غواړې چې پلار دې تېرى وکړي؟!

حضرت حفصه(رضی الله عنها) حیرانه شوه، له ځایه پاځېده او لاړه.

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په دوره کې د خلافت در بار ته د نژدې کېدو معیار یوازې عدالت او رښتینولي وه. وایي چې یوه ورځ عمر فاروق رضی الله عنه د خپل خلافت په دوره کې د شپې ګرځېده چې د خلکو له احواله ځان خبر کړي. سترې شو؛ یوه دېوال ته یې ډډه ولګوله، د انګړ دننه د یوې ښځې او نجلۍ خبرې اوربدل کېدې. ښځې نجلۍ ته وویل: لورې په شېدو کې اوبه واچوه.

لور یې وویل: ولې ته د امیرالمؤمنین له حکمه نه یې خبره چې هغه په دې کار بندېز لګولی دی.

مور یې بیا ټینګار وکړ: پاځېږه او په شېدو کې اوبه ګډې کړه، نه مو خلیفه وینې او نه د هغه کوم عسکر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور يې وويل: که خليفه مو نه ويني، نو الله ﷻ خو مو ويني، زه دا کار هيڅ کله نشم کولای چې مخامخ دې د هغه خبره ومنم او په پټه دې د هغه د خبرې خلاف کار وکړم.

په همدې سوال ځواب دا نجلۍ عمر فاروق ته ډېره سپېځلې ښکاره شوه، نو خپل زوی عاصم ته يې په نکاح کړه. له دې سپېځلې نجلۍ چې کومه لور وزېرېده، ام عاصم يې وبلله. ام عاصم د خليفه مروان زوی عبدالعزيز په نکاح کړه او عمر بن عبدالعزيز ترې وزېر شو، هغه ځوک چې يو ځل بيا يې د خپل نيکه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د عدالت بېلګه نړۍ ته وړاندې کړه.

د متن لنډيز:

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه داسې عادل خليفه و چې د ځوارلس سوو کالو په اوږدو کې د هغه په څېر بل عادل خليفه پيدانشو. د هغه په خلافت کې ټول انسانان له خپلو روا حقونو څخه برخمن وو. په هيڅا ظلم او تېری نه کېده او دڅا حق بل ته نه ورکول کېده. د اسلامي قوانينو په وړاندې ټول سره برابر وو.

مور هم بايد د رسول الله ﷺ او دهغه د اصحابو په امرونو او کړنو عمل وکړو. په ټولنه کې عدالت او ربښتينولي رامنځ ته کړو او د اسلامي وروروليۍ پر بنسټ د هر چا حق په پام کې ونيسو. دبې عدالتۍ مخه ونيسو او يوه با انصافه او عادله ټولنه جوړه کړو.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې د ښوونکي له لوستلو نه وروسته په وار سره متن ولولي او بيا دې هر يو د حضرت عمر رضي الله عنه د عدالت په اړه خبرې وکړي.

۲ــ زده کوونکي دې په متن کې راغلې پېښې په خپلو کتابچو کې وليکي او بيا دې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګي کې واوروي.

۳ـ زده کوونکي دې د لاندې لغتونو معنا د کتاب په پای کې پیدا او په جملو کې دې استعمال کړي.

رحلت خلیفه عدالت نظام

٤ـ زده کوونکي دې د راشدینو خلیفه ګانو نومونه په تاریخي ترتیب پخپلو ځایونو کې وليکي.

حضرت علي(کرم الله وجههُ)، حضرت عمر فاروق ﷺ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ، حضرت عثمان ﷺ.

۱ـ ..... ۲ـ ..... ۳ـ .....

٤ـ .....

٥ـ زده کوونکي دې د لاندې لغتونو ضد کلمې پیداکړي.

امن عدل شتمن مریی

٦ـ زده کوونکي دې په متن کې مفرد نارینه نومونه په نښه کړي.

۷ـ حضرت عمر فاروق ﷺ هغه بې وزله شپږ خرڅوونکې نجلۍ ولې خپل زوی عاصم ته په نکاح کړه؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په یوه ټولنه کې د عدل او انصاف پر ارزښت او اهمیت د کتابچې د نیم مخ په اندازه یو مطلب وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځو حقونه

زده کوونکي بايد په دې پوه شي چې ښځې زمور د ټولنې يوه برخه ده. د اسلام له نظره او هم د اساسي او مدني قوانينو له مخې بايد د ښځو حقونو ته په درنه سترګه وکتل شي.

د ښځو په مقابل کې هر ډول ناوړه سلوک او تاوتريخوالی د اسلامي قوانينو او د ټول بشريت له قوانينو او ارزښتونو سره مخالف ګڼل کېږي.

- تاسې د ښځو د حقونو په اړه څه معلومات لرئ؟
- که په ټولنه کې ښځه نه وای، نو څه به پېښ شوي وای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشر په حقونو کې د ښځو حقونو ته زیاته پاملرنه شوې ده. د نړیوالو ارزښتونو پربنسټ دولتونه مکلف دي چې د منل شویو اصولو له مخې د ښځې حقونو ته په درنه سترګه وګوري او د ژوند ټول امکانات ورته برابر کړي.

د بشري حقونو د نړیوالو ترونونو له مخې ښځې په ټولنیز او اقتصادي فعال ګډون کې له نارینه وو سره یو شان حقونه لري او په ټولنه کې له ټولو مادي او معنوي امتیازاتو څخه برخمنې کېږي.

ښځو ته د هغوی حقونه ورکول او درناوی کول، د هوسا، مترقي او خوشحاله ټولنې ضمانت کوي، ځکه چې متقابل احترام او غوره چلند د نارینه او ښځې تر منځ مینه او محبت را منځته کوي او د نېکمرغه ژوند لپاره لار هواروي.

د مدني قوانینو له مخې د ښځو د حقونو منل، هغوی ته دا امکان برابروي چې د هېواد په سیاسي چارو کې ګډون وکړي. آن تر دې چې د خپل هېواد مشران په خپله خوښه وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو ته د هغوی دحقونو د ورکولو په لړ کې دا هم باید ومنل شي چې هغوی دخپلو حقونو دلاس ته راوړلو لپاره دولتي ادارو ته لاړ ولري او هم د ضرورت له مخې وکړای شي چې وکیل ونیسي.

خدای پاک فرمایي چې (ښځې ستاسې لباس او تاسو د هغوی لباس یاست)، د لوی خدای ﷻ له دې وینا څخه څرګندېږي چې ښځه او نارینه یو د بل لپاره د جامو حیثیت لري. څرنګه چې جامې د انسان بدن پټوي او حیا یې خوندي ساتي، همداشان نارینه د ښځې او ښځه د نارینه لپاره د عیبونو د پټولو، نیمګړتیاوو کې یو له بل سره مرسته کوونکي دي، نو ویلای شو چې یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي.

زده کړه اوتعلیم هم د ښځو اسلامي او مدني منل شوی حق دی چې باید په پام کې ونیول شي.

له همدې امله د ښځو حقونه منل او هغوی ته د درنښت په سترګه کتل، د ټولنې د هر غړي ملي، اسلامي او بشري دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجربو دا ثابته کړې ده چې له ښځو سره ښه چلند او نېک خوی، هغوی دې ته اړباسي چې له نارینه وو سره په کړو وړو کې له ښه چلند نه کار واخلي.

له ښځو سره ناوړه سلوک د اسلام له نظره مردود او غندل شوی دی.

ښځه هغه موجود دی چې د ژوندانه په ټولو برخو کې له نارینه و سره اوږه پر اوږه برخه لري. ښځه مور ده او مور د ټولنیزو چارو په ټولو اړخونو کې شریکه ده. زموږ د هېواد یو زیات شمېر ښځې پر نورو برخو سربېره د ادب په برخه کې هم ستره ونډه لري. شعري ټولګې، ادبي نثرونه، ناولونه، ډرامې، کیسې او نورې راز، راز لیکنې یې ټولنې ته وړاندې کړي دي چې د ټولنې په سمون، اصلاح او رغاونه کې پوره اغېز لري.

د دې تر څنګه ښځینه لیکوالو او شاعرانو په خپلو اثارو کې د ښځو د حقونو غږ هم پورته کړی دی او د ښځو د ژوندانه ناخوالې یې په خپلو شعرونو او نثرونو کې انځور کړي دي چې په دې توګه یې د ښځو د ذهنونو په روښانتیا کې خپله دنده سرته رسولې ده. دلته د یوې لیکوالې مېرمن ((عظمت)) د نثر یوه بېلګه را اخلو چې پورتنۍ موضوع ته یې پکې انعکاس ورکړی دی.

ته لړم یې!

زه ښځه یم ته نارینه یې ... لیکن خبر یې چې ته څنګه نارینه شوې!؟

که ته فکر وکړې، نو یوه زمانه وه، داسې زمانه چې ته هیڅ هم نه وې ... هو ... ته هیڅ نه وې بالکل په نشت حساب وې.

ما تا له د خپل زړه غوښې او د ځیګر وینه درکړه. لوی انسان مې کړې، انسان مې درنه جوړ کړ. لیکن نن چې ته نارینه شوې، ستا په مټو کې زور پیدا شو، ته له مانه زما حق شوکوې. زما مرۍ خپه کوې او ما خورې، ولې!؟

صرف په دې وجه چې زه ښځه یم!؟ کمزورې یم!؟ او د خپلو مټو زور مې د زړه د غوښې او د ځیګر د وینې په شکل ستا مټو ته درکړی دی!؟ آیا دا نر توب دی!؟ ... دا انصاف دی!؟ ... دا انسانیت دی!؟ ... نه دا نرتوب دی، نه انصاف دی، نه انسانیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د لړم فطرت دی، لیکن ته لړم نه یې، انسان یې او زه ستا مور یم نو د دې لپاره ته د خپل انسانیت ثبوت ورکړه او خپله مور مه خوره.

ښځه په ټولنه کې داسې موجود دی چې له وجود پرته یې د ژوند دوام او بقا امکان نه لري، نو په کار ده چې د اسلامي لارښوونو او مدني قوانینو په رڼا کې د هغوی حقونو ته په درنه سترګه وکتل شي.

د متن لنډیز:

تاسو په پورتني لوست کې ولوستل چې ښځې د اسلامي او مدني قوانینو له مخې دکورنۍ او هېواد په برخلیک کې مهمه ونډه لري. ښځه او نارینه یو له بل پرته نیمګړي دي. ښځې د ټولنې نیمایي برخه جوړوي او په ټولنیزو او اقتصادي چارو کې له نارینه وو سره برابره ونډه لري. د ملي، اسلامي او بشري قوانینو او ارزښتونو له مخې د ښځو حقوقو ته ډېره پاملرنه لا زمه ده.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې پورتنی لوست په وار سره د کتاب له مخې ولولي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

۲ــ لاندې جملې بشپړې کړئ.

ښځې ستاسو ..... او تاسې د هغوی ..... یاست.

ښځه د ټولنې ..... برخه جوړوي، جنت د ..... تر پښو لاندې دی.

۳ــ زده کوونکي دې له متن څخه د ښځو حقونه په نښه کړي او ودې شمېري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤ـ زده کوونکي دې د متن سخت لغات په وار سره پر تخته وليکي او نور زده کوونکي دې د هر لغت د معنا په اړه خبرې وکړي.

٥ـ زده کوونکي دې په متن کې مؤنث نومونه په نښه کړي او د (ی) ګانو سمه بڼه دې هم په پام کې ولري او په خپلو کتابچو کې دې وليکي .

٦ـ زده کوونکي دې د مېرمن ((عظمت)) د نثر بېلګه په لوړ غږ ولولي او بيا دې مفهوم په خپلو خبرو کې ووايي.

کورنۍ دنده

د ښځو د حقونو په اړه په کور کې يو لنډ مطلب وليکئ او بله ورځ يې په ټولګي کې واوروئ.

عادل قاضي

يوه ورځ يو سړی قاضي ته راغی او له خپل ملګري څخه يې ورته سر وټکاوه.

خپله دعوه يې ورته په زور او زبر او ډېر مهارت وويله، نو قاضي وويل:

ته په حقه يې.

بله ورځ د هغه سړي ملګری راغی هغه هم قاضي ته خپله دعوه په ډېر مهارت بيان کړه، قاضي وويل:

ته په حقه يې.

د قاضي ښځې چې دا دواړه قضاوتونه واوربدل، نو و يې ويل:

سړيه! دا څه قضاوت دی چې ته يې کوی، دا دواړه کسه په حقه کېدای شي! ؟

قاضي وويل:

بلې سمه ده، ته هم په حقه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي يووالی

ملت د يوه بڼ مثال لري. په بڼ کې ډېرې او بېلا بېلې ونې وي، هره ونه جلا ګل او جلا مېوه نيسي او هره مېوه جلا ګټې او ځانګړی خوند لري.

لکه بڼ چې له يوې ويالې اوبه کېږي، يو ملت هم ديوه حکومت له خوا اداره کېږي. د يوه هېواد د مېشتو قومونو مجموعې ته ملت ويل کېږي. يو ملت هغه وخت د هوسا او سوکاله ژوند خاوند کېدای شي چې متحد او يو موټی وي.

د ملي يووالي په اړه په دې لوست کې د ګل پاڅا الفت يو شعر تاسو لولئ. په دغه شعر کې ملت داسې يو باغ ګڼل شوی چې بېلا بېلې ونې يې د ښايست او رنګينۍ بېلګې دي.

- ملي يووالی څه ته وايي او څه ګټې لري؟
- که په يوه ملت کې يو والی نه وي، زيانونه يې څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه باغ کې وې ولاړې ډېرې ونې
هره پانه یې لایق وه د ستاینې
د دوی نیلې یو له بله وې ترلې
غوږ په غوږ یوه چمن کې اوسېدلې
دغه واړه د یوه دهقان د لاس وې
لکه گوتې د یوه لاس تیت و پاس وې
هر یوې بیله مېوه او بیل یې نوم و
رنگ او خوند کې یې توپیر ښکاره معلوم و
مگر دوی لکه د یو گلشن گلونه
یو له بله نژدې کړي وو لاسونه
خوا په خوا غاړه په غاړه خوله په خوله وې
له یوې خاورې پیدا د یوه کاله وې
د دې تولو یو خزان او یو بهار و
ښه او بد یې وو شریك یو یې واګدار و
په حقوقو کې یې هیڅ نه و توپیر
باغبان و په هرې ونې ډېر زهیر
له یوې ویالې اوبه وړته راتللې
په یوه هوا کې تولې لویېدلې
یو له بله یې هر حال کې شرکت و
په تمـــامه معنا یو صحیح ملت و

اروابنادگل پاچا الفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاعر لنډه پېژندنه:

پورتني شعر چې د ملي يووالي يوه ښه بېلګه او ښه انځور يې وړاندې کړی دی، د ګل پاچا الفت دی. الفت د معاصرو ادیبانو، لیکوالو او شاعرانو په ډله کې د یوه ځانګړي مقام خښتن دی. ډېر کتابونه يې په نثر کې ليکلي دي. شعري کلیات يې په افغاني ټولنه کې ډېر مشهور دي. شعرونه يې تل ژوندی ښه لري. له هر وخت او حالاتو سره سمه شاعري ده. نثرونه يې ډېر ښه او ژور مفهومونه او پیغامونه لري. د الفت نثرونه د ټولو خوښېږي.

د متن لنډیز:

د ملت ټول وګړي د اساسي قانون په وړاندې برابر دي. یعنې توکم، ژبه، رنګ او مذهب يې په پام کې نه نیول کېږي.

ټول د اساسي قانون له ښېګڼو برخمن وي. که یو هېواد یو کور وبولو، نو وګړو ته يې ملت ویلای شو. ژوندي ملتونه خپل ملي ارزښتونه لکه ملي دودونه او روایات، ملي ادب او ملي ژبه، ملي ذوقونه، ملي اخلاق، ملي موسیقي او نور په ډېره ښه توګه ساتي. یو مهذب ملت له نورو ملتونو څخه علم، فن او صنعت اخلي، خو خپلې ملي ځانګړنې ساتي.

د افغانستان قومونه په ګډه افغان واحد ملت جوړوي. هر څوک چې د افغانستان تابعیت ولري، افغان بلل کېږي، یعنې د افغان کلمه د افغانستان هر وګړي ته ویل کېږي.

افغان واحد ملت له بېلا بېلو قومونو څخه جوړ دی. په افغانستان کې مېشت قومونه ټول یو له بله سره وروڼه دي. په خپلو منځو کې ښې اړیکې لري. د افغانستان د ډېرو ولایتونو په بېلابېلو سیمو او بېلابېلو کلو کې د افغان واحد ملت بېلا بېل توکمونه اوسېږي او په ډېرې خوشحالۍ ګډ ژوند سره کوي.

په ځانګړې توګه د ګل پاچا الفت شعر هم د ملي يووالي مفهوم څرګندوي. شاعر ملي يووالی له یوه باغ سره تشبیه کړی، لکه څنګه چې په باغ کې مختلفې ونې وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببلا ببل رنګونه او مېوې لري، خو بيا هم له يوې ويالې څخه اوبه کېږي او يو له بل سره پيوند لري، همداسې په يو هېواد کې هم ببلا ببل قومونه ژوند کوي، خو د يو واحد ملت په نامه يادېږي. د دوی ګټه او تاوان، غم او خوشحالي او ويارونه سره شريک وي، يو له بله هيڅکله نه شي ببلېدای.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې له ښوونکي وروسته په خپل وار سره شعر ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې د شعر مفهوم په کتابچو کې وليکي او په وار سره دې په ټولګي کې ولولي.

۳ـ زده کوونکي دې په شعر کې ارتباطي کلمې پيدا او په خپلو کتابچو کې وليکي لکه: ونه ـ پاڼه...

٤ـ ښوونکی دې زده کوونکي په دوو ډلو ووېشي، هره ډله دې د شعر يو يو بيت ووايي او بله ډله دې هغه معنا کړي.

٥ـ زده کوونکي دې د ملي يووالي په مفهوم لنډې خبرې وکړي.

٦ـ زده کوونکي دې د لاندې کلمو د جمع شکل وليکي:

۱ـ چمن ۲ـ توپير ۳ـ واکدار ٤ـ ملت

۷ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې استعمال کړي:

نيلې، زهير، توکم، مذهب

کورنی دنده

زده کوونکي دې د ملي يووالي په اړه يوه لنډه ليکنه وکړي او هغه دې سبا ته په ټولګي کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

د ماینونو او ناچاودو توکو د ښنو پېژندنه

زمونږ ګران هېواد افغانستان د تېرو جګړو په کلونو کې د تباهیو او ویجاړیو ډګر و. د دغو جنګونو بېلا بېلو خواوو د خپلو مخالفینو د له منځه وړلو او مخنیوي لپاره تل ماینونه ښخول. د کلونو په اوږدو کې پر دغو ښخو شوو ماینونو بوټي راشنه شوي، باد و باران پرې شګې او خاورې اړولي دي. په دې ډول دغه خطرناک او وژونکي ځیزونه د انسان له سترګو پټ دي، خو خطر یې زیات دی، انسان او حیوان ټپي کولای او وژلای شي.

د دې لپاره چې د دغه وژونکي ځیز له خطره ځان او خپله ټولنه وژغورو، باید د ماینونو نښې وپېژنو او نورو ته یې هم ور وښیو.

- تاسو ماین پېژنئ؟
- تاسې د ماین په اړه څه معلومات لرئ؟
- ماین لرونکي سیمې او له ماین څخه پاکې شوې سیمې په کومو رنګونو نښه کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماینونه او ناچاودي توکي په هرځای کې پیدا کېدای شي. ډېره سخته او ناشونې ده چې ماینونه په سترګو ولیدل شي.

که چېرې تاسو په یوه داسې سیمه کې ژوند کوئ چې ماین پکې وي او یا د ماینونو په سیمه کې تګ راتګ کوئ، نو باید تل مو د ماینونو د علامو او د خطر نښو ته پام وي.

درې ډوله علامې د ښکلا ښکلو سیمو لپاره موجودې دي :

۱ـ رسمي علامې یا نښې:

هغه علامې دي چې د ماین پاکۍ د دفتر له خوا ایښودل شوې دي او درې رنګونه لري:

- سرې رنګ شوې ډبرې د ماینونو د خطر نښه ده.
- ابي رنګ شوې ډبرې د ناچاودو توکو د خطر نښه ده.
- سپینې رنګ شوې ډبرې د پاکې سیمې نښه ده.

یادې شوې نښې کېدای شي چې پر ډبوالونو، د جګړې په لومړۍ کرښه، د سړک ترڅنګ، ړنګو شویو ودانیو او نورو سیمو کې وکارول شي.

په ځینو سیمو کې ځینې سیمې ستنې لیدل کېږي چې یوه خوا یې سره او بله خوا یې سپینه رنګ شوې وي. سره خوا د خطر او سپین اړخ یې د پاکې سیمې نښه ده.

۲ـ نارسمي یا سیمه ییزې علامې یا نښې:

هغه علامې دي چې د خلکو له خوا ایښودل شوي دي، لکه:

- د ډبرو او خاورو کوټ یا څلی.
- هغه نښه چې له لرګي او یا تیږې څخه جوړه شوې او د خطرناکې ساحې پر لور د اشارې په شکل ایښودل شوې وي.

- لرګي، د ونې ښاخونه او نور شیان چې سړک یې بند کړی وي.
- هغه ډبرې چې د سړک او لارې پر غاړه ایښودل شوې وي.
- د چلیپا نښه چې له لرګیو یا نورو شیانو څخه جوړه شوې وي او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ د ماینونو او ناڅاودو توکو د موجودیت احتمالي سیمې:

- هغه سیمې چې مخکې د جګړې سیمې وي.
- د ځارویو څرمن او یا هډوکي.
- نظامي مورچې او څار ځایونه.
- وچ بوټي او هغه ځمکې چې بنې یې بدلون موندلی وي.
- د وسلو او کارتوسو صندوقونه، کارتوس اود پوځي وسایلو خراب شوي پاتې شوني (بقایا).
- د سیمونو ټوټې او اغزي لرونکي سیمونه.
- هغه لارې او سړکونه چې کار ترې نه اخیستل کېږي.

د لوست اصلي پیغام:

سړې رنګ شوې ډبرې د ماین د خطر، ابي رنګ شوې ډبرې د ناڅاودو توکو د خطر او سپینې رنګ شوې ډبرې د پاکې سیمې نښې دي.

زده کوونکي دې دغه نښې په پام کې ولري او د کور نور کسان او همزولي دې هم په دغو خطرونو پوه کړي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په وار سره ولولي او د ماینونو په اړه دې د درس مفهوم په لنډه توګه ووایي.

۲ـ زده کوونکي دې د لاندې رنګونو په اړه یوه یوه کرښه ولیکي چې دغه رنګونه د څه لپاره دي:

۱ـ سور ۲ـ سپین ۳ـ ابي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳_ د مایننو او ناچاودو توکو احتمالي سیمې په ګوته کړئ.

۱_ .....

۲_ .....

۳_ .....

٤_ زده کوونکي دې په وار سره د مایننو په اړه د خپلې سیمې معلومات او پېښې وړاندې کړي.

٥_ زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو په پنسل ډک کړي:

- سرې رنګ شوې ډبرې چې د ..... د خطر نښه ده.
- ابي رنګ شوې ډبرې چې د ..... د خطر نښه ده.
- سپینې رنګ شوې ډبرې د ..... نښه ده.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د مایننو د پېښو په اړه له خپلې سیمې څخه د کیسې په ډول څو کرښې ولیکي، یعنې که د ماین د چاودلو په اړه یې کومه کیسه اوربدلې وي، یا یې په خپلو سترګو لیدلې وي، په لنډه توګه دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر شېر علي خان واکمني او د پښتو ژبې وده

امیر شېرعلي خان د افغانستان په معاصر تاریخ کې یو مشهور واکمن دی. د امیردوست محمد خان زوی دی او دوه ځله یې پاچاهي کړې ده.

امیر شېر علي خان علم پالونکی او ترقي خوښوونکی پاچا و. د افغانستان په معاصر تاریخ کې لومړنی پاچا دی چې د پښتو ژبې د علمي او عملي پرمختګ لپاره یې کار کړی دی.

پښتو یې په پاچاهي دربار کې روزلې ده. د ده په دوره کې پښتو کتابونه چاپ شوي او د دې ژبې د ودې او پراختیا لپاره هلې ځلې شوي دي.

- د امیر شېر علي خان د واکمنۍ په وخت کې کوم پرمختګونه وشول؟
- امیر شېرعلي خان پښتو ژبې ته کوم خدمتونه کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر دوست محمد خان تر مړینې وروسته چې د هغه زوی امیر شېرعلي خان واکمن شو، په هېواد کې د واک پر سر شخړې روانې وې. امیر شېرعلي خان له دغو ستونزو سره سره په خپله دوره کې د هېواد د ترقۍ او علمي سطحې د لوړولو لپاره هڅې کړې دي.

د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ په وخت کې لومړی ځل له هند څخه د چاپ لیتوګرافۍ (ډبرین) ماشینونه راوړل شول. په دې ماشینونو یې کتابونه، جریدې، نور مطبوعات او دولتي پاڼې چاپولې. په کابل کې د امیر شېرعلي خان په وخت کې دوه مطبعې جوړې شوې، یوه یې د شمس النهار او بله د مصطفاوي په نامه یادېده.

د امیر شېر علي خان په وخت کې د شمس النهار جریدې خپرېدل پیل شول. د شته معلوماتو له مخې دا په معاصر افغانستان کې لومړنۍ جریده وه. دې جریدې د نوي فکري غورځنګ د ودې لپاره مطالب خپرول. دغه نوی فکري غورځنګ د سید جمال الدین افغان او سید نورمحمد شاه له خوا رامنځته شوی و.

امیر شیر علي خان د پښتو ژبې ودې ته ځانګړې پاملرنه درلوده. د ده په وخت کې ځینې عسکري کتابونه له انګرېزي څخه پښتو ته وژباړل شول، لکه : پلی (پیاده) یو عسکري کتاب دی چې موضوع یې د عسکرو تمرین او قواعد دي. دغه کتاب قاضي عبدالقادر پېښوري پښتو ته ژباړلی دی او په ۱۸۷۲ میلادي کال د کابل په بالا حصار کې چاپ شوی دی.

د عسکري قواعدو یو بل کتاب له انګرېزي ماخذونو څخه محمد ابراهیم خان ژباړلی دی. د دې کتاب یوه نسخه د امیر حبیب الله خان په مهر د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خطي نسخو په کتابتون کې خوندي وه.

د امیر شېرعلي خان په وخت کې ځینې دیني، مذهبي او تعلیمي کتابونه هم لیکل شوي دي، لکه: د فیض محمد اخونزاده ((روضةالمجاهدین)) او د دوست محمد خټک ((تفسیر بدرمنیر او بحر العلوم)).

فیض محمد اخونزاده د روضةالمجاهدین په پای کې د امیر شېرعلي خان ستاینه په دې ډول کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جهان کې ډېر ساعي یم
د تمام اسلام داعي یم
نور چاکړي کتابونه
په جهان کې تصنیفونه
ماکړ دا بحث بیان
په پارسو پښتو عیان
دا امیر د دین مجلي
مسمّی په شېر علي

دوست محمد خټک د همدغه وخت یو بل لیکوال او شاعر دی. د نوموړي د نسب لړۍ د خوشحال خان بابا تر کورنۍ رسېږي. دوست محمد خټک د ((تفسیر بدرمنیر او بحرالعلوم)) په نامه کتابونه په همدغه وخت کې لیکلي دي. دوست محمد خټک د بحرالعلوم کتاب د امیر شېر علي خان په نامه داسې پای ته رسولی دی:

د امیر د شاهۍ زور دی
عالم ده وته نسکور دی
په کابل کې جانشین دی
حکمرانه یې نکین دی
کندهار او هرات دینه
چې د ده حکمونه وړینه
پسې بلخ دی برادره
تر خیبره بهره وره
له امیر دوست محمد خانه
دی خلف دی قدر دانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورمحمد نوري ((کندهاری)) هم د امیر شېرعلي خان د وخت یو ښه لیکوال دی. نومورې په سندهي، عربي، انګلېسي، پارسي او اردو ژبو ښه پوهېده. نورمحمد نوري د ((تحفة الامیر)) په نامه کتاب په ۱۲۸۲ هـ . ق . کال کې بشپړ کړی، دا د پښتو ژبې ګرامر دی چې په پارسي ژبه لیکل شوی دی. ((ګلشن امارت)) د نوري یو بل تاریخي کتاب دی چې په ۱۲۸۷ هـ . ق . کال کې په پارسي لیکل شوی دی او په ۱۳۳۵ هـ . ش . کال کې په کابل کې چاپ شوی دی. نوري ((د افغانستان تاریخ)) په نامه یو بل کتاب هم لیکلی دی.

امیر شېرعلي خان امر کړی و چې ټول عسکري تمرینونه باید په پښتو وي. د دې امیر په وخت کې به تعلیماتنامې، لیکونه او فرمانونه هم ټول په پښتو لیکل کېدل.

امیر شېر علي خان په خپل وخت کې ټول عسکري القاب، بولې (قوماندې) او عناوین په پښتو کړل، لکه:

رتبه	پښتو لقب
سپه سالار	ټول مشر
نایب سالار	سر غټ مشر
جرنیل	غټ مشر
برګډ	پنځر (پنځه زر) مشر
صوبه دار	بلوک مشر
کرنیل	زرمشر
کپتان	سل مشر
حواله دار	لس مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملکي مامورينو القاب داسې پښتو شوي دي.

رتبه	پښتو القاب
صدراعظم	لوی مختار
خارجه وزير	لوی معين د باندې
حشمت الملک	لوی معين د غرو
مستوفي	لوی ملک
دبيرالملک	لوی کښلی

د متن لنديز:

امير شېر علي خان يو علم پالونکی او ترقي خوښوونکی پاچا و. ده له هند څخه د چاپ ډبرين ماشينونه راوړل او د کتابونو، جريدو او دولتي پانو په خپرولو يې پيل وکړ. په کابل کې يې دوه مطبعې جوړې کړې چې يوه يې د شمس النهار او بله يې د مصطفاوي په نامه يادېده. امير شېر علي خان په خپل وخت کې ټول عسکري القاب او بولي (قوماندې) په پښتو کړې.

امير شېرعلي خان د پښتو ژبې له ودې او پرمختګ سره ځانګړې مينه لرله.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي.

- د امير شېرعلي خان په وخت کې په کابل کې کومې مطبعې جوړې شوې؟ نومونه يې واخلئ.
- د امير شېرعلي خان په وخت کې پلی کېدونکی نوی فکري غورځنګ د چا له خوا رامنځته شوی و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

◆ د امير شېرعلي خان په وخت کې کوم ديني او مذهبي کتابونه د چا له خوا وليکل شول؟

۲ـ زده کوونکي دې هر يو په وار سره متن په لوړ آواز ولولي او نور دې ورته غوږ ونيسي.

۳ـ د لاندې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو په پنسل ډک کړئ:

په کابل کې د امير شېرعلي خان په وخت کې دوه مطبعې جوړې شوې، يوه د .....او بله د ..... په نامه يادېده.

امير شېرعلي خان په خپل وخت کې ټول عسکري ..... پښتو کړل.

٤ـ زده کوونکي دې په دوو ګروپونو ووېشل شي، د هر ګروپ استازی دې په وار سره د درس مفهوم ووايي او نور دې ترې پوښتنې وکړي.

٥ـ زده کوونکي دې مفرد ، مؤنث او جمع مؤنث نومونه له متن څخه راوباسي او په ټولګي کې دې ولولي.

٦ـ د امير شېرعلي خان په وخت کې دغه لاندې کتابونه ليکل شوي، زده کوونکي دې د هر کتاب مخ ته د هغه د ليکوال نوم وليکي:

۱ـ روضة المجاهدين

۲ـ تفسير بدر منير

۳ـ بحر العلوم

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو معلوماتو له مخې په خو کرښو کې د امير شېر علي خان تر دورې راوروسته د پښتو د ودې په اړه لس لس کرښې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورستان

د لوی ننګرهار نوم به مو له خپلو مشرانو اورېدلی وي. لوی ننګرهار د افغانستان په ختیځ کې پروت دی. یو وخت د مشرقي د اعلٰی حکومت په نامه یادېده.

په لوی ننګرهار کې په خپله اوسنی ننګرهار، کونړ، لغمان او اوسنی نورستان ټول شامل وو.

بیا وروسته لغمان او کونړ د جلا ولایتونو په توګه ومنل شول، خو د نورستان ډېره برخه لا تر وروستیو پورې په کونړ او څه یې په لغمان پورې تړلې وه چې بیا د یو مستقل ولایت په توګه ومنل شو.

راځئ چې د خپل هېواد دغه غرنۍ سېمې او سمسوره سیمه او وګړي لږ وپېژنو.

- تاسې د هېواد د ختیځو ولایتونو په اړه څه معلومات لرئ؟
- د نورستان کومې ځانګړنې تر ټولو زیاتې په زړه پورې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان ۳٤ ولایتونه لري، یو یې نورستان دی چې په دې وروستیو کې د ولایت په توګه منل شوی دی. د نورستان زیاتره برخې، لکه: کامدېش، برګمټال، وایګل دره، واما او پارون پخوا په کونړ ولایت پورې او یو څه برخې یې په لغمان ولایت پورې ترلې وې.

نورستان په عمومي ډول په درېو برخو وېشل کېږي: ختیځ نورستان چې کامدېش او برګمټال پکې راځي. مرکزي نورستان چې وایګل دره، واما، پارون او کانتیوا پکې راځي او غربي نورستان چې دواب، نورګرام او منډول ولسوالۍ په کې شاملې دي.

د نورستان پخوانی نوم کافرستان و او د امیر عبدالرحمان خان تر واکمنۍ پورې یې وګړو ځانګړی دین درلود. د دغه دین پیروان لاتر اوسه د چترال په یوه سیمه کې پاتې دي چې کلش یې بولي.

نورستان ډېر سمسور غرنی ولایت دی. زیاتره غرونه یې په طبیعي ځنګلونو پټ دي، هوا یې په اوړي کې ډېره معتدله او په ژمي کې سړه ده. نښتر، سروه، کاچل، سرپ څېړۍ، غوړه څېړۍ، ښوون، چناررنګی، وړښتی (غرنی بادام) انار او نورې یې هغه غرنۍ ونې دي چې په خپله راشنې کېږي.

غوز، توت، مرخنۍ، منه، خوبانۍ (زردالو) ناک، انځر، شفتالو او نورې یې هغه ونې دي چې کښېنول کېږي. همدغو ونو بوټو او ځنګلونو نورستان ته ډېره ښکلا ښېلې ده. نورستان ډېر خوږونه، چینې او سیندونه هم لري. لنډی سیند، د پېج سیند او د الینګار سیند د نورستان له غرونو څخه سرچینه اخلي. دغه غرونه د ختیځ هندوکش د غرونو لړۍ ده.

همدغو ځنګلونو، ونو، بوټو او خوږونو د څارویو د روزنې لپاره ښه او مناسب څرګ ځایونه رامنځته کړي دي، ځکه خو نورستان د څارویو په روزنه کې ځانګړی شهرت لري. غواوې، غوایان، ګدان، میږې، سپرلي او وزې یې مشهور څاروي دي.

د نورستان ولایت زیاتره برخه غرونو نیولې ده. د کرکیلې ورځمکې یې بېخې لږې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوار، غنم، اوربشې، ږدن، لوبيا او کچالو يې مهم حاصلات دي.

د يادونې وړ ده چې په نورستان کې په دوديز ډول د کرکيلې چارې د ښځو او د ځارويو د روزنې چارې د نارينه وو پر غاړه دي.

د نورستان ولايت مرکز پارون دی. نورستان د هندوکش د غرونو په لړۍ کې پروت دی، همدا لامل دی چې له يوې درې بلې درې ته تګ راتګ زياتره بايد پلی وي او د ژمي په موسم کې ناشونی وي. دا طبيعي خنډونه د دې لامل شوي چې د نورستانيانو ترمنځ اړيکي لږې کړي او ورو ورو په نورستاني ژبه کې لهجې رامنځته کړي او د وخت په تېرېدو په جلا ژبو واوړي.

نورستانيان يو اريايي تبر دی چې تر اوسه يې د لرغوني آريايي ژوندانه ډېر څه ساتلي دي. نورستانيان ځانګړي دودونه لري. عام لباس يې پرتوګ، کميس او پکول دی. ګډين، ګنډی، ډيګره او پايتاوې يې ځانګړی لباس دی.

د نورستان کلي زياتره دهسکو غرونو په لمنو کې جوړ شوي دي. د غوزانو، مرخنو، انګورو او توتانو بڼونه او بهاند خوړونه يې د کلو ښکلا لا زياتوي. له غوزانو پرته د نورستان نورې مېوې د خرڅلاو بازار ته نه وړاندې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرګندوني

۱ـ ګډ ين: پېړ وړين پرتوګ دی چې تر زنګانه پورې وي او نارينه يې د پرتوګ له پاسه اغوندي.

۲ـ ګنډۍ: د کورتۍ په څېر، خو ساده وي جېبونه نه لري او له وړيو پرته نور څه پکې نه وي کارول شوي.

۳ـ ډيګره: ګنډۍ او ډيګره دومره توپير لري چې ګنډۍ ساده وي او د ډيګرې د لستوڼو چاپېره او ګرېوان رنګه او ګلدار وي. تر ګنډۍ يو څه لنډه هم وي.

٤ـ پايتاوې: يوه پېړه اوږده او پلنه وړينه پټۍ وي چې په ونو بوټو او غرونو کې يې د پنډيو د ژغورنې او د سترپا د مخنيوي لپاره تر پنډيو تاووي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

نورستانیان یو آریایي توکم دی. ډېرې لرغونې آریایي ځانګړنې یې لا تر اوسه ساتلې دي. د کونړ، چترال، بدخشان او لغمان په منځ کې د هندوکش د غرونو په ختیځو لړیو کې اوسېږي. د امیرعبدالرحمان خان د واکمنۍ پر مهال یې د اسلام سپېڅلی دین منلی دی. د خلکو کسب یې زیاتره د څارویو روزنه او کرکیله ده.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په لوړ غږ ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

۲ــ زده کوونکي دې د متن لنډ مفهوم په خپلو خبرو کې ووایي، که ځواب نیمګړی وي، بل زده کوونکی دې هغه بشپړ کړي.

۳ــ زده کوونکي دې له متن څخه د ونو او مېوو نومونه په خپله کتابچه کې ولیکي او بیادې هغه په ټولګي کې واوروي.

٤ــ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته لنډ لنډ ځوابونه ووایي:

- په نورستان کې د کار وېش څه ډول دی؟
- په نورستان کې کومې غلې دانې کېږي؟ نومونه یې واخلئ.
- په متن کې مو کومه برخه خوښه ده او ولې؟ خپل نظر څرګند کړئ.

۵ــ د نورستان مرکز په نښه کړئ او له سم ځواب نه په پنسل کرښه چاپېره کړئ :

الف ــ وایګل ب ــ برګمټال ج ــ کامدېش د ــ پارون

٦ــ په خپلو کتابچو کې لاندې مفرد نومونه په جمع او جمع نومونه په مفرد واړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفرد نوم	جمع نوم
۱_ غوز.....	۱_ ولایتونه .....
۲_ منې.....	۲_ ځنګلونه .....
۳_ توت	۳_ کچالو .....
٤_ سیند	٤_ خندونه .....
٥_ لمنه	٥_ ځمکې .....

کورنۍ دنده

د نورستان د خلکو د دودونو په اړه له خپلو مشرانو څخه معلومات تر لاسه کړئ او په یو مخ کې یې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند ربښتين ادبي څېره



زموږ د ادبياتو په معاصر تاريخ کې ځينې داسې نومیالي څېرې شته چې د پښتو ژبې د معاصر ادب پنځه ستوري يې بولي.

دغه پنځه ستوري: پوهاند عبدالحی حبيبي، قيام الدين خادم، استاد گل پا چا الفت، عبدالرؤف بېنوا او پوهاند صديق الله ربښتين دي چې د معاصر ادب بنسټونه يې ايښي او په ژبه او ادب کې ځانګړی مقام لري. په دې درس کې به د پوهاند صديق الله ربښتين په اړه معلومات ولولئ.

۱ـ د پښتو ادب د معاصرې دورې د دغو پنځو ستورو په اړه څومره معلومات لرئ؟

۲ـ پوهاند صديق الله ربښتين د پښتو ژبې او ادب په کومو برخو کې کتابونو ليکلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند صدیق الله رښتین د افغانستان د معاصرو لیکوالو په ډله کې نومیالی لیکوال او ادیب دی. صدیق الله رښتین د مولوي تاج محمد زوی دی او په ۱۲۹۸ هـ . ش. کال د مومندو د ((سره کمر)) په یوه علمي کورنۍ کې زېرېدلی دی. لومړۍ زده کړې یې په خپله کورنۍ کې کړې دي. نورې زده کړې یې د ننګرهار د هډې (نجم المدارس) په مدرسه او د کابل په عربي دارالعلوم کې سرته رسولي دي.

پوهاند رښتین په ۱۳۱۸ هـ . ش. کې د پښتو ټولنې په غړیتوب منل شوی دی. دا یې د رسمي دندې پیل دی او بیا یې ببلا ببلې دندې ترسره کړي دي. په پښتو ټولنه کې د قواعدو د څانګې مدیر، د پښتو ټولنې مرستیال، د پښتو ټولنې لوی مدیر او بیا رئیس و. په ۱۳۳۵ هـ . ش. کال کې د پوهنې وزارت مشاور او د ادبیاتو پوهنځي استاد مقرر شو.

پوهاند رښتین پر پښتو سربېره په دري، عربي او اردو ژبو هم ښه پوهېده. په دغو ژبو یې یو شمېر مقالې لیکلي او خپرې کړې دي. هغه په ببلا ببلو علمي موضاعاتو لکه: ګرامر، د ادبیاتو تاریخ، هنري نثر او نورو کې په لس ګونو کتابونه لیکلي دي چې ځینې یې دا دي:

د پښتو ادب تاریخ، پښتو ادبیات (رساله)، پښتانه شعراء دویم ټوک، د پښتو نثر هنداره، د پښتو ادب دري مشهورې کورنۍ، پښتو ګرامر په دري ژبه، پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، پښتو ژبښودنه، د پښتو او سانسکریټ نژدېوالی، پښتو څېړنه، د هند سفر، د ننګرهار او قطغن سفر، د مصر سفر، د شوروي اتحاد سفر، نومیالي پوهان او غازیان، پیاوړي شاعران، روښان ستوري، ادبي او تاریخي سمونې او نور.

د پوهاند رښتین د چاپ او ناچاپ کتابونو شمېر څه د پاسه اتیاوو ته رسېږي. همدارنګه یې په سلګونو مقالې په ببلا ببلو خپرونو کې خپرې شوې دي. نومورې د لیکوالۍ په پیل کې شاعري هم کړې ده، خو وروسته یې یوازې نثر ته مخه کړې ده او په دې ډګر کې ډېر زیات راځلېدلی دی. پوهاند رښتین په ادبي هنري نثر کې پوخ لاس درلود او په دې ډګر کې یې ډېر کار کړی دی. هغه ډېر شمېر زلمي لیکوال روزلي او د خپل ادب خدمت ته یې چمتو کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند رښتين په ۱۳۷۷ هـ . ش. کال کې له نړۍ سترګې پټې کړې او د ننګرهار په بهسودو کې د کونړ د لوی سړک پر غاړه خاورو ته وسپارل شو.

د پوهاند رښتين د نثر يوه بېلګه :

وايي چې ښه شاعر د قوم سترګې او د حال ترجمان دی. دی په خپله ژبه د خپل چاپېريال ترجماني کوي. د اصلاحي نظر لوی خاوند وي. په خپل ذاتي نظر پسې نه ګرځي. د ودانۍ کارونه يې خوښېږي او په شعر کې يې د يو څرګند او عالي مرام پلوشې ځلېږي. اشعار يې د قام او وطن له درده ډک وي. کله يې شعر د تورې پرک او کله د ژوند برېښنا وي. خيال يې قوي او عزم يې ټينګ وي، څه چې وايي هغه په خپله هم کوي. د وينا او عمل ترمنځ يې پوره نژدېوالی موجود وي. رښتيا وايي او په رښتياوو پسې ګرځي. د قام په درد ښه پوهېږي. د اشعارو په پردو کې يې تاريخونه پراته وي. د لوړ همت او اوچت خيال څښتن وي. هر څه نه وايي، حق وايي، حق غواړي او حق لټوي.

د خوږمنو د زړه همراز او همخيال وي. د ولس په ژبه غږېږي. په کږو لارو نه دروميږي. خوشامنګر او غوړه مال نه وي او د شعر مرغلرې په کونجکو نه پلوري، لکه چې خوشحال خټک ويلي دي :

د هغه شاعر دانې وشه په ژبه
چې د شعر درد دانې پلوري په مال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باغ نداره

یو سهار شومه روان د باغ په لوري
په اسمان کې ښکاریده لا ښکلي ستوري
باغ ته لاړم یو عجب ښکلی گلشن و
د ښایسته ښایسته بلبلو نشیمن و
قسم قسم سرودونه د مرغانو
په دې باغ کې چغهار و د توتیانو
نسیم هسې په مزه و الوتلی
له فرحته واړه باغ و غوړیدلی
د قدرت تابلو رنگینه ښایسته وه
د هر بوټي غیږ کې اینسې گلدسته وه
لمر راوخوت له مشرق څخه رڼا شوه
هر طرف ته د ژوندیو شور غوغا شوه
سیوري پرپوتل سجدې باندې قبلې ته
په تعظیم او احترام مخ د کعبې ته
زړ زړي وړانگې د لمر پرې راخپرې شوې
گرچاپیره د اسمان لمنې سرې شوې
سپینو پرخو چې دا وړانگې ولیدلې
له خوښیه ټولې پورته والوتلې
تازگي د بوټو زیاته له پخوا شوه
د غوټیو خولگی وازه په خندا شوه
جوړ په باغ کې لا یو بل رنگه حالت شو
تا به وې پاچا له خوبه را اوچت شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

پوهاند صديق الله رښتين د پښتو ادبياتو د معاصرې دورې يو نومیالی ادیب او ليکوال دی. په بېلا بېلو موضوعاتو کې يې په لس ګونو کتابونه ليکلي دي. ډېر کسان يې د خپلې ژبې، ادب او هېواد د خدمت لپاره روزلي دي. لکه نوم او تخلص چې يې د صداقت او رښتينولی استازيتوب کوي، په عملي ژوندانه کې هم خپل هېواد، خپلې ژبې او خپلو هېوادوالو ته صادق او رښتينی و.

پوهاند رښتين د پښتو ژبې او ادب له هغو بنسټ ايښودونکو څخه دی چې د پښتو ژبې ګرامر، ادب تاريخ، څېړنې او هنري نثر په برخه کې يې مهم کارونه سرته رسولي او ډېر ارزښتمن اثار ترې راپاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي :

پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو ژبې او ادب په کومو برخو کې کتابونه لیکلي دي؟

۲ـ زده کوونکي دې په چوپه خوله متن ولولي او لنډ مفهوم دې په پنځه پنځه کرښو کې په خپلو کتابچو کې ولیکي او په ورځ دې په وار سره په ټولګي کې ولولي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره متن په لوړ واز په ټولګي کې ولولي.

٤ـ زده کوونکي دې د پوهاند رښتین د مهمو کتابونو نومونه واخلي.

۵ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه د کتاب د پای له برخې معنا او په جملو کې دې یې وکاروي :

۱ـ مدام ۲ـ عالي ۳ـ همراز ٤ـ نومیالی ۵ـ دردانې

٦ـ زده کوونکي دې د خوشحال بابا دا لاندې شعر معنا کړي :

د هغه شاعر دانې وشه په ژبه

چې د شعر دردانې پلوري په مال

۷ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي د ((ښه شاعر)) په متن کې دې یوه ډله دې په متن کې مفرد مذکر نومونه او بله ډله دې جمع مذکر نومونه پیدا کړي.

د پښتو د معاصر ادب د پنځو ستورو له ډلې څخه د هر یوه په اړه چې تاسو ته اسانه وي، په خپله کورنۍ یا شاوخوا کې پوښتنه وکړئ او شپږ شپږ کرښې یې د ژوند یا کتابونو او یا هم د شعر او نثر په اړه ولیکئ، سباته یې ټولګي ته درسره راوړئ او په خپل خپل نوبت یې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسي صنايع



■ لاسي صنايع څه ته وايي؟

د ماشيني صنعت تر څنګ، لاسي صنعت هم د يو هېواد په اقتصادي او کلتوري پياوړتيا کې ډېر لوی ارزښت لري. لاسي صنايع ډېره لرغوني تاريخچه لري. انسانانو د خپلې اړتيا له مخې له هماغو لومړنيو دورو څخه د لاسي صنايعو کار ته لاس اچولی. دوی په خپله خوښه د لومړنيو موادو بڼه اړولې او د خپلې اړتيا وړشيان يې ترينه جوړ کړي دي. بيا وروسته ورسره ښکلا هم ملګرې شوې او د يوه ځيز په جوړونه کې يې ښکلا هم په پام کې نيولې ده. په افغانستان کې هم لاسي صنايع اوږد تاريخ لري او مختلف ډولونه يې دود دي چې په دې درس کې پرې خبرې کوو.

■ لاسي صنايع د انسانانو په ژوند کې څه تاثير لري؟

■ په افغانستان کې کوم ډول لاسي صنايع دود دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خامو او لومړنیو موادو بدلون په داسې یو شي چې د وګړو د استفادې وړ وګرځي صنعت نومېږي. صنعت په دوه ډوله دی: ماشیني او لاسي. ماشیني صنایع د ماشین په وسیله تولیدېږي او لاسي صنایع هغه دي چې په لاسونو جوړېږي. د بېلګې په توګه که لرګی خام مواد وګڼو، نو کله چې ترکان له هغو څخه کرکی، دروازې او مېزونه جوړوي، همدا د لاسي صنعت یو بهیر دی، خو په دې شرط چې په جوړېدونکو شیانو او څیزونو کې به ښکلا او ظرافت هم په پام کې ساتي.

زمونږ په ګران هېواد کې لاسي صنایع ډېر لرغونی تاریخ لري. د ډېرو پخوانیو لاسي صنایعو اثار چې د کار اسباب، ګانې، سکې، د ښکار وسایل او نور پکې دي، لیدل شوي دي. اوس هم لاسي صنایع زمونږ په هېواد کې دیو شمېر خلکو کسب او بوختیا ده چې پر اقتصادي ارزښت سربېره کلتوري ارزښت هم لري. هغه شیان چې د کلو، باندو او ښارونو ښځې، نارینه، نجونې او هلکان یې په خپلو لاسونو جوړوي او یایې په جوړښت کې له ساده وسایلو څخه کار اخلي، لاسي صنایع بلل کېږي. لاسي صنایع نه یوازې زمونږ ضرورتونه پوره کوي، بلکې زمونږ ژوند او د استوګنې چاپېریال هم ښکلی کوي. د هرې سیمې لاسي صنایع د خپلې سیمې له خامو موادو څخه جوړېږي. یا په بله وینا هغه مواد چې په هماغه سیمه کې پیدا کېږي او خلک یې په آسانه او ارزانه بیه ترلاسه کوي، لاسي صنایع تري جوړوي. لکه څنګه چې وړی، وژغنې زمونږ د هېواد په شمالي مرکزي او لویدیځو برخو کې ډېرې پیداکېږي، نو له هغو څخه غالی، ټغرې، لیمڅې، برک، شړی، بنینونه، واسکټونه، جورابې، دستکشې او نور شیان جوړوي. په پکتیا کې مزري ډېر پیدا کېږي او له هغه څخه شکری، ټوکری، خولی، او ببوزي (لاسي پکي) جوړوي.

پروان او استالف د ښکلو خټینو لوښو له کبله مشهور دي چې د لوښو مختلف ډولونه، لکه کاسې، صراحی، شمعه دانونه، قابونه او نور په ډېره ښکلې بڼه جوړوي. همدرانګه د دغې سیمې ګلدانونه، پیالې، کټوی، منګي، چاټی او نور هم ډېر مشهور دي.

په کندهار او هرات کې له وربښمو څخه ښکلي سکوی (خامکونه)، دسمالونه او لنګی جوړوي. په شمال کې له سوندو څخه پړي، بوجی او رسی جوړوي. همدرانګه په بغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هرات کې خامک، ګلدوزي او نور دګنډلو دود شته چې مصنوعات يې په هېواد او بهر کې خوښوونکي لري.

په کونړ او نورستان کې له لرګيو څخه پر دروازو او کړکيو سربېره مختلف ښکلي لرګين شيان جوړوي چې خورا مشهور دي.

له څرمنې څخه څپلی، بوټان، بکسونه او نور شيان دهېواد په زياتو برخو کې جوړېږي.

په دې توګه ويلای شو چې د لاسي صنايعو مختلف ډولونه اوس هم په افغانستان کې دود دي چې له يوې خوا اقتصاد پياوړی کوي او له بلې خوا زمونږ د کلتور يوه غني برخه جوړوي.

د متن لنډيز:

لاسي صنايع ډېره لرغونې او اوږده تاريخچه لري. زمونږ په هېواد کې هم لاسي صنايع له لرغونو زمانو څخه دود دي.

په بېلا بېلو ولايتونو او سيمو کې بېلا بېل لاسي صنايع دود دي، لکه : خاورين لوښي، له ورېښمو ښکلي ګنډونه او کالي، له لرګيو څخه مختلف اړين اوزينتي شيان، لاسي ګنډون لکه ګلدوزي، خامک، تار شمېر او نور. لاسي صنايع که له يوې خوا زمونږ اقتصاد پياوړی کوي او اړتياوې مو لېرې کوي، له بله پلوه زمونږ کلتور هم غني کوي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په لوړ آواز ولولي او بيا دې د لاسي صنايعو په ارزښت او اهميت خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د افغانستان په مختلفو ځایونو کې د لاسي صنایعو د تولید سیمې په ګوته کړي.

۳ـ زده کوونکي دې په متن کې عام نومونه او خاص نومونه په نښه کړي او په وار سره دې په ټولګي کې ووایي.

٤ـ زده کوونکي دې د لاسي صنایعو ډولونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او هغه دې په ټولګي کې واوروي.

۵ـ زمونږ په هېواد کې د خاورو مختلف لوښي په کومه سیمه کې جوړېږي؟

الف : بغلان ب : کونړ ج: هرات د: استالف

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې وګوري چې په سیمه کې یې کوم لاسي صنایع جوړېږي، په دې هکله دې یو مخ په خپله کتابچه کې ولیکي او بیا دې په بله ورځ په ټولګي کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکه د پښتو

د امیر حبیب الله خان تر مړینې وروسته د هغه زوی امان الله خان د افغانستان واکمن شو. امان الله خان د غازي امان الله خان په نامه مشهور دی. نوموړی خپلواکي غوښتوونکی، ترقي خوښوونکی او ادبپالونکی پاچا و. په ۱۲۹۸ هـ . ش . کې يې په رسمي توګه يو ځل بيا افغانستان خپلواک اعلان کړ.

- تر امان الله خان د مخه په پښتو کې کوم کتابونه او رسالی چاپ شوي دي؟
- غازي امان الله خان خپلې ژبې ته څه خدمت کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ژبې د پراختيا او پر مختيا لپاره غازي امان الله خان د پاچاهي ارګ په شمالي برج کې په ۱۳۰۱ هـ . ش. کې يوه علمي تحقيقي ټولنه جوړه کړه چې د ((مرکه د پښتو)) په نامه وبلله شوه. په ۱۳۰۲ هـ . ش . کال کې د افغانستان د اساسي تشکيلاتو د نظامنامې د حکم له مخې د پوهنې وزارت د دربم رياست په توګه وپېژندل شوه.

غازي امان الله خان د خپلې واکمنۍ په دوره کې په ۱۳۰٤ هـ . ش . کال کې کندهار ته تللی و او د هغې سيمې خلکو ته يې ويلي وو:

((غواړم په پښتو ژبه چې زه ورسره ډېره مينه لرم، ستاسې سره خبرې وکړم)) دا خبرې له پښتو ژبې سره د هغه ترقي غوښتونکي ټولواک مينه څرګندوي. همدا مينه وه چې غازي امان الله خان د پښتو ژبې د علمي او فرهنګي ودې لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې. د امير عبدالرحمٰن خان او امير حبيب الله خان د واکمنيو په وخت کې هم ځينې کتابونه، رسالې او ځينې ژباړې چاپ شوي، خو د افغانستان لومړنی اساسي قانون چې هغه وخت يې ((اساسي نظامنامه)) بلله، لومړی ځل د امان الله خان په امر په پښتو وليکل شو. وروسته بيا نورې ډېرې نظامنامې په پښتو وليکل شوې. په ښوونځيو کې په پښتو تدريس پيل شو او کتابونه هم په پښتو شول. په پښتني سيمو کې به پاچا او ملکې مامورينو ته په پښتو ويناوې کولې. پښتني سيمو ته به فرمانونه هم په پښتو لېږل کېدل. په اخبارونو کې هم پښتو ژبه زياته شوه. په ۱۳۰۳ هـ . ش . کال کې غازي امان الله خان امر وکړ چې د کندهار د سيمې په اخبار ((طلوع افغان)) کې دې هم پښتو مطالب خپاره شي.

((مرکه د پښتو)) دولس تنه غړي درلودل چې له ببلا ببلو سيمو څخه وو. لومړنی مشر يې د هغه وخت لوی او نومیالی عالم مولوي عبدالواسع اخونزاده و. دغې ټولنې د خپل کار په پيل کې په پښتو يو اعلان خپور کړ او له پښتنو څخه يې د پښتو ژبې د پالنې په لاره کې مرسته وغوښتله. په دغه اعلان کې راغلي وو:

ـ هر نوم دې په پښتو وليکل شي او مرکه د پښتو ته دې راولېږل شي.

ـ هر پښتون چې په پښتو کې پوهه لري او غواړي چې مرکې ته ځان ورننباسي، خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه دې وليکي او مرکې ته دې راواستوي.

ـ د پښتني سيمو هر پښتو پوه دې د خپلې سيمې ځانګړي لغتونه راغونډ او په ليکلې بڼه دې مرکې ته راواستوي.

((مرکې د پښتو)) ځينې مهم کتابونه هم ليکلي وو. ((يوازنۍ پښتو)) او ((پښتو پښويه)) دوه مهم کتابونه يې چاپ شوي دي. دوه مهم قاموسونه يې ترتيب او تدوين کړي وو، خو له بده مرغه دغه دوه قاموسونه تر چاپ د مخه له منځه لاړل. د دغو دوو قاموسونو په ترتيب او تدوين کې ډېره ونډه د ((مرکې د پښتو)) د دويم مشر عبدالرحمٰن لودين وه. د دغو قاموسونو يوه برخه د دغې مرکې د يوه غړي ملا محمد ((ساپي)) په وسيله د هغه د زوی عبدالله خان افغاني نويس لاس ته ورغلې او په ۱۳۳۵ هـ . ش . کال کې يې دغه نسخه له يو څه زياتونو سره چاپ کړې ده.

د متن لنډيز:

غازي امان الله خان پر کلتور مين واکمن و. د پښتو ژبې د علمي او فرهنګي پرمختګ لپاره يې ((مرکه د پښتو)) جوړه کړه. په اخبارونو او نورو خپرونو کې يې د پښتو مطالبو د خپرولو امر وکړ. پښتني سيمو ته يې په پښتو فرمانونه لېږل پيل کړل. په ښوونځيو کې يې په پښتو تدريس پيل کړ. لومړنی اساسي قانون او نور قوانين يې په پښتو وليکل.

د غازي امان الله خان په دوره کې په عملي ډول د پښتو ژبې د علمي پرمختګ لپاره کار پيل شو.

مرکې د پښتو ځينې مهم کتابونه لکه ((يوازنۍ پښتو)) او ((پښتو پښويه)) تر ليکلو وروسته چاپ او خپاره کړل. دوه قاموسونه يې هم وليکل، خو له بده مرغه په هغه وخت کې چاپ نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او بیا دې د متن مفهوم په لنډ ډول ووایي.

۲ـ ((مرکه د پښتو)) څه وخت جوړه شوه او کوم کارونه یې سرته ورسول. کارونه یې په یو لست کې ترتیب کړئ.

۳ـ زده کوونکي دې په متن کې خاص نومونه په نښه کړي او بیا دې په ټولګي کې په لوړ آواز ووایي.

٤ـ د ((مرکه د پښتو)) لومړی مشر په پنسل په نښه کړئ :

الف: مولوي عبدالواسع اخونزاده ب: عبدالرحمٰن لودین

ج: ملا محمد ساپی د: عبدالله خان افغاني نویس

٥ـ زده‌کوونکي دې د متن مهم ټکي پخپلو کتابچو کې ولیکي او په ټولګي کې دې واوروي.

٦ـ د ((مرکه د پښتو)) څخه د مخه که د پښتو ژبې په اړه کوم کارونه شوي وي، زده‌کوونکي دې څو مثالونه ووایي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هغو مرکزونو په اړه څو کرښې ولیکي چې د پښتو ژبې د علمي او کلتوري ودې لپاره کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومځري (ضمیرونه)



دګرامر له لوستو څخه په ښوونځیو او پوهنځیو کې موخه داده چې ژبه سمه وليکلای او ولوستلای شو او ځان له تېروتنو څخه وژغورو. نومځري هم دګرامر یوه برخه ده چې په ژبه کې ښکلا او لنډون رامنځته کوي او د نومونو د تکرار مخه نیسي.

تاسې په اووم ټولګي کې نوم او د نوم ډولونه، صفت او د صفت ډولونه ولوستل، په دې لوست کې به نومځري وپېژنو.

- نومځري څه ته وایي او ولې کارېږي؟
- که په ژبه کې نومځري ونه کارول شي، نو په خبرو یا لیکنه کې به کومه ستونزه رامنځته شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومځری هغه کلمه ده چې د نامه پرځای کارېږي او د نوم د تکرار مخه نیسي.
نومځري د جنس، عدد، حالت او شخص له مخې ګردانېږي.

د نومځرو ډولونه:

۱ـ ځانګړي نومځري (شخصي ضميرونه)
۲ـ ملکي يا اضافي نومځري
۳ـ اشاري نومځري
٤ـ استفهامي نومځري
٥ـ پلوي نومځري
٦ـ مبهم نومځري
۷ـ اشتراکي نومځري

۱ـ ځانګړي نومځري:

ځانګړي نومځري د کسانو يا اشخاصو پر ځای کارېږي او په دوه ډوله دي:
غښتلي نومځري او کمزوري نومځري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف ـ غښتلي نومځري يا منفصل ضميرونه :

په يوازې توګه کارېږي، له بلې کلمې سره پيوست نه راځي او په خپلواکه توګه معنا ورکوي.

اشخاص	مفرد			جمع
	اصلي حالت		اوښتی حالت	اصلي حالت
۱	زه		ما	مونږ
۲	ته		تا	تاسې (تاسو)
۳	نارينه	دی هغه	ده هغه	دوی هغوی
	ښځينه	دا هغه	دې هغې	دوی هغوی

ب ـ کمزوري نومځري (متصل ضميرونه):

دا نومځري په خپلواکه ډول نه کارېږي، له نورو نومونو سره چې وکارېږي خپله معنا څرګندوي.

شخص	مفرد	جمع
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	يې	يې

لکه: کتاب مې راکړه، کتاب دې واخله، کتاب يې واخيست، کتابونه مو واخيستل، کتابونه يې واخيستل، کتابونه مو واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ ملکي يا اضافي نومځري:

يو څيز په څه يا چا پورې اړوند بولي يا په بله وينا يو شی د څه يا چاګڼي.

اشخاص	مفرد		جمع
۱	زما		زمونږ
۲	ستا		ستاسې
۳	نارينه	د ده	د دوی
	ښځينه	د دې	د دوی

لکه : زما کتاب راکړه. زمونږ کتابونه يوسه. ستا کتاب راکړه.

ستاسې کتابونه واخلئ. د ده کتاب څه شو؟ ددې کتاب چېرته دی؟

د دوی کتابونه څه شول؟

۳ـ اشاري نومځري:

هغه نومځري دي چې اشخاصو او څيزونو ته اشاره کوي او د هغو پر ځای کاربرې.

ګڼه	واټن (فاصله)	مفرد				جمع	
		اصلي حالت	اوښتی حالت	اصلي حالت	اوښتی حالت	اصلي حالت	اوښتی حالت
۱	لنډ	دغه	دغه	دغه	دغو		
		دغه	دغې	دغه	دغو		
۲	ليرې	هغه	هغه	هغه	هغو		
		هغه	هغې	هغه	هغو		
۳	لا ليرې	هوغه	هوغه	هوغه	هوغو		
		هوغه	هوغې	هوغه	هوغو		

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤_ استفهامي يا پوښتنيز نومړي :

د پوښتنې لپاره کارېږي. د شخص، وخت، ځای څرنګوالی او څومره والي له مخې لاندې ډولونه لري :

څوک : د شخص لپاره کارېږي، لکه : څوک راغی؟

چا: د څوک اوښتی شکل دی او د شخص لپاره کارېږي، لکه: چا وژړل؟

کوم (کومه) : د شخص او شیانو لپاره کارېږي، لکه: کومه ښځه ځي؟ کوم سړی ځي؟

کله : د وخت پوښتنه کوي او نه ګردانېږي، لکه : کله راغی؟

کله راغله؟، کله به راشي؟، کله لاړ؟، کله لاړه؟

څنګه : د یو شخص، شي یا عمل څرنګوالی پوښتي، لکه څنګه دې ولیکه؟

څنګه دې رسم کړ؟ څنګه دې میدان پاک کړ؟

څو: د اشخاصو او شیانو شمېر پوښتي، ځکه نو د جمع په شکل کارېږي، لکه:

څو زده کوونکي راغلي وو؟ څو قلمونه دې وپېرل؟ څو کسانو ډوډۍ خوړلې ده؟

څومره : د اشخاصو او شیانو شمېر او د څرنګوالي او څومره والي درجه ښیي، لکه : څومره زده کوونکي دې ولیدل؟ څومره کبان دې ونیول؟ څومره ښکلی دی؟ څومره تود دی؟

ولې: د یوه عمل او پېښې لامل پوښتي، لکه : ولې راغلې؟ ولې درس نه لولې؟ ولې جومات ته نه ځې؟

د معاصر لیکوال محمد ایوب خان اخکزي لاند ینی نثر ولولئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتبارات

وايي چې يوه ورځ ملکه په خپل محل کې په يوه کار مشغوله وه، دروازه وټکېدله، ويلې څوک يې؟ ورته وويل شول چې وليعهد.

ملکې اعتنا ونه کړه او خپل مشغوليت يې جاري وساته.

د کافي انتظاره بعد، بيا دروازه وټکول شوه، ملکې وويلې څوک يې؟

جواب ورکړل شو چې ستا فرمانبردار زوی.

ملکې فوراً دروازه ورخلاصه کړه او ورته و يې ويل چې گوره زويه! همېشه کوښښ وکړه چې په دنيا کې په خپلو انساني اوصافو او خويونو وپېژندل شې، ولې چې دنياوي حيثيت اضافي او اعتباري شی دی چې هر وخت پناه کېدونکی دی.

الف: په پورته نثر کې ضميرونه پيدا کړئ.

ب: د نثر مفهوم په خپلو عباراتو کې ووياست:

۵ـ پلوي نومځري :

د اشخاصو له پلوه د يوه عمل پلو يا لوری ښيي او تل تر فعل د مخه راځي. دا نومځري درې ښې لري:

(را، در، ور)

را: د متکلم (لومړي شخص) لوری ښيي، لکه : راکړه، راوړه، راواخله او نور.

در: د مخاطب (دويم شخص) لوری ښيي، لکه : درواخله، درپورې کړه، درځه او نور.

ور: د غايب (درېم شخص) لوری ښيي، لکه : ورکړه، وروړه، ورپورې کړه او نور.

٦ ـ مبهم نومځري:

دا نومځري د يوه ناڅرګند شخص لپاره کارېږي او په دې ډول دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر : د جنس او حالت له مخې ګردانېږي، زياتره د مفرد لپاره راځي، لکه : هر ځوان، هره پېغله، هر سړی، هره ښځه، هر کتاب، هره کتابچه او نور.

په اوښتي حالت کې د جمع لپاره راځي، لکه : په هرو څو ځوانانو کې، په هرو څو پېغلو کې.

بل : يوازې د شمېرېدونکي مفرد نامه پر ځای کارېږي او د جنس او حالت له پلوه ګردانېږي، لکه : بل څوک، بل ځوان، بله پېغله، بل سړی، بله ښځه او نور.

نور : جنس نوم او جمع نوم راښيي او د جنس او حالت له پلوه ګردانېږي، لکه: نور هلکان، نورې نجونې، نور جوار، نوره بوره.

ټول : دا نومڼری هم جنس او جمع نوم راښيي او د جنس او حالت له پلوه ګردانېږي، لکه : ټوله کورنۍ، ټول غړي، ټول ښارونه، ټولې دښتې، ټول سړي، ټولې ښځې.

۷ـ اشتراکي نومڼری (خپل):

دا نومڼری د لومړي، دويم او دريم شخص لپاره او هم د مفرد او جمع لپاره يو ډول کارېږي، ځکه يې اشتراکي نومڼری بولي. دا نومڼری هم د جنس او حالت له مخې ګردانېږي، لکه : احمد خپله کورنۍ دنده تر سره کړې ده. حميدې خپل کورنۍ کار کړی دی. ښاپېرۍ خپل ورور ته درس وايي.

فعالیتونه

زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

۱ـ ځانګړي نومڼري په څو ډوله دي؟ هر ډول يې په مثالونو کې څرګند کړئ.

۲ـ څو ډوله نومڼري پېژنئ؟ نومونه يې واخلئ.

۳ـ لاندې نومڼري مشخص کړئ اوخپل ټاکلي نومونه ورته وليکئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ..... ته ..... ستا ..... هغه ..... مې .....يې.....

٤ـ په لاندې جملو کې نومځري په نښه کړئ چې کوم نومځري دي :

- زه هره ورځ ښوونځي ته ځم.
- د ده کتاب له ماسره دی.
- قلم دې ورک شو.
- بل قلم دې واخیست.
- ولې دې قلم ورک کړ؟
- څومره وخت دې تېر کړ؟
- څوک به راغلی وي؟

٥ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او یو له بل نه دې د نومځرو پوښتنې وکړي.

ښوونکی دې د پوښتنو ځوابونه وځاري.

٦ـ زده کوونکي دې په لاندې جملو کې نومځري په نښه کړي :

- څوک راغی؟
- چېرې اوسېږي؟
- کوم کتاب دې خوښ دی؟
- نور هلکان چېرې دي؟
- څه دې راوړل؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له کوره تر ښوونځي او له ښوونځي تر کوره د خپل تګ او راتګ حال ولیکي او په هغو کې دې نومځري په نښه کړي چې کوم نومځري یې کارولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليک نښې

؟ ! . ‘

: () (( ))

؛ ــ

ليک نښې هغه علامې دي چې په ليک لوست کې يې کارول لويې لويې تېروتنې له منځه وړي او په کارولو يې لوستونکی د سمو لوستلو او سمو ليکلو جوګه کېږي.

د دغو نښو زده کړه د هر چا لپاره ضروري ده، که نه نو لوستل او ليکل به مو تېروتنې او نيمګړتياوې ولري.

- تاسې د ليک نښو په اړه معلومات لرئ؟
- د ليک نښو مراعاتول ليکونکي او لوستونکي ته څه ګټه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تورو پرته ځینې نښې هم شته چې په سمو لوستلو کې له لوستونکي سره مرسته کوي. دغه نښې ډېرې زیاتې ارزښتناکې دي، ځکه چې سړی په لوستلو کې له تېروتنې څخه ژغوري او په سمو لوستلو کې اسانتیا پیښوي. په لیکنه کې د دغو نښو په مرسته لوستونکي کولای شي چې په لوستنه کې په دې پوه شي چې په کوم ځای کې تم شي، سا واخلي او یا کومه کلمه په بلې پورې وتړي.

په لیکنه کې د ګڼو کیفیتونو، لکه: حیرانتیا، پوښتنې، خطاب، تمسخر یا ملنډو وهلو، ندا او داسې نورې څرګندونې د همدغو نښو په راوړلو سره کېږي.

١ـ (،) ٢ـ (.) ٣ـ (:)

٤ـ (-) ٥ـ (؟) ٦ـ (!)

٧ـ ( ) ٨ـ (...)

له دې امله دلته په لنډه توګه هغه نښې له بېلګو سره راوړو چې ډېرې ضروري دي.

١ـ (،) کامه: دا نښه مور ته راښيي چې يوه وړه يا نيمګړې جمله له بلې سره اړيکې لري او په لوستلو کې يې بايد ډېر لږ ځنډ وشي،لکه : څه چې کړې، هغه به ريبې. څه چې دې راکړل، بېرته مې درکړل. په يوې جملې کې د څو پرله پسې نومونو د بېلونې لپاره هم راځي، لکه : د افغانستان مشهورې مېوې انګور، انار، بادام، خټکي، منې، جلغوزې او نورې دي.

٢ـ (.) ټکی يا نقطه : دا نښه ديوې بشپړې جملې په پای کې ايښودل کېږي او د خبرې د تمامښت نښه ده، لکه : کابل د افغانستان پلازمېنه ده. زما ورور حميد نومېږي.

٣ـ (:) دوه سر په سر ټکي يا شارحه: دا نښه د هغې جملې يا کلمې په اخر کې راځي چې شرح او تفصيل ورپسې وي، لکه: هر څوک چې په لاندې لارښوونو عمل وکړي، نه ناروغه کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ د شپې له خوا دوخته ویده کېدل،

۲ـ لږه ډوډۍ خوړل،

۳ـ سهار دوخته راپاڅېدل،

همدرانګه د چا د وینا د راخیستلو په وخت کې د هغه له نامه نه مخکې او هم له راخیستل شوې وینا نه مخکې دغه نښه ایښودل کېږي، لکه : رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي : ((... زه تاسې ته ونه وایم چې دوزخي څوک دی؟ واورئ! هر کبر جن، بد خویه او بخیل دوزخي دی.))

٤ـ (-) بېلنې یا ډش: دغه نښه څو ځایه او په دې ډول کارول کېږي:

۱ـ د معترضه یا څنګیزو جملو د ښودلو لپاره، لکه : هغه ورځ ـ دې بیا خدای ﷻ نه راولي ـ پرما څومره وغمېده چې پلار مې سخت ناروغ شو.

۲ـ په کوم داستان یا ډرامه کې چې د دوو کسو ترمنځ خبرې اترې وي، نو د هر یوه خبره په هم دغه نښه پیلېږي، لکه : احمد محمود ته وویل:

ـ آیا ته به اجمل ووینې؟

ـ هو! که وخت مې پیدا کړ.

ـ او که وخت دې پیدا نه کړ؟

ـ بیا به تا هرو مرو خبر کړم.

۳ـ د اعدادو، ارقامو او نېټو د ښودلو لپاره هم لیکل کېږي، لکه : د حمل له ١٤- ٢٠ پورې او یا دا چې د (١٩٣٩ – ١٩٤٥) کلونو تر منځ په نړیواله جګړه کې په میلیونونو انسانان ووژل شول .

٥ـ (؟) پوښتنیزه نښه یا سوالیه: دا نښه د پوښتنیزو جملو په پای کې راځي، لکه :سید جمال الدین افغان (رح) چېرته وفات شوی و؟

٦ـ (!) د حېرانتیا یا ندا نښه : دا نښه په لاندې ځایونو کې کارول کېږي:

۱ـ د خطاب لپاره، لکه : ښاغلو! وروڼو! زده کړه وکړئ!، وخت خوشې مه تېروئ!

۲ـ له ندا او غږکولو نه وروسته، لکه: یا خدایه! دا څه حال دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ د امر کولو پر وخت، لکه چوپ شه!

٤ـ د هیلې څرګندونې پر وخت، لکه : کاشکې! زه هم درسره وای.

٥ـ د حیرانتیا په وخت، لکه : توبه، توبه، دومره ټګي!

٦ـ د ستاینې او آفرین په وخت، لکه : آفرین ستا په مېړانه!

۷ـ د افسوس او ارمان په وخت، لکه : دریغه! دریغه!، ارمان! ارمان! چې ما هم زده کړه کړې وای.

۸ـ د خوښۍ په وخت، لکه : واه! واه!، پاه! پاه!

۷ـ ( )وړې لیندۍ: د دغو لیندیو تر منځ هغه توضیح یا معترضه جمله راځي چې ډېره مهمه نه وي او حذفول یې جملې ته څه زیان نه رسوي، لکه : رحمان بابا دې (خدای ﷻ وښښې) د پښتو ژبې نومیالی شاعر و. دلته (خدای ﷻ دې وښښې) معترضه جمله ده که حذف شي، جملې ته څه زیان نه رسوي.

خاص نومونه، عددونه او خارجي کلمې هم د دغې نښې تر منځ لیکل کېږي، لکه : زما ملګری (احمد) چې راغی، نو ویې ویل : ستا ورور له مانه (۱۰) کتابونه وړې دي.

۸ـ (...) څنګ پر څنګ ټکي: د حذف یا تېرېدنې نښه، کله چې د یو نوم یا یوې جملې څرګندېدل لا زم نه وي، یا یې لنډون لا زم وي، هغه وخت پرله پسې درې ټکي ایښودل کېږي، لکه : هغه به ویل چې زه نه غواړم په دې اړه زیاتې خبرې وکړم، خو بیا به یې هم خبره پسې اوږده کړه : ... دغه راز د دې موضوع بل اړخ دا دی چې په ښه روزنه کې د ښوونکي ترڅنګه د مور او پلار پاملرنه هم ډېره ضروري ده ... ښوونکی هم د مور او پلار درجه لري....

د حذف د ټکو لپاره څه ټاکلی شمېر نشته، خو عام نظر دا دی چې دغه ټکي دې لږ تر لږه درې او زیات نه زیات پنځه ولیکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

ليک نښې يو شمېر ځانګړې نښې دي چې په ليکنه کې د ښلا ښلو مفاهيمو او حالتونو د ښودلو لپاره راځي. دا نښې په ليکنه کې ځانګړی ارزښت لري. که سمې او پر ځای وکارول شي، له لوستونکي سره د معنا او مفهوم په افاده کې ډېره مرسته کوي اوکه سمې ونه کارول شي، نو ځينې معنوي تېروتنې رامنځته کوي. دا نښې زياتې دي، مورِ دلته يوازې د هغو ځينې مهمې او مشهورې در وپېژندلې.



فعاليتونه

زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي.

۱ــ ليک نښې د ليک په ليکلو او لوستلو کې څه ګټه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ که تاسو د لیک نښو په اړه څه معلومات لرئ؟ ټولګیوالو ته یې ووایاست!

۳ـ دغه نښه (؟) په کوم ځای کې راوړل کېږي؟

٤ـ زده کوونکي دې ستونزمن لغتونه په کتابچو کې ولیکي او په جملو کې دې استعمال کړي.

٥ـ د لاندې جملو په پای کې کومې نښې راځي؟

کابل د افغانستان پلازمېنه ده

د احمد قلم چېرې دی

کاشکې زه هم درسره وای

عزیز، لونګ، رشید او اتل نن راورسېدل

٦ـ په لاندې متن کې لیک نښې په ګوته کړئ :

پرون مازدیګر احمد زمور کورته راغی بکس یې هم ورسره و ما ورته وویل په بکس کې دې څه دي هغه راته وویل چې قلم کتاب کتابچه او پنسلونه پکې دي مور دواړه کورس ته روان شوو زمور کورس د حمل له اتم نه تر دېرشم پورې دوام کوي احمد وویل کاشکې دا کورس لږ اوږد وای ښوونکي وویل شاباس په وخت راغلئ بیا ښوونکي یو تن ته اشاره وکړه او ویې ویل هلکه پاڅېږه تېر درس ولوله د هلک درس نه و زده ښوونکي وویل ولې دې درس نه دی زده هلک غلی ولاړ و.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د ټکي یا نقطې، د سر په سر ټکو یا شارحې او پوښتنیزې نښې لپاره یوه یوه جمله ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انشاً او ليکوالي

تاسې تېر کال په اووم ټولګي کې ولوستل چې املاء په لغت کې مهلت ورکولو او ډکولو ته وايي او په اصطلاح کې خپلې خبرې يا د بل خبرې په صحيح ډول ليکل دي. په دې لوست کې به تاسې ته د انشاء په اړه معلومات درکړو.

- املاء او انشاء څه توپير لري؟
- په انشاء کې کوم شيان راځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

انشاء: په لغت کې د یوه نوي شي پیداکولو ته وایي. په اصطلاح کې دیوه نوي فکر او خیال څرګندولو ته انشاء وایي. په ساده وینا په نظم یا نثر د خپلو افکارو او خیالونو په لیکلې بڼه څرګندولو ته انشاء وایي. انشاء په نثر او نظم دواړو کېدای شي. د انشاء فن یا د لیکوالۍ هنر دا دی چې انسان خپل مطلب په سم او رسا ډول اداکړي. یعنې د خپل ذهن خیال او فکر په ښو او مناسبو الفاظو کې په اغېزناکه توګه ولیکي. د ښو کلمو غوره کول او ترتیبول د انشاء مهمه برخه ده.

یو لیکوال او شاعر باید د کلمو په غوره کولو، نښلولو او کارولو ښه پوه وي. همدارنګه باید دا ورټیا ولري چې نوي الفاظ او معناوې پیدا او ښکلا پکې واچوي.

که څوک غواړي چې د خلقت او فطرت په رمزونو او رازونو پوه شي او په یوه شنه پاڼه یا یوه ګل کې د الله ﷻ د قدرت نښې یا د معرفت دفتر وګوري، له خپل عقل، شعور او احساس څخه دې کار واخلي. یا په بله وینا د زړه سترګې دې وغړوي.

پر یوه لاره ډېر وګړي تېرېږي، خو یو نیم پکې چېرته یوه ښکلې مرغلره وموميِ چې د چا له امېله پرېوتې او په خاورو کې پرته وي. پر دې لاره ډېر لاروي روان وي، څوک یوې خواته، څوک بلې ته ګوري د چا یوه شي ته پام وي، د چا بل ته، یو پکې د دېوالله له کنډوه کوم ښکلی مخ ووینې، بل د بام په سر توره کټوه.

د یوه نظر د خان او ملک په بنګله وي، بل د خوارانو او غریبانو جونګړو او کنډوالو ته ګوري. ځینې ډېر لېرې واړه شیان لیدای شي، ځینې تر پښو لاندې ځمکه نه وینې او هوا ته ګوري.

په یوه باغ کې څوک خس و خاشاک ټولوي او څوک د ګلو دستې جوړوي. د چا دیدار په کاروي او د چا دینار. کارغه په یوه خوا ځي بلبل په بله خوا، یو ځان وینې بل جهان وینې. څرنګه چې د انسانانو په څرګند نظر کې ډېر توپیر شته، دغه راز د ټولو خلکو د زړونو سترګې هم یو راز څار نه کوي. په همدغه ډول د فکر او نظر اختلاف دی چې د لیکوالو او شاعرانو د لیک او وینا په طرز یې اغېز کړی دی او د هر یوه انشاء او سبک یې ځانګړی کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انشاء کې د املاء برخه شامله نه ده. املاء د بل یا خپلې خبرې په سمه توګه لیکلو ته وایي، یعنې په منل شوې او دودشوې بڼه د خبرو لیکلو ته املاء وایي.

کوم لیکوال چې په یوې موضوع څه لیکي، لومړی باید یوه ټاکلې موخه ولري، بیا د هغې موخې په اړه ښه فکر وکړي او خپل فکر او خیال په ښو، خوږو او هنري الفاظو کې ترتیب او په ښه بڼه یې څرګند کړي. که چېرې همداسې وکړي، نو په لوستونکو به ښه اغېز وکړي، لکه چې یو انځورګر د ښې کمرې او ښو الا تو په وسیله ښه فلم او ښه انځور اخیستی شي، دغسې که یو ادیب او لیکوال له خپلو حواسو څخه په ښه سوچ او فکر کار واخلي، کولای شي چې د طبیعت او د ژوند له چارو او پېښو څخه خورا ښه اقتباس وکړي او په اغېزناکه توګه یې ټولنې ته وړاندې کړي.

په انشاء کې دلیکوال اروایي حالت، شخصیت، ذ کاوت او نړۍ لید په یوه ډول څرګندېږي، خو په دغو څیزونو هغه وخت ښه پوهېدای شو چې دهغه لیکوال آثار زیات ولولو، دهغه ژوندلیک ولولو او د هغه د ژوندانه له بېلا بېلو اړخونو سره ځان آشنا کړو.

د متن لنډیز:

نوی مضمون، نوی خیال او نوی فکر چې د الفاظو او کلماتو په قالب کې په ماهرانه ډول ځای کړی شي، انشاء ورته وایي. که یو لیکوال د بل چا مضمون او مطلب رانقل کړي، انشاء یې نه شو بللی.

د انشاء اړین توکي نوي افکار، نوي خیالونه او د الفاظو هنري ترتیب دی.

د الفاظو په سمه، کره او منل شوې بڼه لیکلو ته املاء وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ زده کوونکي دې د متن هر پراګراف په لوړ غږ ووایي او د پراګراف مفهوم دې په خپلو خبرو کې څرګند کړي.

۲ـ انشاء په لغت او اصطلاح کې څه ته وایي؟

۳ـ د یوې ښې انشاء لپاره باید شاعر او لیکوال کوم ټکي په پام کې ولري. زده کوونکي دې په کتابچو کې ولیکي او بیا دې په وار سره هغه په ټولګي کې واوروي.

٤ـ زده کوونکي دې د نظم او نثر توپیر په څو لنډو جملو کې له مثالونو سره وړاندې کړي.

٥ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه په جملو کې وکاروي.

ـ فن ـ خلقت ـ فطرت ـ رمز ـ معرفت

ـ دینار ـ څار ـ اقتباس

٦ـ په متن کې ستاینوم (صفت) په نښه کړئ او په ټولګي کې یې په وار سره واوروئ.

زده کوونکي دې په کور کې په خپله خوښه د یوې موضوع په اړه انشائیه لیکنه وکړي او بله ورځ دې یې هر یو په ټولګي کې واوروي.

تاسو داسې وګڼئ چې خپله لیکوال یاستئ او یوه موضوع ځانته ټاکئ، خپله یې لیکئ او انشاء کوئ. دخپلې لیکنې املایي خوا به هم په پام کې لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متلونه (د کاڼي کړنې)

ولسي ادبيات د هر ولس په ادبي تاريخ کې ډېره مهمه او ارزښتناکه ونډه لري. ولسي ادبيات زياتره شفاهي بڼه لري او په هغو ټولنو کې زيات پياوړي وي چې ليک لوست پکې ډېر عام نه وي. په پښتو ادبياتو کې هم د شفاهي ادبياتو ونډه ډېره مهمه او ډېره زياته ده.

په ادبياتو کې محاورې، سندرې، ټوکې ټکالې، متلونه، لنډۍ او نور راځي.

په اووم ټولګي کې مو په ولسي ادبياتو کې لنډۍ ولوستې په دې لوست کې به د ولسي ادبياتو يو بل ډول ((متل)) ولولو:

- متلونه څه ته وايي؟
- ولې خلک په خبرو کې متلونه کاروي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول ولسونه د خپل کلتور او ټولنیزو ارزښتونو په پام کې ساتلو سره متلونه لري، په پښتو کې هم ډېر زیات متلونه شته. د پښتو د ولسي ادبیاتو یوه ډېره شتمنه برخه همدغه متلونه دي.

متلونه هغه لنډې، له مطلبه ډکې جملې دي چې ویونکي یې د خپلې وینا او ادعا د پخلي، کوټلتیا او پر اورېدونکو د منلو لپاره وایي. د متل په کلمو کې یو ځانګړی لطافت پروت وي.

کېدای شي متل منظوم وي یا منثور، خو خپل ځانګړی وزن او رواني به هرومرو لري. همدارنګه د متل موضوع ښایي رښتینې یا هم افسانه یي وي، خو په ولس کې یې داسې شهرت موندلی وي چې د ریښتینتوب تر بریده رسېدلی وي.

متل یوه لنډه جمله ده چې په استعاره یي ډول یو مهم مفهوم پکې نغښتی وي او د متل په ویل کېدو سره هغه مهمه مفکوره او مفهوم د اورېدونکي ذهن ته لېږدول کېږي.

متل په جرګو او مرکو کې هم د بحث او خبرو په جریان کې د پرېکړې او پایلې لپاره استعمالېږي. د متل استعمال په دوه کسیزو خبرو کې هم وي، خو په شخص پورې اړه لري چې څومره متلونه یې زده دي.

هغه کسان چې په خپلو خبرو کې پرځای او ډېر متلونه کاروي، هغه د ولس مجرب او هوښیار کسان بلل کېږي.

د نړۍ ټول ملتونه، متلونه لري. هره ټولنه د خپلو دودونو ، رواجونو، ځانګړتیاوو او ارزښتونو په پام کې ساتلو سره د متلونو سترې پانګې لري او په حقیقت کې د هغه ولس د ژوند هنداره ګڼل کېدای شي. پښتو متلونه هم زمونږ د ولس د غوره هندارې په توګه مونږ ته زیات ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ چې دلته څو متلونه سره ولولو:

خپله لاسه، ګله لاسه

د کور ګټه، د لاهور ګټه

که لار شې تر بلخه، درسره ده خپله برخه

ځمکه هغه سوځيږي چې اور پرې بلیږي.

څه چې کړي، هغه به ړېبې

د درواغو مزل لنډ دی

هر چاته خپل وطن کشمیر دی

د کبر کاسه نسکوره ده

تشه لاسه ته مې دښمن یې

که غر لوړ دی پر س یې لار شته

چې بد ګرځي، بد به پرځي

د وچو له املې لانده هم سوځي

اورته خپل او پردی یو دی

پر مې کړه، مر مې کړه

کیږدی په خپلو مراندو ولاړه وي

پردی کټ تر نیمو شپو وي

کارغه د زرکې تك کاوه، خپل یې هم هېر کړ

سمندر چې په ویالو شي هم وچیږي.

اول سلام پسې کلام

انسان د احسان تابع دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر متل د يوې تجربې په نتيجه کې رامنځته شوی وي، خو د يو شمېر متلونو سره ترلې کيسې هم مورِ ته راپاتې دي او د ځينو اصلي کيسې مورِ ته نه دي راسېدلې، خو کېدای شي په ولس کې موجودې وي. راځئ چې په دې ادعا د پوهېدلو لپاره د دوو متلونو کيسې ولولو:

۱ـ څوک چې خوب کوي مېښه يې نر کتې زېږوي:

وايي چې په يوه غوجل کې د دوو کسانو مېښې ترلې وې. دواړه مېښې په يوه وخت لنګېدې هرې يوې ته خپل خپل خاوند ناست و. له دوی څخه يو ويده شو. مېښې لنګې شوې يوې مېښې کتې او بلې مېښې کتې وزېږوله. وېښ سړي چې مېښې يې کتې زېږولی و د هغه ويده سړي له مېښې سره خوشې کړ او د هغې مېښې چې کتې يې زېږولې وه د خپلې مېښې سره خوشې کړه.

کله چې ويده سړی راويښ شو، څه ګوري چې مېښې ته يې کتې ولاړ دی او د هغه بل مېښې ته کتې ولاړه ده، ورته ويې ويل: مبارک دې شه! بختور يې چې مېښې دې کتې زېږولې ده!

هغه ورته وويل: څوک چې خوب کوي مېښه به يې نر کتې زېږوي.

۲ـ د غله په ږيره خس دی:

وايي چې په يوه غونډه کې يو شی ورک شو، د غونډې برخوال نه پوهېدل چې غل څنګه معلوم کړي. سره راغونډ شول، يو پکې تجربه کار و، هغه وويل: زه غل پېژنم، نورو ورته وويل: څنګه؟ هغه وويل: د غله په ږيره خس دی. په دې وخت کې غل بې ځنډه خپلې ږيرې ته لاس ورور چې ګوندې رښتيا يې په ږيره خس دی او بايد ليرې يې کړي چې څوک يې و نه پېژني، خو نورو وليد او و يې پېژاند چې غلا همده کړې ده، نو په دې توګه هر متل د يوې تجربې په نتيجه کې رامنځته شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

متل د شفاهي ادبياتو يوه مهمه برخه ده چې په محاوره او خبرو اترو کې د استدلال او خپلې خبرې د پخلي لپاره کارول کېږي.

متل يوه وړه جمله يا عبارت دی چې يو لوی مفهوم رانغاړي. زياتره متلونه ځانته کيسې لري يا په بله وينا يو متل د کيسې د پېښېدو په پای کې رامنځ ته شوی وي.

متلونه ډېره اوږده مخينه لري او سينه په سينه تر موږه را رسېدلي دي.

په پښتو ژبه کې يو شمېر متلونه راټول شوي او په کتابي بڼه چاپ شوي دي، خو زياتره متلونه لا تر اوسه پورې د خلکو په سينو او محاورو کې لا ژوندي دي، خو په کتابونو کې نه دي راټول شوي.



فعاليتونه

۱ــ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- متلونه په خبرو کې د څه لپاره کارول کېږي؟
- متلونه منظوم وي که منثور؟
- متلونه زمونږ د ادبياتو په کومې برخې پورې اړه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ زده کوونکي دې په دوه ډلو ووېشل شي د يوې ډلې استازی دې يو متل وايي او د بلی ډلې استازی دې په وار سره د هغه معنا کوي.

۳ـ زده کوونکي دې په دوه ډلو ووېشل شي يوه ډله دې لس منظوم او بله ډله دې لس منثور متلونه ووايي.

٤ـ د لاندې متلونو معنا پخپلو کتابچو کې وليکئ او په ټولګي کې يې واوروئ.

- د غله په ږيره خس دی
- غل په غره کې نه ځايېږي
- مه کوه په چا چې و به شي په تا
- چاړه که د سرو شي د ځيګر د منډلو نه ده

٥ـ زده کوونکي دې د لاندې متلونو تش ځايونه ډک کړي.

- هر چاته خپل .....کشمير دی.
- د يو لاسه ..... نه خېژي.
- څه چې ..... هغه به ..... .
- پر مې ..... مړ مې ..... .

٦ـ په لوستل شوو متلونو کې مو کوم يو خوښ دی، ولې؟ نظر مو ووياست.

۷ـ په لوستل شويو متلونو کې نومځړي (ضميرونه) پيدا کړئ. او ووياست چې کوم ډول نومځړي دي.

۸ـ که د کوم متل کيسه مو زده وي په ټولګي کې يې ووياست.

کورنۍ دنده

په کورنۍ کې له مشرانو څخه پوښتنه وکړئ او د هغوی له خولې نوي متلونه وليکئ او بيا يې بله ورځ په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور زړه

د مور د مينې او محبت، د مور د زړه سوي او مهربانۍ په اړه به تاسو ډېرې خبرې اوربدلې وي، خو اوس چې تاسو د مور په اړه کوم شعر لولئ، د مور د خواخوږۍ او مهربانۍ يوه ستره نمونه ده. دغه مطلب د افغانستان د نومیالي معاصر شاعر سید شمس الدین مجروح په قلم له يوه بهرني (غربي) اثر څخه په شعر ژباړل شوی دی.

مور، تر ټولو مهربانه، مور تر ټولو زياته مينه ناکه ده، خو داسې کيسې او پېښې هم کېدونکي دي . تاسو دغه کيسه په شعري بڼه ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاعر لنډه پېژندګلوي:

سید شمس الدین مجروح د افغانستان د معاصرو ادبیاتو یو خوږ ژبی شاعر او لیکوال دی. په ۱۲۸۹ هـ . ش . کال د کونړ ولایت د شین کوړک کلي په یوې روحاني کورنۍ کې پیدا شوی دی. زده کړې یې په خپل کلي کې سرته ورسولې او رسمې دنده یې د اعیانو په مجلس کې پیل کړه. بیا یې مختلفې دندې سرته ورسولې چې د عدلیې د وزیر او د صدارت د مرستیال په توګه یې هم کار کړی دی.

دسید شمس الدین مجروح د شعرونو یوه مجموعه (منتخب شعرونه) په ۱۳۳۷ هـ . ش . کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده او دویمه مجموعه (یاد فریاد) یې په پیښور کې په ۱۹۸۵ م. کال کې چاپ شوې ده. سید شمس الدین مجروح په ۱۳۸۱ هـ . ش . کال وفات شوی دی.

پسرلی د کال ځوانی وه هوا نښه وه
د ګیاه پرته په ځمکه لونګی شنه وه
ټول عالم په خوب ویده و نیمه شپه وه
هرې خوا ته د سپوږمی رڼا خوره وه
یو عاشق معشوقه ناست د رود په غاړه
په شراب د مینې مست و و دغه دواړه
سره ناست وو دوی بهر کلي نه لرې
دواړو ویلې نښې خوږې خوږې سندرې
د دوی منځ کې وې د رازونیاز خبرې
یو له بله یې وړکړې وې وزرې
د ښایست غرور په سر کې د جینۍ و
د هلک په سر کې هم جوش د ځوانۍ و

سید شمس الدین مجروح

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلك وويې محبوبې ماته يې گرانه
مادې هيڅكله خداى نه كا بې له تانه
زړه چې زيات له سرو ماله دى دلبره
ما قربان كړ هغه هم د سنا له سره
جينى وويل دا خبرې كوې څله
په دې لار كې زړه قربان وي تل ترتله
زړه په مينه كې عاشق نه ځي هر كله
دا په دې لار كې اول قدم دى گله
زه به تاومنم هله زما يارە
چې د مور زړگى دې راوړې زما لپارە
خپله مور سړي ته زياته له هر چادە
زړه د مور يوه مرغلره بې بها دە
كه د سنا مينه له ما سره رښتيا دە
كه صحيحه دا دعوه د مينې سنا دە
د مور زړه دې كړه ترې غوڅ رايې وړه ماله
نو به هله زه خولگى در كړمه تاله
د هلك په سر چې دغه امتحان شو
په وجود كې يې برپا د غم توپان شو
هك پك ودريده په دوه و وكې حيران شو
خو پرې مينه شوه غالبه راروان شو
نو د مور سينه يې څيرې په خنجر كړه
مرغلره يې د زړه ترې رابهر كړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هلك له دغه كاره نه وزګار شو
بيا روان په دغه لوري په تلوار شو
لار كې ولوېد طبيعت ورته په قار شو
زړه يې هم له لاسه خاورو كې ګوزار شو
ناګهانه له زړه غږ شو چې بچيه!
خير دې وي ژوبل خو نه شولې زړګيه

د مور ستايل او درناوی:

دغه اصل ته په پښتو ادبياتو كې هم زياته پاملرنه شوې ده. زمونږ زيات شمېر شاعرانو او ليكوالو په خپلو منظومو او منثورو اثارو كې د مور مقام ستايلی دی.

په بېلا بېلو ادبي نثرونو لكه داستانونو، ناولونو او نورو ادبي ټوټو كې د مور مقام ته پاملرنه شوې او د مور مقام پكې ستايل شوی دی. ويلای شو چې د مور مقام په پښتو ادبياتو او بيا په لنډيو كې ځانګړی ځای لري او زمونږ د ادبياتو يو مهم څېركی جوړوي. په بېلا بېلو ليكنو كې د مور مقام، د مور مهربانی، شفقت او عاطفې د اولاد په روزنه كې د هغې كړاو او زيار انعكاس موندلی دی. د دغو ټولو ليكنو مقصد يو دی او هغه دا چې د مور د مقام او حقونو پېژندل او د هغې درناوی كول.

په ولسي ادب كې د مور د مينې عاطفې او مهربانی په اړه ډېرې كيسې شته چې يوه نمونه يې دلته راوړو:

وايي چې د يوې مور ماشوم بلې ښځې پټ كړ. د ماشوم مور كه هر څومره له غلې ښځې څخه خپل ماشوم وغوښت، خو هغې ورنكړ او ويې ويل چې دا زما زوی دی. د ماشوم مور په چيغو چيغو قاضي ته ولاړه او عرض يې وكړ چې يوې ښځې مې ماشوم پټ كړی او نه يې راكوي. قاضي غله ښځه راوغوښته هر څومره پلټنې چې يې تر يې وكړې ښځه قانع نه شوه، ويل يې چې دا زما خپل زوی دی، پر ما يې ناحقه دعوه كړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي وويل: ما يوازې پربږدئ چې د پربکړې په اړه فکر وکړم. دواړه ښځې د قاضي له کوټې نه ووتلې. ښه شېبه وروسته قاضي دواړه ښځې راوغوښتلې هغوی ته يې خپله پربکړه داسې اعلان کړه:

وروسته د ډېر سوچ نه زه دې نتيجې ته ورسېدم چې ماشوم بايد دوه ټوټې شي، يوه ټوټه د يوې مور او بله ټوټه د بلې مور. په دې پربکړې کې به عدل او انصاف پر ځای شي.

قاضي جلات راوغوښت، ويل راشه دا ماشوم دوه ټوټې کړه. کله چې جلات توره په لاس راغی د ماشوم اصلي مور غږ کړ:

قاضي صاحب ماشوم مه دوه ټوټې کوئ، ماشوم زما نه دی، هغې ته يې ورکړئ. قاضي پوه شو چې د ماشوم اصلي مور همدا ده، ځکه چې د خپل زوی مرګ يې نشو زغملای او هغه بله چې د ماشوم اصلي مور نه وه د قاضي پربکړه يې ومنله.

په دې توګه قاضي ماشوم خپلې اصلي مور ته وسپاره او هغې بلې غلې ښځې ته يې سزا وټاکله.

د متن لنديز:

د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي چې ((جنت د مور تر پښو لاندې دې)). د مور مقام په ټولنه کې تر هر چا لوړ دی او درناوی يې په ټولو لازم دی.

په دې منظومه کيسه کې د مور د مهربانۍ يوه داسې نمونه تاسو ولوسته چې مينه او مهرباني يې له بل چا سره نه شي پرتله کېدای. مور د مينې، محبت او مهربانۍ يوه داسې چينه ده چې دغه مينه او مهرباني يې د زړه په څخېدونکو وينو کې هم ناري وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په لوړ غږ ولولي او د شعر مفهوم دې په خپلو خبرو کې ووایي.

۲ــ زده کوونکي دې په متن کې د راغلې کیسې لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې په ټولګي کې ولولي.

۳ــ زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. یوه ډله دې په شعر کې نومونه او بله ډله دې صفتونه پیداکړي او د ټولګیوالو په وړاندې دې ولولي.

٤ــ له دغې کیسې نه تاسې څه زده کړل، خپل نظر خپلو ټولګیوالو ته څرګند کړئ .

٥ــ په متن کې ارتباطي کلمې پیدا او لست یې کړئ لکه:

کال، پسرلی، هوا

٦ــ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي:

نیاز بې بها برېا ملغلره

۷ــ زده کوونکي دې د ماشوم په اړه کیسه ولولي او د دغې کیسې لنډ مقصد دې پخپلو خبرو کې ووایي.

کورنۍ دنده

د مور د مهربانیو په اړه مو که کومه کیسه له چا اوربدلې وي او یا مو یاده وي په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ او بله ورځ یې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکی د ټولنې لارښود

ښوونکی ماشومانو او ځوانانو ته لارښونه کوي. د پوهې او علم پر ګټه يې سمبالوي. د نېکو لارو ګټې او د بدو لارو زيانونه ورته بيانوي.

په ننني نړۍ کې هر ډول پرمختګونه او هوساينه په ټولنه کې د انسان د پرله پسې زيار نتيجه او د ښوونکي برکت دی.

زده کوونکو ته لازمه ده چې د دغه لارښوونکو درناوی او احترام وکړي. په دې درس کې به د پوهاند رښتين د ژوند له پلوشو څخه د ښوونکي په اړه يو مطلب ولولئ.

- ښوونکی د ټولنې څه ډول معمار دی؟
- ښوونکي زمونږ په روزنه کې کومه ونډه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم او پوهه یوه رڼا او ځلا ده. ښوونکی او معلم د دغې رڼا خپروونکی دی.

علم او پوهه دودې او ترقۍ زینه ده او ښوونکی د دغې زینې جوړوونکی دی. علم د تورې تیارې مشال او د عقل د روښانتیا بله ډیوه ده. دغه مشال او ډیوه د ښوونکي د مازغو په رڼا روښانه کېږي. ښوونکی تل د خپل دماغ په ډیوه کې د فکر تیل سېځي، خپل مازغه وبلي کوي، شپې روڼوي، د زړه وینې خوري او په ځان سخته تېروي دا ټول د دې لپاره چې د ناپوهۍ تیاره ورکه شي، خلک ښه او بد وپیژني او دښکلي او هوسا ژوند خاوندان شي.

ښوونکی په حقیقت کې د ژوندانه لارښود دی.

پوه، لایق، زیارکښ او زړه سواندي کسان د یو هېواد د لوړتیا او علمي ودې پخې ستنې دي. که دغه ستنې پخې او کلکې نه وي، نو د علم او پوهې مانۍ به هم بې کاره او بې خونده وي.

د علم وړانګې د ښوونکو په لاسونو په دنیا کې خپرېږي. د یونان ستر فیلسوف ارسطو د لومړي معلم، ابو نصر فارابي د دویم معلم او ابن سینا د دریم معلم په نامه یادېږي. غرض دا چې د معلم لقب او نوم یو ستر او درونـد نوم دی. په همدې وجه د ښوونکي مقام په ټولنه کې ډېر لوړ او جګ دی. څومره چې د ښوونکي مقام لوړ دی، نو هغومره یې وظیفه هم درنه او سخته ده. د هرې ټولنې وده او ترقي، پرمختګ او لوړتیا د هغوی د ښوونکو په زیار، کوښښ، اخلاص او له دندې سره په شوق او مینه پورې اړه لري. د یو ولس روښانه سبا د دوی په همت او زحمت پورې تړلی دی. د نن ورځې کوچنیان او ماشومان د دوی په وسیله د سبا ورځې پوهان او لویان کېدای شي.

ښوونکي د یو هېواد د باغ و بڼ مالیاران او د نوو بوټو او نیالګیو باغوانان دي. که دوی په خپله وظیفه کې د کوچنیانو په روزنه او پالنه کې لږ غفلت وکړي، نود وطن د علم او پوهې، ودې او ترقۍ باغ و بڼ به مړاوی او سپېره پاتې شي. ټول ماشومان د ښوونکو سره یو امانت دی د دغه امانت ساتنه، پالنه او روزنه د دوی دنده ده.

د ماشومانو د علم او پوهې زیاتول، د دوی د خویونو او اخلاقو سمول، په دوی کې د خپل ملت، خاورې او هېواد مینه اچول او په پای کې له دوی نه د سم فکر او مزغو خاوندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غوره سړي جوړول، د ښوونکو دنده ده. دا يو داسې پور دی چې بې له اداکولو څخه په بل هيڅ ډول نه خلاصيږي. تر کومې اندازې چې شاګردان علم او پوهې ته ضرورت لري، هغومره سمې روزنې او پالنې ته هم اړ دي. علم د انسان جوهر او روزنه يې ښکلا او ځلاده. د يو مخلص او پوه ښوونکي وظيفه دا ده چې دغو دواړو خواوو ته پوره پاملرنه وکړي او د خپل هېواد تاند نيالګي داسې وروزي چې هم يې خلک سيوري ته کښېني او هم يې له خوږو مېوو څخه ګټه واخلي.

لنډه دا چې د معلمانو دنده ډېره درنه او مهمه ده، خو ورسره ډېره پاکه او سپېڅلې هم ده. نو ښايي چې ټول ښوونکي په ډېر اخلاص او مينه خپله پاکه وظيفه سر ته ورسوي او د سالمې پوهنې په لوړولو او خپرولوکې شپه او ورځ زيار او کوښښ وکړي.

د متن لنديز:

د ښوونکي کلمه که څه هم خلکو ته په ښکاره يوه ساده کلمه ښکاري او د ښوونکي دنده يوازې ښوونځي ته په تلو راتلو پورې تړي، خو داسې نه ده.

د ښوونکي دنده ډېره درنه او مهمه ده. مقام يې ډېر لوړ او نوم يې سپېڅلی او مقدس دی. نن ورځ چې په نړۍ کې د ژوند څه پرمختګونه او اسانتياوې وينئ، نو لومړني لارښوونکي يې معلمان دي، ځکه چې د نړۍ پوهان، سياسي څېړې، مخترعين او د هېوادونو واکمنان د ښوونکي د زيار په پايله کې راخرګند شوي دي. لازمه ده چې د زړه له کومې د ښوونکي درناوی او احترام وشي. ښوونکي ته هم پکار ده چې خپله دنده په دقت، اخلاص، صداقت، سپېڅلتيا او د مسؤوليت له مخې پر مخ بوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ څو زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته لوست په وارسره ولولي او په وار سره دې د درس مفهوم په خپلو خبرو کې ووایي.

۲ـ زده کوونکي دې ستونزمن لغتونه په کتابچو کې وليکي او بيا دې معنا کړي.

۳ـ زده کوونکي دې له لوست څخه مترادف الفاظ راوباسي او پرتخته دې وليکي.

٤ـ په لاندې معنا شوو لغتونو کې سم ته (س) او ناسم ته (ن) په پنسل وليکئ.

- لایق: چارواکی
- زیارکښ: زحمت کښ
- وړانګې: وریځ
- مشال: څراغ، رڼا
- هوسا: لالهاند
- سپېڅلی: پاک

٦ـ لاندې جملې تکمیل کړئ؛!

- علم او پوهه یوه ..... او ..... ده.
- ښوونکی په حقیقت کې د ..... لارښود دی.
- د علم وړانګې د ..... په لاسونو په ..... کې خپرېږي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې دښوونکي په اړه په کور کې یوه، یوه لیکنه وکړي چې شپږ کرښې او یا تر دې زیاته وي او بله ورځ دې په ټولګي کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړيواله ادبي څېره: ټاګور

نړيوال هنرونه او فکرونه نړيوال ارزښت لري. دغه راز هنرونه او فکرونه نړيواله شتمني وي، هر انسان ترې ګټه اخيستلای شي. ليکوال او شاعر چې څه ليکي او څه وايي، د نړيوالې ټولنې لپاره وي، خو د ډېرو لږو فکر او هنر دومره پوخ وي چې نړيوال شهرت ور په برخه کړي.

دغه فکر او هنر هر انسان ته يو ځانګړی پيغام لري. له دغه فکر و هنر څخه بيا هر څوک له خپلې هنري لېوالتيا سره سم خوند اخلي.

په اووم ټولګي کې مو د اندرسن په اړه معلومات تر لاسه کړل، په دې لوست کې يوه بله نړيواله څېره ټاګور درپېژنو.

- تاسې که کوم نړيوال ادبي شخصيت پېژنئ په اړه يې خبرې وکړئ.
- د ټاګور کوم شعر يا کتاب مو لوستی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاګور یوه نړیواله ادبي څېره ده. ټاګور مشهور شاعر او لیکوال دی. په ډرامه لیکنه کې یې ډېر لوی لاس درلود. ناولونه او داستانونه یې هم لیکلي دي.

ټاګور د ۱۸۶۱ م. کال د می په اوومه د هندوستان د کلکتې په ښار کې زېږېدلی دی. کورنۍ یې شتمنه وه او د علم او هنر له امله یې په بنګال کې ځانګړی شهرت درلود. د ده کورنۍ دلوېدیځ له تمدن سره هم له یوې نیمې پېړۍ را په دې خوا آشنا وه.د خپلو نیکونو علمي، ادبي او هنري میراثونه یې ساتل.

له همدې امله د ټاګور په شخصیت کې زاړه کړه وړه او نوې ښکلا دواړه لیدل کېږي. ټول هندوستان تر اوسه د ټاګور په څېر بل پراخ نظره، خواخوږی او هوښیار ادیب ونه موند.

ټاګور که د خپل وخت د پرمختللي ژوندانه له اسانیتاوو برخمن و، نو د خپل وخت د بې وزلو وګړو له ژوندانه څخه هم ناخبره نه و. هغه دغه دواړه د سر په سترګو لیدلي وو. دغو متضادو زده کړو او تجربو د ټاګور شخصیت ډېر هر اړخیز (جامع) کړ.

رابندر ناتھ ټاګور د نړۍ ېبلا ېبلو هېوادونولکه انګلستان، جرمني، امریکا، سیلون، چین، ایټالیې، کاناډا، ویتنام ،کمبود یا، لاوس، برما، روسیې او ایران ته سفرونه کړي دي. په دغو هېوادونو کې یې له ولسمشرانو او وزیرانو رانیولې تر بې وزلو وګړو پورې لیدلي کتلي او د هغو له حال څخه یې ځان خبر کړی دی.

په ېبلا ېبلو سفرونو کې له ېبلا ېبلو وګړو سره د هغه اړیکو او لیدنو کتنو هغه ته ډېره تجربه ور په برخه کړه. هغه په لسګونو ډرامې د اشعارو مجموعې، لنډې کیسې او رومانونه لیکلي دي.

د رابندر ناتھ ټاګور ځینې اثار دادي:

۱_ د یوه شاعر نکل
۲_ تصویرونه او سندرې
۳_ د ځنګل ګل
٤_ د فطرت انتقام
٥_ مات زړه
٦_ د وړکتوب سندرې
۷_د اروپایي سیلاني لیکونه
۸_ د لمر سیوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹_ د ماښام سندرې
۱۰_ تېز او توند
۱۱_ خطرناک ښکار
۱۲_ د عالمانو پاچا او نور
۱۳_ د سهار سندرې

د رابندر ناتهـ ټاګور ځینې اثار په پښتو ژباړل شوي دي، لکه : کابلي والا، ګیتا نجلي، تاج او ځینې نور. ګیتا نجلي عبدالرؤف بینوا ژباړلې او لومړی ځل په ۱۳۳۶ هـ . ش . کال په کابل کې چاپ شوی دی. د ټاګور ګیتا نجلي نړیوال شهرت لري. او د نوبل نړیواله جایزه یې ګټلې ده.

د ګیتا نجلي د متن څو بېلګې:

هغه وخت چې زما زړه سخت او وچ شي، نو ته پر ما د رحم باران وکړه راشه!

کله چې ژوند محبت له لاسه ورکړي؛ نو ته د نغمې په پرده کې راشه! کله چې شاوخوا د هنګامه زېږوونکو مشاغلو شور پورته شي او ما د باندې وباسي، نو ته ای زما د سکوت خاونده! د خپل سکون او آرام سره راشه! کله چې زما ښېنوا زړه د زندان په یوه ګوټ کې غلی کښېني؛ نو ای زما پادشاه! ور مات کړه د شاهانه برم او دبدبې سره راشه؛

کله چې زما د زړه پر ارزو باندې د باطلو او هامو غبار پرېوځي نو ته ای یوازې پاکه! ای ته یوازې ویښه! د خپلې برېښنا او تالندې سره راشه!

×××

تا په سیوري کې ځان پټ کړی دی، اې زماګرانه! ته چېرې د ټولو تر شا ولاړ یې؟ دوی تا ټپل وهي، ستا له څنګه د خاورو پر ډک سړک باندې تېرېږي، او ستا هیڅ خیال نه ساتي.

زه دلته له څو ګړیو راهیسې نذرونه په لاس انتظار کومه، لاروي تېرېږي او یو ـ یو ګل مانه اخلي ـ اوس نژدې ده چې ټوکرۍ تشه شي.

د ګهیځ وخت تېر شو او د غرمې هم، د ماښام په سیوري کې زما سترګې له خوبه پټې پټې کېږي. هر څوک خپلو کورو ته ځي، ما ویني راباندې خاندي او ما محجوبوي. زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

گداګرې نجلۍ په شان پلو پر مخ ناسته یم او کله چې دوی ما وپوښتي چې زه څه غواړم؟ نو زه سترګې کښته واچوم او هغو ته هیڅ ځواب نه ورکوم.

اه، ربښتیا هم زه هغو ته دا کله ویلای شم چې ((زه تاته انتظار لرم، تا د راتلو وعده کړې ده)) زه له شرمه ځنګه ویلای شم چې ((زه بې له دې غربته نور څه جهیز (د ورکولو) لپاره نه لرم))

اه، ما دا غرور دخپل زړه په کومې کې پټ کړی دی، زه پر وښو ناسته آسمان ته ګورم، ستا ناڅاپه راتګ په ډېر شان او شوکت په خوب وینم چې: ټولې روښاوې پرې ځلېږي، ستا د بګۍ زرین بیرغ رپېږي، ټول وګړي حیران ولاړ ګوري چې ته راکوز شې زما لوري ته راځې ددې لپاره چې ما له ځمکې پورته کړې، او یوې داسې بې وزلې نجلۍ ته د خپل ځنګ سره د کښېناستو ځای ورکړې چې له شرم او نخو ته داسې رپېږي لکه د ونې پاڼه چې نسیم رپوي ... ((خو وخت تېرېږي او تر اوسه لا ستا د بګۍ د ارابو آواز نشته؛ ډېر د برم او خوښۍ جلوسونه له خپلو سحر کاریو سره تېر شول ـ آیا ته به هم هغه یې چې د ټولو تر شا په یو سیوري کې پټه خوله ولاړ یې؟ او زه به همدغه یم چې ستا په انتظار کې به ژاړم او په ناکامو ارزوګانو به خپل زړګی ستومانه ساتم؟

د متن لنډیز:

رابندر ناتھ ټاګور د دیوندر ناتھ ټاګور زوی دی. په ۱۸۶۱م. کې په کلکته کې زېږېدلی دی. پلار یې لوی شتمن او مذهبي لارښود (مهاریشي) و. په لندن کې یې د حقوقو په څانګه کې زده کړې کړې وې. آثار یې ډېر لوړ ادبي او هنري ارزښت لري. ځینې کتابونو لکه : ګیتانجلي یې د نوبل جایزه اخیستې ده. ټاګور په ۱۹۰۱م. کال د شانتي نیکیتن بنیاد کښېښود چې بیا په راوروسته کلونو کې په یولوی پوهنتون بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاګور

خرګندونې

(۱) نوبل: دا یوه نړیواله ډالۍ (جایزه) ده چې هر کال په بېلا بېلو علمي او ادبي برخو کې خورا مهمو شخصیتونو ته ورکول کېږي.

(۲) شانتي نیکیتن : (دارالامان) د ټاګور پلار د یوندر ناتهـ ټاګور په دغه ځای کې یو باغ جوړ کړ. خلک به د مراقبې او تفکر لپاره ورتلل او د هیڅ دین او مذهب خلک ترې منع نه وو. ټاګور بیا په ۱۹۰۱ م. کال کې دلته یو ښوونځی جوړ کړ چې وروسته په پوهنتون بدل شو او د شانتي نیکیتن په نوم یاد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- را بندر ناتهـ ټاګور د چا زوی او په کوم ځای کې زېږېدلی و؟
- د رابندر ناتهـ ټاګور کوم کتاب د نوبل جایزه اخیستې وه؟
- د رابندر ناتهـ ټاګور د ځلورو کتابونو نومونه واخلئ؟
- د ټاګور کورنۍ له مالي پلوه څه ډول وه؟

۲ـ د ګیتا نجلي همدغه نمونه چې دلته راغلی ده ولولئ او پرمفهوم باندې يې وار په وار خبرې وکړئ.

۳ـ په دغو بېلګو کې کوم ډول نومځري پیداکولای شئ، ځانګړي، ملکي، مبهم او نور په نښه يې کړئ.

٤ـ لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروئ:

هنګامه، برم، او هام، محجوب، نخوت

۵ـ ټاګور د کوم ځای شاعر او لیکوال و؟

الف ـ د هندوستان ب ـ د بنګال ج ـ پاکستان

کورنۍ دنده

د دې لوست له ټول متن څخه ستاینومونه راواخلئ او په خپلو کتابچو کې يې ولیکئ. سباته يې ټولګیوالو ته واوروئ. له دغو ستاینومونو سره د هغوی ضد هم په خپله کتابچه کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکالو

بیان په دوو ډولو کېږي، په نثر او په نظم، د نثر برخه پراخه ده او هر ډول مطلب او پیغامونه پکې په آسانۍ ځای پر ځای کېدای او لوستونکو ته رسېدای شي. همدا لامل دی چې نثري پانګه تر نظمي پانګې ډېره زیاته وي. له بلې خوا نظم ښه یادېږي او په آسانۍ ذهن ته سپارل کېږي. نثرونه بېلا بېل ډولونه لري. یوه ډول ته یې هنري یا ادبي نثر وایي. ادبي نثر هغه وي چې له ژبنې هنره پکې کار اخیستل شوی وي. ادبي نثر به هرو مرولو پیغام لري، خو د پیغام د بیان لپاره لیکونکی داسې کلمات غوره کوي چې د لوستونکي احساسات او عواطف راوپاروي. ادبي نثر انسان د لورېنې او ښېګڼې لورته هڅوي. په انساني ټولنه کې د مینې، دوستۍ، سولې او امن د رامنځته کېدو غوښتنه کوي.

- که تاسې کوم ادبي نثر لوستی وي نو ووایاست د چا او موضوع یې څه وه؟
- که کومه لنډه کیسه مو لوستې وي، د هغې نثر له نورو عادي نثرونو سره څه توپیر درلود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپلمۍ لويو لويو ګڼو بوټو اوګورو پاڼو کې، هوسۍ له څر نه سر پورته او شخوند يې بند کړ، غوږونه يې بوخ کړل، حيرانه ودرېدله؛ داسې چې له ځانه نه وه خبره. ملخ د سپلمۍ په پاڼه ورو ورو، غلی غلی راغی، د هوسۍ غوږو ته نژدې شو:

هوسۍ! څه دي؟ ولې حيرانه يې؟ ولې خپه يې؟ او هو! دا اوښکې! ولې واښه نه خورې؟ پسرلی تېر شو... واښه وچ شول څه!؟ که ترې يې؟

هوسۍ په يوه نېب يوه طرف ته سترګې بکې کړي دي او غوږونه تکئ.

ملخ بيا وويل: د چا ښکالو ده څه؟

هوسۍ ديکه وخوړه: هو! نه واښه وچ دي او نه ترې يم ښکالو ده. د چا ښکالو! د چا د يا د ښکالو!!

ملخ : پوه نه شوم.

هوسۍ: ته لا نه وې، دا سپلمۍ ورې ورې وې، زه او آشنا مې دلته څرېدو، ښکالو شوه، ما دغه شان غوږونه بوخ کړل، آشنامې دغه شان وويل، همدغه شان لکه تا چې وويل...ډز شو... مور ټوپ کړ، زه ليرې لاړم. اه ... پل مې واخيست، وينې پسې لاړم آن د پاچا تر باغه ... د پاچا د زوی سر کلي و... سندرې ويل کېدې، غوښې وريتېدې، بېګمې خندېدې. ملکه په تخت ناسته وه، زما د سترګو په اوښکو پوه شوه، لکه چې ته پوه شوې. اخر زنانه عالم و. ما وويل بي بي مېرمنې! زما د آشنا تيکې ستا باورچي خانه کې وريتېږي، خو دا څرمن يې ماته راکړه. زه به يې په يوه ونه کې اويزانده کړم... ورته به ګورم د زړه سود به پرې کوم.

ملکې وويل: نه څرمن تاته نه شي درکولی. سوبلو وويل: نه، هيڅېرې نه! دې نه به مور تمبل جوړوو.

ګوره غوږ کېږده! نن د هغه پاچا د زوی سنت ګيري ده ... تمبل وهلی شي. دغه آواز اورې؟ دا زما د آشنا د څرمنې تمبل دی... په ما يې آواز خوږ لګي. زما پرې سود کېږي. ښکالو ده... زه پرې پوهېږم، ته پرې نه پوهېږې... سود پرې کوم سود!!

((سيد راحت زاخېلي))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

پورتنۍ کیسه د هوسۍ او ملخ ترمنځ د پوښتنو او ځوابونو په بڼه راغلې ده. کیسه داسې ده چې هوسۍ او ملخ په یوه څرځای کې اوسېږي. هوسۍ څه ښکالو اوري، یو دم تېر یادونه ور په زړه کېږي. غونی یې ځیږ شي. د هماغه ډز انګازې یې یو ځل بیا په ذهن کې راغبرګې شي چې د ژوندانه ګران ملګری یې ترې جلا کړی و.

هوسۍ ملخ ته خپله پخوانۍ کیسه کوي. وایي چې زه او یار مې یوه ورځ همداسې په دې ځای کې څرېدو چې څه ښکالو شوه، یو ناڅاپه ډز شو ما لېرې منډه کړه چې ګورم ملګری مې نه و. بېرته راوګرځېدم منډ مې واخیست او د پاچا تر کوره لاړم. ګورم چې د ملګري غوښه مې پخېږي، له ملکې نه مې وغوښتل چې د ملګري څرمن مې راکړي او د یادګار په توګه به یې په یوه ونه کې ځوړنده کړم، د زړه سود به پرې کوم، خو ملکې انکار وکړ او ویې ویل چې له دې څرمنې نه موږ تمبل (چمبه) جوړوو.

اوس د پاچا د زوی سنت ګري ده، له هغې څرمنې نه یې تمبل جوړ کړی، د پاچا د زوی په سنت ګرۍ کې وهل کېږي او زما پر زړه د خپل یار او اشنا یادونه راوریږي.

د لیکوال پېژندګلوی:

سید راحت زاخیلي دسید فریح الله زوی، په ۱۳۰۳ هـ . ق. کال د نوښار په زاخیلو کې زېږېدلی دی. زاخیلی غښتلی لیکوال او منلی شاعر و. د ژباړې په فن کې یې هم پوخ لاس درلود. په ناول او لنډه کیسه لیکنه کې یې ډېر شهرت درلود. د پښور لومړنی پښتو اخبار ((افغان)) د ده په اهتمام راوتلی دی. د ډېرو کتابونو لکه ماه رخ، لغات افغاني، تاریخ افغانستان، د حضرت علي کرم الله وجههُ اقوال، شلېدلې پڼه، د زړه درد، داغستان او د نورو اشارو لیکوال دی. په ۱۳۸۳ هـ . ق. کې یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بیا دې په وارسره د کیسې مفهوم په خپلو خبرو کې ووایي.

۲ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- کیسه د څه شي په اړه ده؟
- په کیسه کې کوم کرکټرونه راغلي دي؟
- د کیسې پېښه څه ډول ده؟

۳ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي.

ـ ښکالو ـ سپلمۍ ـ نېب ـ بکې ـ تکئ

٤ـ که د زده کوونکو دغې کیسې ته ورته کومه کیسه په یاد وي په ټولګي کې دې په لوړ غږ ووایي.

٥ـ زده کوونکي دې په درې ډلو وویشل شي: یوه ډله دې په متن کې نومونه، بله ډله صفتونه او دریمه ډله دې ضمیرونه پیدا کړي او بیا دې د هرې ډلې استازی په ټولګي کې په وار سره د لست له مخې ووایي.

٦ـ زده کوونکي دې په لوړ غږ کیسه داسې ووایي چې د آواز اوچتول، نرمول او وقفه (ځنډ) په نظر کې وساتي. نور زده کوونکي دې لوستل وڅاري.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه په کور کې د کوم لیکوال یوه لنډه کیسه خوښه او په کتابچه کې دې ولیکي یا دې له مور او پلار، نیا او نیکه څخه کومه کیسه واوري او د هغې لنډیز دې په کتابچه کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورۍ ولې کیسې لولو؟

له خپل مور و پلار، مشرانو او همزولو څخه به مو ډېرې کیسې اورېدلې وي. ساعت به مو پرې تېر شوی او خوند به مو ترې اخیستی وي. پر ساعت تېرې او خوند اخیستو سربېره کیسې نورې ښېګڼې هم لري. په کیسو کې روزنیز، اخلاقي او معلوماتي مفاهیم هم نغښتي وي. له کیسو څخه مورۍ روزنیزې، اخلاقي او معلوماتي ښېګڼې هم تر لاسه کولای شو.

ځینې کیسې په یوه ولس یا یوې ژبې پورې اړه لري، خو ځینې کیسې بیا په څو ولسونو او څو ژبو کې شریکې وي. که کیسه په یوه ولس یا یوې ژبې پورې هم اړه ولري، نو ډېرې داسې روزنیزې او اخلاقي ښېګڼې پکې وي چې ټول ولسونه ترې د خپل ژوندانه لپاره ګټه اخیستلای شي.

- کیسې څه ښېګڼې لري؟
- له کیسو نه څه زده کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکایت

یو عالم د یو پاچا په وړاندې خبرې کولې. ناګهانه یې د خبرو په منځ کې وویل چې په هندوستان کې یوه ونه ده که د هغې ونې مېوه څوک وخوري نو هغه سړی به زوړ نه شي او نه به مړ شي. پاچا چې دا خبره واورېدله، نو په هغه ونې باندې مین شو، سودا واخیست چې دا به څه رنګه پیدا شي. لیکن د هغه عالم نه یې پوښتنه نه کوله چې دا ونه به چېرته وي او څنګه به وي. مګر چې د ده پرې ډېر باور و، هغه سړی یې په طرف د هندوستان رخصت کړ او ډېر مال یې ورته ورکړ، ورته یې وویل چې دا دولت لګوه او نور به هم درلېږم، خو هله بېرته راځه چې ماته د دغې ونې مېوه راوړې.

قاصد روان شو چې هندوستان ته ورسېده، نو له خلکو نه به یې هر ځای پوښتنه کوله او ویل به یې چې هغه ونه په کوم ځای کې ده چې سړی یې مېوه وخوري، نو بیا همېشه ژوندی وي او هیڅرې نه زړېږي چې خلکو به دا خبره واورېدله، نو چا به ور پورې خندل چا به ورپورې ټوکې کولې، چا به ویل چې دا لیونی شوی دی، چا به ویل چې موږ ته معلومه نه ده مګر چې دا سړی ورپسې ګرځي، نو معلومېږي چې دا به رښتیا چېرته وي. چا به ویل چې په پلاني ځنګل کې که چېرې وي، نو وي به او بل ځای مې ګومان نه کېږي چې ګوندې پیدا شي. چا به ویل چې په پلاني ځنګل کې یوه لویه ونه ده چې سر یې چا ته نه ښکارېږي او بېخ یې هم نه معلومېږي او مېوه یې هم چا له په لاس نه ورځي که چېرې هغه وي نو شک نشته.

هر چا به ورپورې مسخرې کولې او دی غریب به په ځنګلونو ، غرونو ، میرو او په بیابانونو ګرځېده. حاصل دا دی چې یو خوا بل خوا وړاندې وروسته ښکته پورته ډېر طلب یې وکړ، مګر هیڅ په حال پوه نه شو، نو بېرته راوګرځېده چې وطن ته راته ډېر خپه و او له ځان سره یې ویل چې پاچا ته به څه عذر کوم. په یو ځای کې یې شپه شوه په هغه ځای کې یې واورېده، یو سړي وویل چې زموږ په دې کلي کې لوی عالم دی او بې شانه ښه سړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاصد په زړه کې وویل چې باري ورشم که څه دعا راته وکړي، نو دستي پاڅېد هغه عالم ته ورغی چې ملاقات يې ورسره وشو، نو ورته ويې ويل چې صاحبه دعا راته وکړه چې ايمان مې خدای ﷻ سلامت کړي او په خير سره وطن ته ورسېرم. هغه دعا ورته وکړله او بيا يې ترې پوښتنه وکړه چې چېرته تللی وې.

قاصد ورته دا ټوله کيسه وويله. عالم چې واورېده، نو ورته يې وويل چې تاسو د هغه خپل عالم په خبره نه يې پوه شوي. هغه ونه بله نه ده هغه ونه د علم ده يعنې د علم مېوه چې څوک وخوري، نو هغه سړی به همېشه ژوندی وي او د همېشه ژوندون څه معنا ده، هغه معنا دا ده چې خدای ﷻ وپېژني، نېکي بدي ورته معلومه شي، د نېکۍ عمل کوي او له بدۍ نه ځان ساتي، کتابونه تصنيف کاندې شاګردان ترې پاتې شي، نو هډو که دا سړی په تن مړ هم شي هيڅ غم يې نشته، ځکه چې هلته يې روح ژوندی وي او دلته يې نوم ژوندی وي او ثواب يې داسې کېږي، لکه يو ژوندی سړی چې نېکي کوي او ثواب يې کېږي.

قاصد ورته وويل چې صاحبه مورږ هم دومره پوهېږو، نادانان نه يو که چېرې هغه علم ياد کړی وی، خو مورږ به پوه شوي وو چې علم وايي، ولې هغه د ټولو خلکو د وړاندې ونه يادە کړې ده او په دې خو هرڅوک پوهېږي چې علم د يو څيز نوم دی او ونه د بل څيز.

هغه عالم وويل چې ته بيا پوه نه شوې، تا له مثال په کار دی چې ښه پوه شې. ګوره يو سړی وي نو د چا پلار وي او د چا زوی وي او د چا لمسی وي او د چا نيکه وي او د چا خوريی وي او د چا ماما وي او د چا تره وي او د چا وراره وي او د چا تروروزی وي او د چا تربور وي او د چا ورور وي او د چا آشنا وي او د چا دښمن وي او د چا دوست وي، نو اوس ته ګوره همدغه يو سړی دی او هر نوم له دې نومونو چې په خپل ځای کې ورته څوک وايي، نو ويلی شي که نه شي؟

قاصد ووېل چې بېشکه ويلی شي. نو هغه عالم وويل چې داسې علم ته هم دواړه نومه ويلی شي. که دې خوښه وي نو ورته علم وايه او که دې خوښه وي، نو ورته د ژوندانه ونه وايه، دواړه نومونه يې برابر دي هيڅ فرق په کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاصد چې دا خبرې واورېدلې تسلي يې د زړه وشوله او له عالم نه يې رخصت واخيست او د خپل کور په طرف راروان شو چې ښار ته ورسېده پاچا ورته په امېد کې و چې دربار له ورغی پاچا ترې پوښتنه وکړله، ويل يې چې ووايه مېوه دې ومونډله او که نه دې ده مونډلې؟

قاصد ورته له سره کيسه شروع کړله، خپل ربړېدل او په ملکونو او په غرونو او په بيابانونو ګرځېدل او د خلکو مسخرې کول ټول حال يې ورته بيان کړ. چې پاچا واوريده، نو ډېر خپه شو، ويې ويل چې ستا ربړ عبث شو او زما مطلب و نه شو. پس له هغه قاصد ورته د هغه عالم خبره په ښه شان سره بېله بېله، جدا جدا واورولە. چې پاچا واورېدله ډېر خوشحال شو او قاصد له يې د ګرځېدلو له مشقت نه دوه برابره دولت ورکړ او پس له هغه باقي عمر د علم او د عالمانو په ساتنه او په پالنه کې شو او حکم يې وکړ چې هرځوک دې واوري چې علم نه په واړه دی او نه په زاړه دی، خو زده کړه دې کوي که لوی وي او که وړکی وي.

((مولوي احمد))

د متن لنډيز:

دغه کيسه د علم او پوهې د ارزښت په اړه ده. په کيسه کې چې کومه ونه يادە شوې د هغې نه موخه علم او پوهه ده چې علم نه زړېږي او تل تر تله وي. که يو عالم له ژونده سترګې پټې کړي بيا هم د خپل علم له املە يادېږي. او نوم او ياد يې په کتابونو او د شاګردانو په ذهنونو او ژبو کې ګرځي او دغسې عالمان او پوهان د خپل علم له برکته تر پېړيو، پېړيو پورې ژوندي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې کیسه په چوپه خوله ولولي او بیا دې مقصد په ټولګي کې ووایي.

۲ـ زده کوونکي دې د کیسې یو یو پراګراف په وار سره ولولي او خبرې دې پرې وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې د کیسې مطلب په خو لنډو کرښو کې ولیکي او په ټولګي کې دې په وار سره ووایي.

٤ـ زده کوونکي دې په لاندې پاراګراف کې نومونه په نښه کړي او ودې وایي چې کوم ډول نومونه دي:

ګوره یو سړی وي، نو د چا پلار وي او د چا زوی وي او د چا لمسی وي او د چا نیکه وي او د چا خوریی وي او د چا ماما وي او د چا تره وي او دچا وراره وي او د چا تروروزی وي او د چا دښمن وي او د چا دوست وي.

۵ـ زده کوونکي دې په کیسه کې نومځرې (ضمیرونه) پیداکړي چې کوم ډول نومځرې پکې راغلي دي؟

٦ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي.

- قاصد ولې په ځنګلونو کې ګرځیده؟
- پاچا قاصد په څه شي پسې لیږلی و؟
- قاصد د پاچا لپاره څه راوړل؟
- پاچا د قاصد له خبرو نه وروسته څه پریکړه وکړه؟

۷ـ زده کوونکي دې د کیسې ځایونه او اشخاص په ګوته کړي چې کوم ځایونه او کوم اشخاص په کیسه کې راغلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کوونکي دې لاندینۍ کیسه په کور کې په غور سره ولولي، لنډ مطلب دې په خپلو کتابچو کې وليکي او سبا ته دې د ټولګیوالو په وړاندې واوروي.

وايي چې اوښ، غويى او پسه سره ملګري شول په لاره روان وو، د وښو يوه ګډۍ يې ومونډله. پسه وويل چې دا وابنه لږ دي ټول پرې نه مړېږو، که يې ووېشو، نو د يوه کار هم پرې نه کېږي. بنه به دا وي چې په موږ کې کوم چې مشر وي همغه دې وخوري، ځکه چې مشر په هر ځای کې د عزت وړ او حقدار وي.

اوس نو راځئ چې د خپل عمر زياتوالی ثابت کړو. پسه وويل: چې زما تاريخ تر ټولو زيات دی، ځکه چې د هغه پسه سره د خپلوۍ اړيکه لرم چې د حضرت ابراهيم عليه السلام لپاره د جنت نه رالېږل شوی و، نو دا وابنه زما حق دی، تاسو دواړه بايد صبر وکړئ.

غويي وويل: چې ته خو تر ما ډېر کشر يې زه د هغو غوايانو تربور يم چې حضرت آدم عليه السلام په لومړي ځل په جغ ترلي وو او ځمکه يې پرې قلبه کړې وه، نو له دې امله دا وابنه زما حق دی، زه تر تاسو دواړو مشر يم.

په دې وخت کې اوښ غړنګه کښته کړه او د وښو ګډۍ يې په خوله کې اوچته کړه او ويې ويل: چې زما خو د عمر تاريخ ثابتولو ته څه اړتيا نشته؛ ځکه هر چا ته معلومه ده چې زه له بدنه لوی او غټ يم او بل څوک په لوی والي او ځواک کې د ځان جوګه نه وينم، نو بنکاره خبره ده چې په عمر کې هم تر تاسو زيات او پخوانی يم. دا ګډۍ زما حق دی، بايد زه يې وخورم.

چې د چا وي د لاسونو زور قوت
هغه کله د حساب لري حاجت

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ ژبی شاعر سید حسن خان

د پښتو ادب معاصره دوره ډېر نومیالي لیکوالان او شاعران لري. دغو نومیالیو هر یو په خپل وار د خپلو شعرونو او لیکنو له لارې د ټولنې دردونو ته انعکاس ورکړی او د اصلاح او سمون لپاره یې شعرونه ویلي او په نثر کې یې لیکنې کړې دي.

د دغو نومیالیو لیکوالو او شاعرانو د فکر او ادب ذخیره مورږ ته د کتابونو په شکل پاتې ده او زمورږ د معاصر ادب یوه لویه ذخیره ده. په دغه ډله کې یو هم سید حسن خان دی چې په دې لوست کې به یې وپېژنو.

۱ــ په معاصرو شاعرانو کې کوم شاعران پېژنئ؟

۲ــ د خوږ ژبي شاعر سید حسن په اړه معلومات لرئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید حسن خان ((حسن)) د سید حسین پاچا زوی د کونړ له سیدانو څخه و. په ۱۲۷۰ هـ . ش . کال د لغمان په چار باغ کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په خصوصي توګه سرته رسولې وې. بیا یې نورې زده کړې په عسکري ښوونځي کې پای ته ورسولې او د هغه وخت د حرب په وزارت کې یې خپله دنده پیل کړه چې د ژوند په وروستیو کې یې د فرقه مشر په رتبه د حرب په وزارت کې د حربي رئیس په حیث کار کاوه.

ښاغلی سید حسن که څه هم په عسکري چارو کې بوخت و، خو د ځانګړې مطالعې له لارې یې په ډېرو مسایلو کې ژور معلومات درلودل. همدارنګه له پښتو ژبې او ادب سره یې زیاته مینه وه او په پښتو شعر کې د لومړۍ ډلې په شاعرانو کې حسابېده. د سیدحسن د شعر ژبه روانه، خوږه او شعر یې په نادرو خیالاتو او مفاهیمو ښکلی و.

په شعر کې یې انتقادي مضمونونه هم زیات وو. د پښتو له پخواني ادب سره یې هم ژوره مینه لرله، تل یې مطالعه کوله. دغه شعر یې د لوړ خیال او ژور فکر څرګنده نمونه ده:

شاني سنا س دې په سل ځایه اړه شي
راوړه تا پریشاني د زلفو کور ته
هوسۍ غوټه کړه خپل مشك د زړه په ناف کې
چې د سنا د زلفو بوی خور شو هر لور ته

د غازي امان الله خان له واکمنۍ څخه وروسته چې په هېواد کې کورنۍ اړو دوړ رامنځ ته شو، سید حسن خان په ننګرهار کې د ((کور غم)) په نامه یو اخبار راوایست. هغه د ملي یووالي ټینګ پلوی و چې دغه پیغام یې د هېواد د بقا سره تړلی ګاڼه او په خپلو شعرونو کې یې خلکو ته رساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې چې غوندې شئ منفق شئ
ټول وطن به مسخر شي سنا سې زوړ ته
کنه خوار ذلیل به ګرځئ په دنیا کې
نشانه به شئ د ټول عالم پیغور ته

لکه څنګه چې د نوموړي لوړه او خوږه شعري طبعه وه، هماغسې په مجلسونو کې هم ډېر صمیمي و. مجلس یې خوږ او بې تکلفه و. ښاغلی عبد الرؤف بېنوا د سید حسن خان د شعر په اړه داسې وایي.

((د ده اشعار زیاتره اصلاحي، تنقیدي او نهضتي روح لري او د وطن خواهۍ لوړ احساس پکې ځلېږي. د ده له اشعارو څخه څرګندېږي چې ده غوښتي دي چې پخپلو سوځوونکو اشعارو ولس راویښ او د هغوی د افکارو لاره اصلاح کړي. حتٰی کله کله په ډېرو سختو او درشتو الفاظو د قوم نا اهلان تنبیه کوي.))

څرنګه چې دی یو مبارز و، نو تل یې د استبداد په وړاندې دریځ لاره. له دې امله یې د ژوند ډېره برخه د وخت په زندانونو کې تېره کړه.

دغه خوږ ژبی او نومیالی شاعر په ۱۳۱۹ هـ . ش . کال په کابل کې وفات شو.

د سید حسن خان حسن د کلام نمونه داده:

په نغمه لکه بلبل غږ یدل زده کړه
پښه خوله وینا د ګل له بلبل زده کړه
رخت په سر کړه له غنچې نه رابهر شه
په هوا لکه وږمه چلېدل زده کړه
د اغزي په څېر د ګل سره همراز شه
په ځیره صورت د ګلو ساتل زده کړه
نسترن شه په اغوش سرو ازاد کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر بوټي د ګلشن تاوېدل زده کړه
مړۍ دو له وېرې نه غورېږي ولې
اندېښنه پرېږده غوټی توکل زده کړه
کورنۍ مرغه په شان به خومره ژوند کړي
د شاهین په دود ازاد الوتل زده کړه
که د نورو اسایش او ارام غواړې
ګهواړې غوندې د ځان کړېدل زده کړه
ګرندی شه کاروان هسې کړه منزل لنډ دی
د جرس په اواز تلل او راتلل زده کړه
راحت پرېږده زحمت واخله سید حسنه!
د وطن په درد و غم ژړېدل زده کړه

د متن لنډیز:

سید حسن خان حسن د پښتو ژبې نومیالی شاعر و. په عسکري چارو کې د حرب رئیس و. اصلي ځای یې کونړ او په لغمان او کابل کې اوسېده. د ملي احساس خاوند او په وطن مین شاعر و چې شعرونو یې انتقادي او اصلاحي بڼه درلوده. په شعر کې یې هنري اړخ هم پیاوړی و. سید حسن خان په معاصره دوره کې هغه شاعر و چې د شعر پیغام یې په ښکلې هنري جامه کې رانغښتی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي.

- سید حسن خان حسن د کومې دورې شاعر و؟
- د سید حسن خان د شعر پیغام څه و؟
- سید حسن خان څه دنده درلوده؟

۲ـ زده کوونکي دې په وار سره شعر ولولي او مفهوم دې په خپلو خبرو کې ووایي.

۳ـ زده کوونکي دې د سید حسن خان د شاعرۍ مهم ټکي په یو، یو پراګراف کې ولیکي او بیا دې په وار سره په ټولګي کې ووایي.

٤ـ زده کوونکي دې په لاندې بیتونو خبرې وکړي او هر یو دې خپل نظر څرګند کړي:

ژړیدو له وېرې نه غورېږي ولې
اندېښنه پرېږده غوتۍ تو کل زده کړه
کورنۍ مرغه په شان به څومره ژوند کړي
د شاهین په دود از اد الوتل زده کړه
که د نورو اسایش او ارام غواړې
ګهواړې غوندې د ځان کړېدل زده کړه

۵ـ لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروئ:

۱ـ انعکاس ۲ـ حرب ۳ـ درشت ٤ـ نااهلان
۵ـ اسایش ٦ـ ګهواره ۷ـ جرس ۸ـ استبداد
۹ـ مبارز ۱۰ـ دریځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦ـ په لاندې جملو کې کوم نومځري (ضميرونه) راغلي دي، په نښه يې کړئ:

- زه بل قلم درکوم.
- ستا بکس مې هيڅ په کار نه دی.
- څوک به زما د پوښتنې ځواب ووايي؟
- نور مېلمانه هم راغلل.

ولې درس وايو؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د سيد حسن خان حسن د شعر لاندې بيتونه په کور کې ولولي او د هغو مفهوم دې په څو کرښو کې وليکي او بله ورځ دې هغه په ټولګي کې واوروي.

که د نورو اسايش او ارام غواړې
ګهواړې غوندې د ځان کړېدل زده کړه
ګرندی شه کاروان هی کړه منزل لنډ دی
د جرس په اواز تلل او راتلل زده کړه
راحت پريږده زحمت واخله سيد حسنه!
د وطن په درد و غم ژړېدل زده کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اپينو زيانونه

نشه د اسلام په سپېځلي دين کې حرامه بلل شوې ده. هر ډول نشه د بدن ذهني او بدني ځواک او توان له منځه وړي. له همدې امله معتادين د ټولنې په اوږو بار کېږي او کله کله ناوړه کارونو ته هم لاس اچوي. نشه په ټولنه کې د سړي اعتبار کموي او خلک پرې بې باوره وي. د نشه يي توکو کارول معيوبيت رامنځته کوي او کله د مرګ سبب هم کېږي.

د نشه يي توکو ډولونه زيات دي چې يو ډول يې اپين دي په دې درس کې د اپينو د استعمال زيانونه تاسو ته درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې

ـ اپين څه شی دی او څرنګه لاس ته راځي؟

ـ آيا له اپينو څخه ګټه هم اخيستل کېږي؟

ـ د اپينو د صحي يا جسمي زيانونو په اړه معلومات ورکړئ؟

اپين يوه تور بخنه نسواري ماده ده چې د يوه بوټي له شېرې څخه چې کوکنار نومېږي لاس ته راځي. د انسانانو معلومات د اپينو او د هغه د طبي تاثيراتو په اړه کم تر کمه څلور سوه کاله مخکې تر مېلاده رسي. په ځينو سر چينو کې داسې راځي چې په اروپا کې مجاريان لومړني کسان وو چې د کوکنارو له بوټي سره يې آشنايي پيدا کړې وه. وروسته بيا د روميانو او يونانيانو په ليکنو او آثارو کې د خشخاشو يادونه شوې ده. د اسلامي تمدن په دوران کې هم ځينو شاعرانو په خپلو شعرونو کې د اپينو نوم يادکړی دی او ځينو پوهانو او طبيبانو لکه بلخي ابو علي سينا او محمد زکريا رازي د بېلابېلو ناروغيو د درملنې لپاره له اپينو څخه په ډېره کمه اندازه استفاده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم اپين په طبابت کې په يوه ټاکلې فيصدۍ د دردونو د تسکين لپاره د ځينو دواګانو په جوړښت کې کارول کېږي، خو د نومورو دواګانو استعمال د ډاکټر له اجازې پرته زيات خطر ناک او د ښلا ښلو ناروغيو لکه: سرطاني ناروغيو، مسموميتونو او حتٰی د مړينې لامل ګرځېدای شي.

د اپينو استعمال په لومړي سر کې په معتاد سړي کې يو ډول کاذبه خوشحالي منځته راوړي، خو له ځنډه وروسته استعمالوونکی شخص ستړيا، زړه بدي او مسموميت احساسوي. تریاکي کسان تل له يوه سخت او مزمن مسموميت سره مخ وي چې دغه مسموميت کله ناکله د مړينې لامل هم ګرځي.

د اپينو او نورو نشه يي توکو استعمال د مليونونو انسانانو د تباهۍ سبب ګرځي او په ټولنه کې اخلاقي انحطاط او ټولنيز ناورين رامنځته کوي، حال دا چې د مخدره توکو د کرکيلې او قاچاقو ګټې د يو شمېر بد مرغو، حريصو او ماده پرستو عناصرو جيب ته ځي چې تل د خپلو شخصي ګټو فکر کوي. د اپينو استعمال او قاچاق په يوه ټولنه کې د ډېرو لويو جرمونو لکه غلا، وژنې، لوټمارۍ، تېري او نورو سلګونو فسادونو لامل ګرځي.

د اپينو روغتيايي او روحي زيانونه:

د اپينو استعمال ښلا ښل زيانونه لري، خو څو خطرناک ضررونه يې دا دي:

۱ـ مسموميت

۲ـ د زړه ناروغي

۳ـ ډنګر توب او د بدن عمومي کمزوري

٤ـ د سړو سرطان

٥ـ د بدن د وزن کموالی

٦ـ د حافظې کمزوري

۷ـ د ستړيا احساس

۸ـ د جنسي ميل کمزوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست اصلي پيغام:

اپين يو ډول نشه يي توکی دی چې استعمال يې د بېلا بېلو ناروغيو، لکه: سرطان، زېړي، د زړه درېدنې، د وينې د فشار، خپګان او د انزوا سبب ګرځېدای شي او ټولنه د ناورين او نابودی کندې ته غورځوي.

خرګندونې

۱ـ مسمومیت: زهرجن کېدل

۲ـ د حافظې کمزوري: د خبرې هېرول

۳ـ مزمن مسمومیت: په دوامداره توګه د بدن زهرجن کېدل.

٤ـ اخلاقي انحطاط: اخلاقي کمزورتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- د مخدره توکو استعمال څه ډول زیانونه منځ ته راوړي؟
- د مخدره توکو روحي او ځاني زیانونه وویاست؟

۲ـ زده کوونکي دې متن په اوچت آواز ولولي او د درس مفهوم دې په لنډو ټکو کې ووایي.

۳ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي.

۱ـ معتاد ۲ـ کاذب ۳ـ مزمن ٤ـ ناورین ٥ـ انزوا

٤ـ زده کوونکي دې سم ځواب په پنسل په نښه کړي:

- د اپینو استعمال:

الف: بدن قوي کوي

ب: حافظه قوي کوي

ج: د زړه ناروغي رامنځته کوي.

٥ـ زده کوونکي دې ناسم ځواب په نښه کړي:

د اپینو کارول:

۱ـ مسمومیت رامنځته کوي.

۲ـ بدن ډنګر او کمزوری کوي.

۳ـ د سږو سرطان رامنځته کوي.

٤ـ حافظه غښتلې کوي.

٦ـ زده کوونکي دې په وارسره د اپینو د استعمال زیانونه څرګند او وشمېري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کوونکي دې په خپل چم او ګاونډ کې وګوري، که کوم معتاد وي د هغه په اړه دې څوک رښې وليکي او بله ورځ دې په ټولګي کې واوروي.

يا:

زده کوونکي دې د نشې په اړه يوه رښتينې کيسه وليکي او بله ورځ دې په ټولګي کې واوروي.

روږدی او دارو

د يوه روغتون رئيس د روغتون کتنه کوله، په يوه واټ کې و چې د يوه ناروغ زګړوي يې واورېدل. ورنژدې شو، تر روغبړ وروسته يې ترې وپوښتل:

نن دې دارو خوړلي دي؟

ناروغ وويل: نه ځار دې شم! دارو يې را نه کړل.

رئيس په ډېره غوسه نرس ته غږ کړ، ورته ويې ويل: ولې دې نن دارو نه دي ورکړي؟

نرس له ناروغه پوښتنه وکړه، ګولۍ دې خوړلې دي؟ ناروغ وويل: هو! بيا يې ترې وپوښتل پېچکاري يې درته کړې ده؟

ناروغ وويل هو! په دې وخت کې رئيس ناروغ ته وويل: ښه نو لکه چې داګولۍ او پېچکاري دارو نه دي؟!

نرس وويل: ښاغلی ډاکټر صاحب دا ناروغ روږدی دی او يوازې ((اپين)) دارو ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحمان بابا

په پښتو شاعرانو کې تر ټولو مقبول يا ډېر منلی شاعر څوک دی؟

د پښتو ادبياتو د تاريخ په منځنی (کلاسيکه) دوره کې ډېر ښه او غوره شاعران تېر شوي دي چې يو يې عبدالرحمان بابا دی. په پښتو شاعرانو کې چې کوم عام مقبوليت او درناوی د عبدالرحمان بابا په برخه دی، تر دې وخته د بل هيڅ شاعر نه دی په برخه شوی.

په اووم ټولګي کې مو د همدغې دورې يو بل مشهور شاعر عبدالقادر خټک وپېژانده، په دې لوست کې به د عبدالرحمان بابا په اړه ولولئ.

- د عبدالرحمان بابا په اړه څه معلومات لرئ؟
- ولې عبدالرحمان بابا په ولس کې زيات مشهور دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومیالی عارف، مشهور صوفي او خورِ ژبی شاعر عبدالرحمان بابا د عبدالستار زوی دی. عبدالرحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ . ق . کې د پېښور ښار ته نژدې په بهادر کلي کې زیږېدلی دی.

له زیات ټولنیز مقبولیت او ادبي شهرت سره سره د رحمان بابا د ژوندانه په اړه هر اړخیز معلومات نشته. که څه هم د خلکو په منځ کې د هغه د ژوند پېښو په اړه ځینې شفاهي روایات او کیسې شته، خو د مستندو او باوري منابعو د نشتوالي له امله هغه دومره باوري نه دي.

د عبدالرحمان بابا په اشعارو کې هم د هغه د ژوندانه د حالاتو په اړه ډېرې لږې څرګندونې راغلې دي چې د هغو له مخې د هغه د ژوندانه په اړه هم ډېر معلومات نشو ترلاسه کولای.

د عبدالرحمان بابا د ژوندانه زمانې ته نژدې لیکوال محمد هوتک په خپل اثر پټه خزانه کې د عبدالرحمان بابا په اړه لیکلي دي:

((د فقهې او تصوف کتابونه یې په پېښور کې له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه ولوستل. د نورو علومو د زده کړې لپاره کوهاټ ته لاړ او ډېر علوم یې هلته ولوستل او لوی عالم شو.))

عبدالرحمان بابا آن د ځوانۍ له وخته ډېر پرهېزګار او عابد انسان و. تل به د خدای ﷻ په عبادت بوخت و.

داسې معلومېږي چې عبدالرحمان بابا د ځوانۍ له مهاله دریاضت اوعبادت تر څنګ شعر هم وایه. د بابا شعر د هغه د شخصیت پېژندلو ښه هنداره ده. په اشعارو کې یې دیني، اخلاقي، ټولنیز او نور مسایل نغښتي دي. عبدالرحمان بابا په پښتو شاعرۍ کې ځانته ځانګړې لاره درلوده چې تر هغه وروسته ډېر شاعران د هغه پر لاره تللي دي.

عبدالرحمان بابا په خپلو اشعارو کې د خپل وخت او د ځینو پخوانیو شاعرانو یادونې کړي دي. په پښتو کې یې د میرزا خان انصاري[۱]، دولت لوانې[۲]، خوشحال خان خټک[۳] او نورو نومونه یاد کړي دي. همدارنګه یې د سنایي غزنوي[۴]، حافظ شېرازي[۵] او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونه هم یاد کړي دي. له دې څخه داسې نتیجه اخلو چې عبدالرحمان بابا په شعر و شاعرۍ کې ښه مطالعه درلوده. علم او پراخې مطالعې د هغه په شاعرۍ اغیز کړی دی او د هغه شعر یې په ولس کې دومره مقبول کړی چې ټول یې په کورونو کې د شعر دیوان لولي اوفالونه پرې ګوري.

د عبدالرحمان بابا په شاعرۍ کې د الله ﷻ او د رسول ﷺ مینه پرته ده موږ ته د پند، ننګ، غیرت، لوړهمت، قناعت، سخاوت، زیار او بشردوستۍ درس هم راکوي.

عبدالرحمان بابا یو ټولنیز مصلح دی. د ټولنې هوساینه او نېکمرغي غواړي او د دغې نېکمرغۍ رښتینې لاره انسان ته ورښیي.

د عبدالرحمان بابا شاعري ډېره پراخه او عامه ده. د هر عمر او هر مزاج څښتن چې یې شعرونه لولي، داسې انګېري چې دا شعرونه یې زما لپاره ویلي دي. د عبدالرحمان بابا شاعري د هر چا ذوقي تنده ماتوي.

عبدالرحمان بابا په خپله یو ځای د خپل شعر په اړه وایي:

چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي
دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز



عبدالرحمان بابا په ۱۱۲۸ هـ . ق . کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې او د پېښور په هزارخانۍ هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی. قبر یې د افغانستان د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۳۶ هـ . ش . کې جوړ شوی دی.

په زیارت یې هر کال پسرلنۍ مشاعره کېږي. ډېر شاعران، لیکوال او نور وګړي یې زیارت ته ورروان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالرحمان بابا یو ښکلی صوفیانه غزل:

که څوك لاس له سوده وکاږي زیان نشته
په ملنګ باندې قلنګ او تاوان نشته
د وفا خریدارانو دې بل خوا درومي
دا متاع د زمانې په دوکان نشته
جدایي له اشنایه پیدا کیږي
نا اشنا له هیڅ غم د هجران نشته
مګر ځان و خدای ﷻ ته پاسلي په امان شي
ګنه بل خوا ته د هیڅا امان نشته
هغه یار به زه و کومه خوا ته غواړم
چې یې هیڅرې منزل او مکان نشته
دلبران که هر څومره دي په جهان کې
زما یار غوندې دلبر په جهان نشته
چې هم قدلري، هم زلفې، هم سرې شوندې
دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته
عشق عاشق له یو هسې ګلستان دی
چې وباغ وته یې لاړ د خزان نشته
عاشقان په عشق کې واړه سلطانان دي
په دا نهر کې نیست ګار او ناتوان نشته
که مجنون غوندې په عشق کې څوك صادق شي
د لیلی په دروازه کې دربان نشته
دانایان به د رحمان په قال پوهیږي
دلته کار د هر نااهل و نادان نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنديز:

د عبدالرحمان بابا د پلار نوم عبدالستار خان دی. هغه په ۱۰٤۲ هـ . ق. کې زېږېدلی دی. په پښتو ژبه کې تر ټولو زيات مقبول شاعر دی.

شعرونه يې ډېر ژور صوفيانه او عارفانه رنګ لري. د شعرونو د يوان يې څو ځله چاپ شوی دی. په انګرېزي او اردو ژبو هم ژباړل شوی دی.

عبدالرحمان بابا په ۱۱۲۸ هـ . ق. کې مړ او د پېښور د هزارخانې په هديره کې ښخ دی. زيارت يې په ۱۳۳٦ هـ . ش. کال کې د پښتو ټولنې له خوا جوړ شوی دی.

خرګندونې

۱ـ ميرزا خان انصاري: ميرزا خان انصاري د روښاني غورځنګ يو شاعر و چې تر عبدالرحمان بابا پخوا تير شوی دی.

۲ـ دولت لوانۍ: دولت لوانۍ هم د روښاني غورځنګ او د ميرزا خان د وخت شاعر و.

۳ـ خوشحال خان خټک: د پښتو ژبې مشهور شاعر چې تر عبدالرحمان بابا دمخه و.

٤ـ سنايي غزنوي: د فارسي ژبې مشهور شاعر و.

۵ـ حافظ شيرازي: د فارسي ژبې مشهور شاعر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې هر یو د عبدالرحمان بابا په اړه معلومات وړاندې کړي.

۲ـ زده کوونکي دې شعر په لوړ آواز ولولي او هر زده کوونکی دې یو، یو بیت معنا کړي.

۳ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي.

- عبدلرحمان بابا چېرې زېږېدلی او چېرې ښخ دی؟
- عبدالرحمان بابا له چا نه زده کړه کړې وه؟
- د عبدالرحمان بابا شعر ولې په ولس کې دومره مقبول دی؟

٤ـ زده کوونکي دې د عبدالرحمان بابا د شعر ځانګړتیاوې په خو کرښو کې ولیکي او په ټولګي کې دې په وار سره ووایي.

۵ـ زده کوونکي دې ووایي چې په لوست کې پر عبدالرحمان بابا سر ببره نور کوم شاعران راغلي دي.

٦ـ ستاسې د عبدالرحمان بابا شعر ولې خوښېږي؟ خپل نظر څرګند کړئ!

۷ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي.

اعجاز　　قلنګ　　متاع　　پاسلی　　قال　　دربان

کورنۍ دنده

که د عبدالرحمان بابا په څېر د کوم بل شاعر په اړه معلومات لرئ په کور کې یې ولیکئ او بله ورځ یې په ټولګي کې واوروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبه او چاپېر یال

اوبه د الله تعالیٰ ډېر ستر نعمت دی. ټول ژوي، ونې او بوټي په اوبو ژوندي وي. له اوبو پرته د نړۍ پرمخ ژوند ناشونی دی. ونې او بوټي ځنګلونه او ورشوګانې جوړوي. ځنګلونه او ورشوګانې چاپېریال سمسوروي. هوا پاکوي، د ژوبو استوګنځایونه او خواړه برابروي، نو د اوبو سرچینې باید وپېژنو او پر اهمیت یې پوه شو.

- اوبه د ژوندانه سره څه اړیکه لري؟
- د چاپېریال په ښېرازۍ کې د اوبو د اهمیت په اړه څه فکر کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبه د الله تعالیٰ ﷻ یوستر نعمت دی. بې اوبو د نړۍ یو ژوی هم ژوندی نشي پاتې کېدای. که اوبه نه وای، نو د ځمکې پر مخ ژوند کول ناشوني وو. ټول حیوانات، نباتات او انسانان د ژوندانه لپاره اوبوته اړتیالري. دچاپېریال له بېلابېلو توکو څخه ژوي ګټه اخلي، د چاپېریال ښکلا او ښېرازي هم د اوبوپه شتون پورې تړلې ده.

ونې بوټي هم په اوبو زرغونېږي.ونې بوټي ورشو ګانې او ځنګلونه جوړوي. دغه ورشوګانې او ځنګلونه د چاپېریال د سمسورتیا او ښېرازۍ لامل ګرځي. ځنګلونه د هوا پر پاکولواود اوبو پر زېرمه کولوسربېره د ودانیو او سون لرګي برابروي. ځنګلونه د ویجاړوونکو بادونو او سېلابونو مخه هم نیسي.

د حیواناتوډېره اندازه خواړه له وښو او بوټو څخه ترلاسه کېږي اوغلې دانې د انسانانو د خوړو یوه مهمه برخه برابروي. واښه، بوټي، او غلې دانې هم د خپلې ودې لپاره اوبو ته اړتیا لري. دا ټولې ښېګڼې د اوبو له برکته دي. اوسنۍ پرمختیاوې د برېښنا او برېښنا د اوبو له برکته رامنځ ته شوې ده.

مورږ ویلای شوچې د ځمکې پر مخ د اوسېدو ټول امکانات د اوبو له شتون سره تړلي دي، نو پر دې باید پوه شو چې اوبه له کومو سرچینوترلاسه کېږي او زمورږ په ژوند کې څومره اهمیت لري.

د اوبو تر ټولو غوره سرچینې بارانونه او واورې دي. له ویلې شویو واورو او بارانونو څخه ډنډونه، خوړونه، سیندونه او سمندرونه جوړېږي. د بارانونو او ویلې شویو واورو د اوبو یوه برخه په ځمکه کې جذبېږي، دغه جذبې شوې اوبه د چینوپه ډول او یا هم د کاږېزونو او څاه ګانو د کیندلو له لارې هم دګټې اخیستنې وړ ګرځي.

د ډنډونو، خوړونو، سیندونو او سمندرونو اوبه کله زیاتېږي او کله کمېږي. دغه زیاتوالی او کمښت په اورښت پورې تړلی وي. که اوبه کمې شي د چا پېریال په ښېرازۍ ناوړه اغېز کوي، د تودوخې د درجې د لوړېدو لامل ګرځي او کرکیلې ته هم زیان رسېږي. دغه ټول توکي بیا د ژویو او په ځانګړي ډول د انسانانو له ژوندانه سره کلکه او نېغه اړیکه لري، یعنې د انسانانو پر ژوند هم ناوړه اغېز کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د هېواد د کرنیزوځمکو لویه برخه په روانو اوبو خړوبېږي؛ خو یو شمېر للمي کرنیزې ځمکې د باران په اوبو هم خړوبېږي.

زمونږ دهېواد په ډېرو سیمو کې د روانو اوبو سرچینې شته چې د کرکیلې، بربښنا او څښاک لپاره تر ډګه اخیستل کېږي؛ خو د یو شمېر سیمو روانې اوبه کمې دي ؛ نوخلک د جوړونو(ډنډونو) په واسطه خپلې ځمکې خړوبوي. دا طریقه زیاتره په غرنیو سیمو کې ترسره کېږي او یا په هغو ځایونو کې عملي کېږي چې روانې اوبه نه لري او یا ډېرې لږې وي.

دغه لږې اوبه لومړی زېرمه کېږي او بیا تر د اړتیا په وخت کې کار اخیستل کېږي. که څه هم دغه کار یو څه ستونزمن دی ، خو په ځینو سیمو کې د کروندګرو د ستونزو لیرې کولو یوازینی لاره ده. دغه کار د چاپېریال په سمسورتیا او ښکلا کې هم ونډه لري. د دې ترڅنګ په ځمکه کې د جذب شویو اوبود رااېستلو نورې طریقې هم شته. د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو سيمو کې دغه تر ځمکې لاندې اوبه راباسي او په بېلابېلو برخو کې تړي کار اخلي. کاريزونه او څاه ګانې د دغو اوبود رااېستلو يوه غوره طريقه ده.

د اوبو د منابعو پر موندلو سربېره د اوبو پاکوالی ډېر زيات مهم اواړين دی، که دغه اړخ ته کلکه پاملرنه ونشي؛ نو انسان په ډول، ډول ناروغيو اخته کېږي. موږ بايد د اوبو زېرمې بېځايه ونه لګوو او هم د اوبو په پاکو ساتلو کې مرسته وکړو او د ککړتيا مخه يې ونيسو، چې ځان او ټولنه مو له ناروغيو څخه وژغورو.

اوبه د ځمکې پر مخ هغه طبيعي او ضروري توکی دی چې له شتون پرته يې په نړۍ کې ژوند ناممکن دی. په کار ده چې له اوبو څخه پرځای اوسمه ګټه واخلو او تر ممکنه حده يې د پاکوالي او سپما خيال وساتو، ځکه چې اوبه يو حياتي توکی دی او له دې سره سره په ډېرو هېوادونو کې اقتصادي او تجارتي توکی هم دی چې ځينې هېوادونه له دغې لارې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ډېره ګټه تر لاسه کوي.

د اوبو اهمیت په پښتو ادبیاتو کې هم ډېر زیات منعکس شوی دی، د بېلګې په توګه د پښتوادبیاتو د منځنۍ دورې د خورا مشهور او نامتو شاعر عبدالرحمٰن بابا د یوې قصیدې، څو بیتونه لولو:

هر چې کښت یې په باران او په سیلاب وي
د هغو عمر به واړه په عذاب وي
هغه ملک چې پکې سیند او رودبار نه وي
دهقانان به یې همه خانه خراب وي
و آسمان ته به یې سترګې وي خلې
د باران له انتظاره به بې خوابه وي
لکه څوک چې تلوي یې په کړهي کې
د هغه ماهي په طور به کباب وي
لا به کله باران ونه پرې نزول شي
چې نخیل و زراعت به یې سیراب وي

د متن لنډیز:

اوبه د ژوند ماده ده. نباتات یا ونې او بوټي د خپلې ودې او نمو لپاره اوبو ته اړتیا لري، ټول ژوي د ژوندانه لپاره اوبو اوسمسور چاپېریال ته اړتیا لري. زمونږ په هېواد کې اوبه د انرژۍ د تولید یوازینۍ او آسانه وسیله ده . د اشرف المخلوقات (انسان) په لاس رامنځته شوي اوسني حیرانوونکي پرمختګونه د اوبوپه انرژۍ پورې تړلي دي.

مونږ باید د دې مهمې او ارزښتناکې حیاتي مادې په زېرمه کولو، پاکو ساتلو او بې ځایه نه مصرفولو کې فعاله ونډه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن د کتاب له مخې په لوړ غږ ولولي.

۲ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د اوبو پر منابعو خبرې وکړي.

۳ـ څو نور زده کوونکي دې د چاپېریال په اړه وغږېږي.

٤ـ یوه ډله زده کوونکي دې ګران لغتونه پر تخته ولیکي، بله ډله دې د ښوونکي په مرسته هغه معنا کړي.

٥ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي بیا دې معنا او په جملو کې وکاروي او په وار سره دې په ټولګي کې ولولي.

چاپېریال منابع سمسورتیا اهمیت اړیکي ستونزې

٦- زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي، د درس لنډ مفهوم دې په کتابچو کې وليکي او بیا دې په ټولګي کې واوروي.

۷ـ هر زده کوونکی دې په خپل وار سره د دوو مېوو نومونه واخلي.

کورنۍ دنده

ځنګلونه او ونې بوټي په چاپېریال کې څه اغېزې لري. په دې اړه په کور کې یو مخ لیکنه وکړئ او بله ورځ یې په ټولګي کې واوروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه بابا ـ ملي مشر او شاعر

هر ملک او ملت ملي او سياسي اتلان لري زموږ دګران هېواد افغانستان له نوميالیو مشرانو او اتلانو څخه یو هم احمد شاه بابا دی.

زموږ هېواد څه نا څه دوه پېړۍ د پرد یو یرغلګرو د لاس وهنو له کبله پاشلی او د کورنیو جګړو ښکار شوی و چې د احمدشاه بابا په هلو ځلو يې ببرته خپل پخوانی برم تر لاسه کړ. په دې درس کې تاسې ته د احمدشاه بابا په اړه معلومات درکوو.

- د احمد شاه بابا شخصیت ولې د قدر وړ دی؟
- که د احمد شاه بابا ملي تدبیر نه وای، نو د افغانستان برخلیک به څه ډول و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه بابا د زمانخان زوی د دولت خان لمسی په ۱۱۳۵ هـ . ق . کال په هرات کې زېږېدلی دی. پلار يې په هرات کې د افغاني قبيلو مشر و چې د احمدخان له زېږېدو څو مياشتې وروسته مړ شو.

د احمد شاه بابا پالنه د هغه مور (زرغونې انا) او ورور يې ذوالفقار خان وکړه او په کوچنيوالي کې يې مروجه علوم ور زده کړل.

کله چې د کورنيو ګډوډيو له مخې کډه کولو ته اړ شول، نو لومړی فراه او بيا کندهار ته کډه شول. هغه وخت چې نادر افشار د هرات نيولو ته ملا وتړله، نو په ښکاره يې له افغانانو سره نرم چلند غوره کړ. ډېر افغانان يې په خپل پوځ کې شامل کړل.

احمد شاه بابا هم په ۱۱۴۵ هـ . ق . کال کې د خپلې ځيرکۍ او زړورتيا له مخې د درانې لښکرو د افسر په توګه وټاکل شو. دی په زياتو سفرونو کې له نادر افشار سره ملګری و.

نادر افشار په ۱۱۶۰ هـ . ق . کال کې ووژل شو، احمد شاه بابا د درباريانو له شورش څخه د نادر افشار کورنۍ وساتله. د نادر افشار مېرمنې د دغه خدمت په بدل کې احمدشاه بابا ته د کوه نور الماس وروبښه. د نادر افشار تر مرګ وروسته احمد شاه بابا او نور افغاني عسکر او افسران کندهار ته راغلل. څو ورځې وروسته د افغاني قبيلو مشران د واکمنۍ او مشر د تشې د ډکو لپاره د کندهار د شېر سرخ بابا په زيارت کې سره راټول شول او يوه جرګه يې جوړه کړه.

د دې جرګې غونډې څو ورځې روانې وې. د غونډې په نهمه ورځ د صابر شاه په نامه يو ملنګ راغی او جرګې ته يې وړاندیز وکړ چې د مشرتابه د ټاکلو واک ورکړي، ټولو يې خبره ومنله. هغه په احمدشاه بابا باندې چې مشرۍ ته کاندید هم نه و، لاس کېښود او د غنمو وړي يې په پګړۍ کې ور وټومبه.

په دې توګه احمد شاه بابا په پنځه ويشت کلنۍ کې زمور د هېواد د واکمن په توګه وټاکل شو او د شېر سرخ جرګه په بريالیتوب پای ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه بابا په داسې وخت کې واکمن شو چې زمور هېواد، د بهرنيو يرغلګرو او کورنيو قومي او قبيلوي اختلافاتو له کبله په کندوالو بدل شوی و. د ملي وحدت هغه څلی چې بنسټ يې څو کاله د مخه د ميرويس خان نيکه په لاس ايښودل شوی و، نړېدلی و. په دې وخت کې هغه ته د يو خپلواک افغاني دولت د جوړولو او د ملي وحدت رامنځته کولو درنه دنده مخې ته پرته وه چې په ډېر تدبر يې د دغې درنې دندې ترسره کولو ته ملا وتړله. د دغه ستر ارمان د پوره کېدو لپاره تر هرڅه لومړی د هېواد د ملکي او پوځي چارو سمون ضروري و.

احمدشاه بابا سربېره پر دې چې په پوځي او سياسي چارو کې د زياتې پوهې، زړورتيا، پياوړي عزم او هوډ خاوند و، د افغان ولس په روحياتو او عنعناتو ښه خبر و. هغه په دې پوهېده چې د خپل ولس له بشپړ ملا تړ نه پرته د موجودو ستونزو هواری دروند او مشکل کار دی، نو له ټولو قومونو څخه يې شورا جوړه کړه چې ټولې پرېکړې به د همدغې شورا له خوا کېدې. ډېرې پوځي او ملکي اداري د شورا د پرېکړو په نتيجه کې جوړې شوې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کار وړ کسان یې مقرر کړل.

له پوځي او اداري چارو وروسته یې د ملي وحدت د رامنځته کولو او یو خپلواک غښتلي حکومت مسئله رامخې ته کړه. شورا دا ومنله چې د ټول افغانستان د قومونو مشران دې راوغوښتل شي او یوه لویه جرګه دې جوړه شي چې همداسې وشول او لویه جرګه جوړه شوه.

لویې جرګې د احمد شاه بابا د یو موټي، خپلواک او غښتلي افغانستان د جوړولو تجویز ومانه او هغه ته یې د هغو افغاني سیمو د بیا نیولو اجازه ورکړه چې په ختیځ کې د هند مغلي حکومت او په لوېدیځ کې د ایران صفوي حکومت نیولې وې. احمدشاه بابا هم د جرګې پر مشوره عمل وکړ او لومړی یې ختیځې سیمې له مغلي او بیا لویدیځې سیمې له صفوي حکومتونو څخه بېرته ونیولې او یو غښتلی مرکزي حکومت یې جوړ کړ. سیاسي او جغرافیایي پولې یې ورته وټاکلې او د نوي افغانستان ملي، پوځي او سیاسي بنسټ یې کښېښود.

احمد شاه بابا د خپلې واکمنۍ په وخت کې دې ته هم اړ شو چې د خپل هېواد له سرحداتو څخه ووځي او د هېواد ختیځ خوا تر ډهلي، شمال خوا تر بخارا او لویدیځ لوری تر مشهده پورې ونیسي. د هغه دغه فتوحات د امپراتورۍ جوړول نه وو، بلکې دغو ملکونو ته د عبرت داسې درس ورکول وو چې بیا هیڅکله افغانستان ته په بده سترګه ونه ګوري.

هغه له ډېرو فتوحاتو سره، سره د خپل هېواد سره دومره مینه لرله چې د ډهلي تخت یې هم د خپل هېواد له غرو سره نه برابرا وه. د احمدشاه بابا د پاچاهۍ ۲۶ کلونه د یادونې وړ لوړې ژورې لري. احمدشاه بابا سره له دې چې په ژوند کې یې سیاسي بوختیاوې زیاتې وې، خو د پښتو ژبې له شعر او ادب سره یې هم د زړه مینه لرله. دغه شعر یې له ګران هېواد سره د تودې مینې خورا په زړه پورې بېلګه ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنا د عشق له وينو ډک شول ځيګرونه
سنا په لاره کې بايلي زلمي سرونه
تاته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې اندېښنې د زړه ماروونه
که هر څومې د دنيا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نشي دا سنا ښکلي باغونه
د رقيب د ژوند مناع به تار په تار کړم
چې په تورۀ پښتانه کا گوزارونه
د دهلي تخت هېروم چې را ياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
که تمامه دنيا يو خوا، ته بل خوا يې
زما خوښ دي دغه سنا تش ډګرونه
احمد شاه به دغه سنا قدر هېر نه کا
که وينسي د تمام جهان ملکونه

له بده مرغه زموږ هېواد د بېلا بېلو ښکېلاګګرو د تاړاکونو پر مهال تر هر څه زيات فرهنګي زيانونه ليدلي دي. زموږ د هېواد د علمي او فرهنګي پرمختګ بهير د نادر افشار په تاړاکونو کې هم ډېر ټکنی شو. کندهار د څه وخت لپاره خپل مرکزي حيثيت له لاسه ورکړ. کله چې د احمد شاه بابا په لاس په ۱۱۶۰ هـ . ق . کال کې د يو ځواکمن او خپلواک افغاني دولت بنسټ کښېښودل شو، کندهار يو ځل بيا د پخوا په څېر د علم او فرهنګ مرکز شو.

احمد شاه بابا په خپله يو عالم، ادیب، فاضل او مدبر پاچا و. هغه ډېر عالمان، ادیبان او د نورو علومو او فنونو کارپوهان خپل دربار ته راټول کړل. د ډېرو علمي او ادبي کورنيو پالنه يې وکړه. بيا دغو کورنيو هرې يوې په خپل وار سره د هېواد د ولسونو په عملي، فکري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګي روزنه او پالنه کې د یادولو وړ خدمتونه وکړل.

لکه څرنګه چې احمد شاه بابا په خپله شاعر و، همداسې یې د کورنۍ او دربار ځینې غړي هم د پښتو ژبې شاعران وو. د ده د پاچاهۍ په زمانه کې نورګڼ شمېر لیکوال او شاعران هم رامنځته شوي دي.

د کورنۍ له غړو څخه یې د یادونې وړ شاعر د ده مشر زوی تېمور شاه و. تېمورشاه په پښتو او دري دواړو ژبو شعرونه ویل، په دري کې د شعرونو دیوان لري. په دغه دېوان کې یې څو پښتو غزلې هم شته.

د احمد شاه بابا د دربار له ارکانو څخه وکیل الدوله، عبدالله خان هم د پښتو ژبې تکړه شاعر و.

د پښتو په ادبي څېړنو کې دا خبره هم راغلې ده چې د لوی احمدشاه بابا تر پاچاکېدو وروسته پیر محمد کاکړ د خپل علمي شهرت او فضلیت له مخې کندهار ته راوبلل شو او د بابا او د ده د زامنو او حتٰی چې د ده تر لمسیو پورې په دربار کې مقرب سړی و. پیرمحمدکاکړ د احمد شاه بابا د زوی شهزاده سلیمان خاص استاد و. هغه د پښتو ژبې له ښو شاعرانو او د پښتو له ډېرو لویو عالمانو څخه و، چې د پښتو ژبې ګرامر (معرفت الافغاني) یې ولیکه.

ـ حافظ ګل محمد مرغزي د احمد شاهي شاهنامې لیکوال د موسٰی زوی د پښتونخوا د صوابۍ مرغز اوسېدونکی او د دربار لیکوال و.

ـ د احمد شاه بابا د رزمي کارنامو شاعر محمد رفیق خان علي زی دی چې له کندهاره د احمد شاه بابا له لښکرو سره د هند پر لور تللی و، ببرته ستون نه شو او دصوابۍ په کونډه نومي کلي کې پاتې شو. د شعرونو دیوان یې لا تر اوسه نه دی چاپ شوی.

ـ د پښتو ژبې یو بل عروضي شاعر او د عروضو عالم میاشرف الکوزی هم د پاني پت په جګړه کې له احمدشاه بابا سره ملګری و. دې په اصل کې د ننګرهار د ګردي اوسېدونکی و. ډېرې غزلې او قصیدې یې په دیوان کې شته. د پښتو ژبې بل شاعر چې د احمد شاه بابا په وخت کې اوسېده برهان خان د نادر خان زوی د پښتونخوا د هزارې د سیمې اوسېدونکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دوره کې د عالمانو، ادیبانو او فرهنګیانو په ډله کې ځینې نور کسان هم د ځانګړې یادونې وړ دي، لکه: میافقیرالله جلال آبادي، ملا محمد غوث، مولوي محمد ابراهیم، ملا فیض الله دولت شاهي او نور.

د احمدشاه بابا په پاچاهۍ کې په هند کې هم شاعران، ادیبان او لیکوالان رامنځته شول چې زیات یې د احمدشاه بابا له خوا پالل شوي او نازول شوي دي.

تیمور شاه هم د خپل پلار (احمد شاه بابا) د وخت علمي او فرهنګي کورنۍ وپاللې. د ده دربار هم د لیکوالو او شاعرانو د راټولېدو ځای و.

احمد شاه بابا خپل نیمایي ژوند د خپل ملت او هېواد د ملي او سیاسي بنسټونو د پیاوړتیا په لار کې ولګاوه. نوموړی په ۱۱۸۶ هـ . ق . کال کې د وړېښې ناروغۍ له امله تر ۲۶ کالو پاچاهۍ وروسته د ۵۱ کالو په عمر په کندهار کې مړ شو او یو پیاوړی یو موټی او خپلواک افغانستان یې موږ ته پرېښود.

د متن لنډیز:

د یو ملک او ملت د نوم د ژوندي پاتې کېدو لپاره باتدبیره مشران او یو موټی او سرښندونکی ولس په کار دی. احمدشاه بابا هغه څوک و چې د خپلې ځېرکۍ پر مټ یې د افغانستان له منځه تلونکې څېره بېرته راژوندۍ کړه او زموږ د هېواد نوم یې د نړۍ په سیاسي جغرافیه کې د تل لپاره ثبت کړ.

له همدې امله د نوموړي پېژندل او د هغه د شخصیت احترام پرځای کول د ټولو افغانانو ملي فریضه ده.

احمد شاه بابا د نوي او معاصر افغانستان او یو ملي خپلواک افغان دولت مؤسس او بنسټ اېښودنکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې په وارسره د متن یو یو پراګراف ولولي، نور زده کوونکي دې په وار سره د متن مفهوم په خپلو خبرو کې ووایي.

۲ـ زده کوونکي دې د احمدشاه بابا د وخت مهم کارونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې په وار سره په ټولګي کې ووایي.

۳ـ زده کوونکي دې له متن څخه ځانګړي او استفهامي نومځري پیدا او په ټولګي کې دې ووایي.

٤ـ څو زده کوونکي دې د احمدشاه بابا شعر په خوږه او روانه ژبه ووایي او نور زده کوونکي دې هغه معنا کړي.

٥ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي.

ـ متاع ـ فارغ ـ اندیښنې ـ رقیب

٦ـ د احمد شاه بابا په وخت کې کوم شاعران پېژنئ نومونه یې واخلئ!

۷ـ په لاندینیو کورنیو کې د احمد شاه بابا د دورې د مشهورو ادبي او فرهنګي کورنیو نومونه په پنسل نښه کړئ:

ـ د بارکزیو کورنۍ ـ د برمکیانو کورنۍ

ـ د پیرروښان کورنۍ ـ د ملا اسماعیل کورنۍ

ـ د سلجوقیانو کورنۍ ـ د محمد هوتک کورنۍ

کورنۍ دنده

په کور کې له متن څخه د احمدشاه بابا د وخت د ادبي دورې په باره کې څو کرښې ولیکئ او بله ورځ یې په ټولګي کې واوروئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوویشتم لوست

لرغوني آثار

تاسو هرومرو داسې سامانونه، لوښي، کتابونه، وسیلې، ودانۍ او نور ځیزونه لیدلي دي چې په سوونو یا آن زرګونو کلونه پخوا جوړ شوي او تر اوسه پورې پاتې دي.

دغه ډول ځیزونه چې دومره اوږد وخت پرې تېر شوی وي، لرغوني ځیزونه یا آثار یې بولي. دغه آثار دا ارزښت لري چې موږ ته د تېرو زمانو د انسانانو د ژوندانه د ډول، خوراک، ځښاک، لباسونو، عقیدو او نورو په اړه معلومات راکوي. په دې لوست کې به د لرغونو آثارو د اهمیت او ارزښت په اړه معلومات ولولئ.

- که تاسې د کومې لرغونې سیمې په اړه معلومات لرئ خبرې پرې وکړئ ؟
- که موزیم او ارشیف ته تللي یاست، څه مو لیدلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې شمېره کلونه کېږي چې انسان د ځمکې پر مخ ژوند کوي. انسان د ځمکې پر مخ د الله ﷻ خلیفه دی. ټول کاینات د انسان په خدمت کې دي. انسان هم په ښلا ښلو زمانو کې د خپل عقل او پوهې په برکت ډول ډول تمدنونه رامنځته کړي دي. انسان لګیا دی په خپل واک کې د کایناتو د راوستو یا له کایناتو څخه د بشپړې ګټې اخیستنې هڅه کوي. ډېر داسې څه پې کشف کړل چې انساني عقل ورته حیرانېږي او د نور پرمختګ هڅې پې روانې دي. د دې لپاره چې انسان د تېرو انسانانو یا د خپلو پلرونو، نیکونو او یا تېر نسل له ژوندانه، عقیدې، خوراک، لباس او نورو په حال خبر شي باید له پخوانیو انسانانو څخه راپاتې توکي وڅېړي او د هغوی د ځېړنې او شننې له مخې د هغو په ژوند قضاوت وکړای شي.

ښایي دغه توکي خاورین لوښي، ډبرین ځیزونه او یا فلزي وسایل اونور ځیزونه لکه: سیکې، وسلې او کرنیز سامانونه، هډوکي، ګانې، کتیبې، ډبرلیکونه، پخوانۍ ودانۍ، مجسمې او نور وي. دغه توکي چې مونږ ته په چوپه خوله د پخوانیو انسانانو د ژوندانه د ښلا ښلو اړخونو کیسي کوي لرغوني آثار پې بولي.

د دغو اثارو د څېړلو، څرنګوالي معلومولو او د تاریخ او اهمیت ثابتولو علم ته لرغونپوهنه وایي. دا علم د هر هېواد لپاره، خو په تېره د افغانستان لپاره ډېر اهمیت لري. په افغانستان کې دغه علم د ۱۹ مېلادي پېړۍ په دویمه لسیزه کې لومړی ځل مروج شوی دی. له دغه وخته را په دې خوا یو شمېر بهرني لرغونپوهان افغانستان ته په رسمي او نارسمي توګه راغلي دي. دغو لرغونپوهانو د خپلو څېړنو او کیندنو په پایله کې ډېر شمېر لرغوني توکي ترلاسه کړي دي چې د ختیځ او لویدیځ موزیمونه پرې ډک شوي دي.

په بهرنیو لرغون پېژندونکو کې مېرمن لوییس دوپري، کزال، الچین، کارلتول مسن، جان، مارشال، کرشمن، مشینک، پوګاچینګوا، سریندي او نور یادولای شو. په کورنیو لرغون پېژندونکو کې د پوهاند عبدالحی حبیبي، احمد علي کهزاد، مستمندي، میرغلام محمد غبار، پوهاند میر حسین شاه، پوهاند الف شاه ځدران او ځینې نورو نومونه د ځانګړې یادونې وړ دي.

په افغانستان کې د لرغون پوهانو د کار او زیار په نتیجه کې څرګنده شوه چې دا هېواد ډېر لرغونی هېواد دی، له زرګونو کالونو راهیسې پکې انسانان اوسېدل او په خپله سیمه کې د یو شمېر زړو تمدنونو، عقایدو، ټولنیزو سیستمونو، هنري مکتبونو او ځواکمنو امپراتوریو د رامنځته کېدو او پراختیا مرکز ګڼل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځینو هېوادونو لرغوني توکي زیاتره د ځمکې پر سر وي، خو په افغانستان کې لرغوني توکي ډېر لږ د ځمکې په سر دي او زیاتره یې تر ځمکې لاندې دي. لامل یې دا دی چې افغانستان د تاریخ په اوږدو کې په پرلپسې ډول د یرغلګرو تر تاړاکونو لاندې راغلی دی او څو څو ځله یې ودان کلي او ښارونه وران، ویجاړ او له خاورو سره خاورې شوي دي. که د افغانستان هره غونډۍ، دښته او دره په ځیر سره وکتل شي، نو هره یوه یې د خپلو نښو نښانو له مخې لرغون پوهان ځان ته رابولي چې ورشي وېې پلټي، وېې سپړي او د افغان ولس د تېر تاریخ یو ورک او پټ پرتمین څپرکی بشري ټولنې ته وړاندې کړي.

د نړۍ ټول هېوادونه او په ځانګړي ډول پرمختللي هېوادونه اوس ډېره هڅه کوي چې دغه ډول توکي د مسلکي کیندنو، سپړنو، پلټنو او نورو څېړنو له لارې وموميي او خوندي یې کړي. دغه ډول توکي یا لرغوني آثار په موزیمونو او ارشیفونو کې په فني ډول په ډېر احتیاط سره ساتل کېږي. د لرغوني تاریخ د څرګندولو لپاره باید له همدغو لرغونو توکو څخه مرسته وغواړو.

که موږ د خپلو پخوانیو مشرانو د ژوند له نېکمرغیو او بدمرغیو خبر شو، کولای شو چې د خپل ژوندانه د نېکمرغۍ لپاره ترې د لارې روښانولو د پېلوځي په توګه کار واخلو.

لرغوني توکي د ټول ملت شریک مال دی. د یوې سیمې، یوې قبیلې او یوه قوم مال نه دی. څرنګه چې دغه لرغوني توکي یا آثار شریک مال دی، نو ساتل او ژغورل یې هم د ټول ملت دنده ده. په ځانګړي ډول د لوستو خلکو دنده ده چې د دغو آثارو په ارزښت او اهمیت خلک وپوهوي او په خپله یې هم د ساتنې او ژغورنې هڅه وکړي.

د افغانستان ډېرې سیمې لرغونې سیمې دي. پر دغو سیمو پر خپل خپل وخت یوتمدن تېر شوی دی. د هغه تمدن ډېر توکي په همدغو سیمو کې تر خاورو او تیږو لاندې دي، یا ځینې لرغوني کلاوې او ودانۍ له همدغو تمدنونو څخه راپاتې دي لکه: د بلخ د پخواني ښار کنډوالې او بهرنی دېوال، د بست کلا، دای خانم مانۍ، د هډې ودانۍ او نور.

دا او دې ته ورته نورې سیمې لرغونې سیمې دي. زموږ د تاریخ ډېر توکي همدلته پراته دي او همدغه ودانۍ او کلاوې په خپله لرغوني آثار دي. د دغسې سیمو او ځایونو ساتنه او ژغورنه زموږ د ټولو ملي دنده ده.

د لرغونو آثارو او سیمو د ساتنې او ژغورنې ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې موږ د خپل تاریخ یوه برخه خوندي کوو. د سیلانیانو او مینه والو د ورتګ له لارې دولت ته ډېره پانګه په لاس ورځي. سیمه والو ته کاروبار پیدا کېږي، لکه: هوټل جوړوي، دوکان جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو ځایونو په اړه معلوماتي کتابګوتې او د انځورونو البومونه چمتو کوي او پلوري يې. لرغونې سيمې، موزيمونه او ارشيفونه د ساعت تېرې او د معلوماتو د زياتولو لپاره هم خورا مهم ځايونه دي.



لرغوني اثار (سيکې، ډبر ليک، مجسمه)

د متن لنډيز:

لرغوني ځيزونه او ځايونه زموږ ملي شتمني ده. په ټول هېواد او هېوادوالو پورې اړه لري. زموږ د هېواد او هېوادوالو د لرغوني پرتمين تاريخ يو ويارمن څېرکی همدا لرغوني توکي دي. همدغه لرغوني توکي زموږ د تاريخ لرغونتيا او سابقه ثابتوي او موږ د خپلو پخوانيو خلکو له عقيدو، لباس، د کار له وسايلو، فرهنګ او تمدن څخه خبروي.

د لرغونو آثارو او سيمو ساتنه هم د هر هېوادوال دنده ده. موږ بايد په کلکه د دغو آثارو او ځايونو ساتنه وکړو. چا ته اجازه ور نه کړو چې دغه آثار وپلټي او غلا يې کړي. يا دغه سيمې په خپل سر وکيندي او لرغونو آثارو ته زيان ورسوي. که موږ داسې څوک ووينو، چې دغو آثارو او سيمو ته زيان رسوي، بايد په خپله يې هم مخنيوی وکړو او مسؤولو مقاماتو ته هم ژر تر ژره خبر ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي.

- لرغوني آثار څه ته وايي؟
- د لرغونوآثارو اهمیت په څه کې دی؟
- زمونږ په هېواد کې لرغوني آثار شته که وي مثالونه يې ووایاست.

۲ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بيا دې په دوو ډلو ووېشل شي او يوه ډله دې له بلې نه د لرغونو آثارو په اړه لاندې پوښتنې وکړي.

- څه ډول شي ته لرغونی اثر وايي؟
- په لرغونو آثارو کې کوم شيان راځي؟
- زمونږ په هېواد کې د لرغونو آثارو کوم کوم ځايونه پېژنئ؟
- لرغوني آثار په چا پورې اړه لري؟
- لرغوني آثار يو هېواد ته څه ګټه لري؟

۳ـ زده کوونکي دې په متن کې عام او خاص نومونه پيدا کړي او بيا دې يې په ټولګي کې ولولي.

٤ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې دې وکاروي. بيا دې په ټولګي کې په وار سره ولولي.

لرغونی، قضاوت، کتيبې، ډبرليکونه، پيلوځې

۵ـ څو تنه زده کوونکي دې تختې ته ورشي، د لرغونو اثارو نومونه او ځايونه دې په تخته وليکي.

کورنۍ دنده

که تاسې کوم لرغوني آثار ليدلی وي او يا موزيم ته تللي ياست د خپلو سترګو ليدلی حال وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هنري نثر ډولونه

نثر اونظم دواړه د مفکورو اومفاهیمو د لېږدولو وسیلې دي. نثر د نظم په پرتله ډېر کارول کېږي. لامل یې دا دی چې نثر آسان دی، هر لیکونکی یې لیکلای شي اوهر ډول موضوع پکې بیانولای شي. د دې په مقابل کې نظم ستونزمن دی، خو یادول یې آسان دي؛ځکه وزن او قافیه پکې شرط دی.

نثر ډېر ډولونه لري چې یو یې هنري نثر دی چې په دې لوست کې تاسې ته د هنري نثر په اړه معلومات درکوو.

- که ورځنی خبرې په لیکنې بڼه وي په څه نامه یادېږي؟
- تاسې د نثر په اړه پوهېږئ چې نثر څه ته وایي؟ او څو ډولونه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نثر په لغت کې شیندلو او خورولو ته وایي. په اصطلاح کې هغه وینا یا لیکنه چې د وزن او قافیې له بند څخه خالي وي نثر بلل کېږي. څرنګه چې نثر آسان دی، نو د هر ډول افکارو، لکه: بشري، ديني، فلسفي، ښوونیزو، روزنیزو، ټولنیزو او نورو مسایلو د څرګندولو مناسبه وسیله ده. د بڼې او شکل له مخې معاصر نثرونه په دوو سترو برخو وېشل کېږي:

۱ـ ساده نثرونه

۲ـ هنري یا ادبي نثرونه

په ساده نثرونو کې ټولې علمي، ادبي سیاسي او ژورنالستیکي لیکنې، څېړنیز تحلیلي او تشریحي آثار او لیکنې راځي چې په ساده او روانه ژبه د فکر او نظر د څرګندولو او نورو ته د پوهې او معلوماتو ورلېږدونې ډېره ښه او اغېزناکه طریقه ده، خو هنري او ادبي نثرونه بیا خپلې ځانګړنې لري چې د هغو له مخې یې له عادي او ساده نثر څخه توپیر کېږي.

اساسي او بنسټیزه ځانګړنه چې ادبي او ساده نثر سره بېلوي هغه ((هنریت)) یا ((ادبي هنري ارزښت)) دی. د ادبي نثر د لیکوال احساس، ذوق او تمایلات د مطلب او واقعیت د بیانولو لپاره اساسي رول لري. لیکوال چې څه لیدلي، اوریدلي او احساس کړي وي یا یې په ذهن او خیال کې تېرېږي بیانوي یې، خو د علمي او څېړنیزو لیکنو په څېر دلیل راوړلو ته هیڅ اړتیا نه لري.

په هنري ادبي لیکنو یا نثر کې لیکوال د بېلا بېلو منظر کشیو، انساني ټیپکو خصوصیاتو، روحیاتو، عاداتو، حالاتو او په الفاظو کې د انځورولو او وړاندې کولو لپاره له خپل تخیلي ځواک څخه کار اخلي. لیکوال د تخیلي ځواک په مرسته او د لیکوالۍ د هنر د مهارتونو په وسیله د منظر کشۍ او صحنه سازۍ چاره سرته رسوي، حالات یا واقعیتونه او پېښې په الفاظو کې داسې انځوروي چې لوستونکي او یا اوریدونکي فکر کوي چې هر څه په خپلو سترګو وینې او ځان ورته په صحنه کې شامل ښکاري.

په دغه ډول لیکنو کې دا د لیکوال په استعداد او فني مهارت پورې اړه لري چې انساني رواني حالات، د خلکو هیلې او غوښتنې، جذبات، عواطف او احساسات څنګه په الفاظو کې انځور او راونغاړي او مقابل لوري (لوستونکي یا اوریدونکي) ته یې ورولېږدوي او د هغه په عواطفو کې خوځښت راولي. د هنري او ادبي نثرونو د بڼې له مخې دا لاندې ډولونه مورِ ته معلوم دي:

لنډه کیسه، ناول، ډرامه، رومان، طنز، تکل، ادبي ټوټه، سفر نامه، ادبي راپور تاژ، ادبي لیکونه، ادبي انځور، فلمي سناریو او نور، دلته یې ځینې په ډېر لنډ ډول درپېژنو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ لنډه کیسه: د نثري کیسو یو ډول دی چې لنډه او له داسې عناصرو څخه جوړه وي چې یو له بل سره تړلې وي او یو د بل تر اغیز لاندې وي، موضوع د خپلو حدودو په چوکاټ کې رانغاړي، بې ضرورته خبرې پکې نه ځاییږي، د تاثر او اغیز یووالی پکې یوازینی شرط دی. په جوړښت کې یې پلاټ (طرحه)، کرکټر، تجسس او تلوسه، مکالمې او منظر کشي، تخیل، د کیسې پایله او نتیجه شامل دي.

۲ـ ناول: لغوي معنا یې نوی، تازه او عجیبه څیز دی او په ادبي اصطلاح هغې ادبي نثري کیسې یا داستان ته وایي چې له لنډې کیسې څخه لوی او له رومان څخه لنډوي. او په لیکنې چوکاټ کې: طرحه، اصلي او فرعي کرکټرونه، منظر کشي، مکالمې او د کیسې پیل، منځ او پای لري. له لنډې کیسې سره دا توپیر لري چې هم پکې پېښې په تفصیل سره بیانېږي او هم یې کرکټرونه زیات وي.

۳ـ ډرامه: د یوناني کلمې ((ډراو)) نه مشتق شوې چې د عمل او کولو معنا لري، له همدې امله د ډرامې د پېژندنې په لړ کې دغه کلمه په کولو او ښودلو تعبیر شوې. په ادبي اصطلاح هغه اثر دی چې د خبرو اترو په فورم کې لیکل شوې وي، یا په بله وینا: ډرامه د یوې ژوندۍ کیسې نوم دی چې ټول احساسات او جذبات پکې د حرکت او خوځښدو په واسطه څرګندېږي او هره پېښه عملاً د سترګو په وړاندې ښکاري.

ادبپوهان ډرامایي وحدتونه (وحدت زمان ـ وحدت مکان ـ وحدت عمل) د ډرامې د فن بنسټیز توکي بولي.

٤ـ رومان: فرانسوي کلمه ده، په ځینو فرهنګونو کې یې معنا خیالي داستانونه او په ځینو کې د مینې او محبت کیسې راغلي او په ادبي اصطلاح کې هغې کیسې ته ویل کېږي چې له ناول څخه اوږده وي، د ژوند ډېرې او ببلا ببلې خواوې پکې منعکس شوې وي او د ببلا ببلو پېښو انځور په ادبي قالب کې ځای کوي.

۵ـ ادبي ټوټه: د هنري ادبیاتو یو ځانګړی ډول دی چې ادبپوهانو د ((منثور شعر)) په نامه هم یاد کړی دی او دا ځکه چې اصلاً نثر دی، خو شعري کیفیت لري. په دې ډول لیکنو کې د لوړې انشاء خیال ساتل کېږي، معمولاً حکایوي بڼه لري، د یو حقیقت او واقعیت په اړه په زړه پورې تشریح او توضیح کوي، خو دا توضیح او تشریح په داسې رنګینو الفاظو کې نغښتې وي چې په بشري احساس او عواطفو ژور اغیز کوي.

٦ـ طنز: عربي کلمه ده چې فرهنګونو د طنز لغوي معنا ناز او کرشمه، پېغور او مسخره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول راوړي او په ادبي اصطلاح د هنري ادبياتو يو ژانر دی چې په لیکنه کې يې د لیکوال اصلي مقصد ګوتنیونه (انتقاد) وي، خو دا انتقاد يې د شوخۍ په بڼه او يا په بله وينا دريشخند او تمسخر په جامه کې نغښتې وي. د وينالحن او انداز يې په زړه پورې او د ټوکو ټکالو په شکل وي او زياتره وخت پکې مسايل سرچپه (معکوس) مطرح کېږي.

طنز په واقعيت کې هغه ترخه خندا ده چې د ټولنې د خلکو په ناوړه اعمالو، عاداتو، اخلاقو او افکارو باندې کېږي.

۷ـ ادبي ليکونه: هغه ليکونه دي چې په ځانګړې هنري او ادبي بڼه ليکل کېږي. په دې ليکونو کې يو لړ مهم انتقادي، سياسي، فلسفي او ادبي مسايل ليکل کېږي او د اديبانو ترمنځ تبادله کېږي. د ليکنې ژبه يې هنري او د تخيل رنګ پرې غالب وي. له استعارو، کنايو، تشبيهاتو او نورو ادبي صنعتونو څخه پکې کار اخيستل شوی وي، ژبه يې خوږه او د ليکنې طرز يې دومره په زړه پورې وي چې لوستونکی يې په لوستنه نه مړېږي.

۸ـ ادبي راپوتاژ: د هنري ادبياتو يو ځانګړی ژانر دی، له عادي راپورتاژ سره يې چې يو ژورنالستيکي ژانر دی، اصلي توپير دا دی چې په ادبي راپور تاژ کې د پېښې تعبير، تفسير او تحليل په ادبي او هنري ژبه شوی وي. د دې ډول راپور تاژ ليکونکی پېښو ته په دقيق نظر ګوري او له هغه څخه چې کوم برداشت کوي، د تخيل په ملتيا يې په خوږه هنري ژبه نورو ته وړاندې کوي.

د متن لنډيز:

هغه بنسټيزه ځانګړنه چې هنري نثر له ساده نثر څخه بېلوي هنريت يا ادبي ارزښت دی. په هنري نثر کې ليکوال ټول مفاهيم د الفاظو په قالب کې په تخيلي ځواک سره ځايوي. دغه تخيلي ځواک په بشري احساس او عواطفو ژور اغېز کوي او راپاروي يې. هنري نثرونه د بڼې له مخې دا دي:

لنډه کيسه، ناول، ډرامه، رومان، طنز، ادبي ټوټه، ادبي ليکونه او ادبي راپور تاژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- د ساده نثر او هنري نثر توپیر په څه کې دی؟
- یوه لنډه کیسه له کومو توکو څخه جوړه ده؟
- ناول له لنډې کیسې سره څه توپیر لري؟

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي:

- کومه لنډه کیسه مو لوستلې؟ لنډیز یې ووایاست.
- طنز څه ته وایي که لوستی مو وي، موضوع او شکل یې په ګوته کړئ.
- د ادبي راپور تاژ په اړه معلومات ورکړئ او یو مثال یې څرګند کړئ.

۳ـ زده کوونکي دې د هېواد د پنځو شاعرانو او پنځو نثر لیکونکو نومونه او کتابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او په ټولګي کې دې واوروي.

٤ـ ناسم ځواب نښه کړئ:

- لنډه کیسه د هنري نثر یو ډول دی.
- ناول د هنري نثر یو ډول دی.
- د اخبار خبر د هنري نثر یو ډول دی.

۵ـ زده کوونکي دې په څلورو ګروپونو ووېشل شي. متن دې په چوپه خوله ولولي. لومړۍ ډله دې نومځري، دویمه دې نومونه، دریمه دې صفتونه او څلورمه ډله دې د (ی) ګانو ډولونه پیدا او په ټولګي کې ولولي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله د یو هنري نثر په اړه یوه نمونه راوړي او بله ورځ دې په ټولګي کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویپانګه

((الف))

اتل: زړور، تکړه، غیرتمن، قهرمان، پهلوان
احاطه: غولی، انګړ، څلوردیوالي
احتمال: شونتیا، امکان، کېدلو والا
اسایش: هوساینه، سوکالي ارامي
استدلال: دلیل ویل، د اسنادو او شواهدو راوړل
استفهامي: پوښتنیز، چې پوښتنه کوي
افسانه: نکل، خیالي کیسه، داستان، حکایت
افسر: منصبوال، بریدمن، تورن او ...
اقتباس: اخیستنه، ګټه اخیستنه، د کوم عبارت نقلول
البوم: د انځورونو ټولګه، د عکسونو مجموعه، د یوه څیز مجموعه
اعجاز: فوق العاده
ام: مور، اصل ماده
امتیازات: برتری، لوړوالی
انا: نیا، بوډۍ
انتقاد: نیوکه، نیمګړتیاوې ویل، عیب په ګوته کول
انحطاط: لوېدنه، راټیټېدنه، ځوړتیا
انزوا: ګوښه والی، یوازېوالی، چپله کېدنه، ګوټ ناستې
انصراف: تېرېدنه، لاس اخیستنه، مخ ګرځونه
انعکاس: غبرګون، ازانګه
انځور: عکس، تصویر، څېره په رسامي ډول
اوهام: بې ځایه سوچونه، ډار، وهمونه
اړه دوړ: جګړه، جنګ، ګډوډي، شخړه
اړین: ضروري، حتمي

((ب))

برپا: پېښ، رامنځته، پورته
برم: شان، شوکت
بلواکي: د بل تر واک لاندې، د خپلواک ضد
بهرور: برخمن، مستفید، فیضیاب
بورجل: کور، استوګنځی
بڼه: څېره، شکل، قواره، رنګ
ببلنې: ببلوونکې، جلاکوونکې، ډش (ـ)
بېګم: بي بي، مېرمن، ښځه

((پ))

پاسلل: سپارل، حواله کول، نېکي کول
پاسلي: سپاري، حواله کوی
پایله: نتیجه، خاتمه، پای
پایښت: پایښت، ژوندی پاتې کېدل، اوسېدل، ژوند کول
پرهېزګار: متقي، تقوادار
پلازمېنه: د ناستی ځای، مرکز، پایتخت
پلاټ: د کیسې یا ډرامې لومړی طرح چې د لیکوال په ذهن کې رامنځته کېږي
پلوي: سمتي، لوري ته منسوب
پوخ لاس: ښه مهارت، ډېر مهارت، قوي لاس، پوره تجربه

((ت))

تأثر: اغېز، اغېزمنل
تالنده: تنا، ګړزا، د آسمان غرهار
تامین: برابر، مهیا، خوندي
تاند: تنکی، نوی، تازه، وده کوونکی
تاوتریخوالی: زور زیاتی، بد چلند، اخ او ډب، خشونت
تخیل: خیال او تصور، په ذهن کې د یو څیز انځور
تدوین: راټولونه، ترتیبول، سمون
تسکین: تسلي، آرامي، آسودګي، ډاډ
تکول: ترکول، خوځول، لکه د غوږ خوځول
تلپاتې: تل پایند، تل ژوندی، همېشنی، مدام
تلوار: ښړه، توندي، تادي
تمایلات: لېوالتیاوې، مینې، رغبتونه
تمبل: چمبه، چنبه، داریال، دریه، داریه
تمسخر: ملندې، پیشاړې، پچموزې، مسخرې
تمنا: هیله، امېد، ارزو
تنبیه: ویښونه، بیدارونه، پوهونه، آګاهي
توکی: څیز، شی، ماده

((ټ))

ټپیک: مشخص، ځانګړې، نمونه یي
ټکر: ډغره، تیندک، جنګېدل

((ج))

جانشین: ځای ناستی، قایمقام
جرس: ګونګری، ګینګړی، غږاوه، جرنګانی، زنګوله.
جوګه: وړ، لایق، موزون

((چ))

چارواکی: واک واله د چارو واکمن، مامور، د منصب څښتن
چلند: خوی، سلوک، کړه وړه، تګ راتګ

((ح))

حرب: جنګ، جګړه

((خ))

خشخاش: کوکنار، د کوکنارو تخم
خلف: ځای ناستی، اولاد، وروسته پاتې شونی
خوشامنګر: چاپړوس، چاپلوس، غوړه مال
خلقت: پیدایښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

خليفه: ځای ناستئ
خوځښت: حرکت، نهضت، غورځنګ
خروب: پنول، اوبونه، اوبه کول
((د))
دربان: دروانچي، څوکیدار، د وره ساتندوی
درناوی: درنښت، قدر، عزت
دره: متروکه، قمچینه، شلاق
دریځ: د درېدو ځای، منبر، لوړ ځای، موقف
دستي: غونچې، ګډۍ
دقت: ځیرنه، پاملرنه، توجه
دردانې: مرغلرې
دینار: د طلاو سکه د عراق د دولت اوسنۍ پیسې
((ذ))
ذاتي: ځاني، اصلي، خپل، شخصي
ذوق: خوښه، شوق، طبع
((ر))
راز: پټه خبره، سِر
راشدین: دیندار، متدین، په سمه لار روان (راشدین خلفا)
رحلت: وفات، تلنه، تګ، مړینه
رزمي: جنګي، حربي، د جنګ
رغاونه: جوړونه، آبادونه، سازونه
روایت: نکلونه، کیسې، راپاتې خبرې، د چا د خبرو نکلول
روحاني: مذهبي لارښود، پارسا، معنوي شخص
روحیات: مورال، وضع، وضعیت اروا ګانې
روزل: پالل، تربیه کول، ساتل
ریاضت: زیار، هڅه، کوښښ، د نفس پاکولو لپاره ربړ ګالنه
((ز))
زهیر: خواشینی، خپه، ناتوانه، کمزوری، کړېدلی
((ژ))
ژورنالیستیک: هغه لیکنې چې د چاپي، رادیویي او تلویزیوني خپرونو او رسنیو لپاره کېږي.
ژوی: ساکښ، ژوندی سری، ذیروح
((س))
ساعي: هڅاند، زیارګالی، کوښښي
سیما: زیرمه، زخیره، پاسره، بچت
سکوت: چوپتیا، قراري، څنډ، وقفه
سکون: ارام، درېدنه، چوپتیا، غږوندی، ځای پر ځای کېدنه
سمسور: ښېراز، شین، زرغون
سناریو: هغه کیسه چې د فلم او ډرامې لپاره پر کاغذ لیکل کېږي.
سود: تسل، ډاډ، خاطر جمعي، تسکین
سون: سونګ، سوځېدل، د سوځولو
سوېلی: سهیلی، ملګرې، همزولې
سیلاني: ګرځندوی، سیاح، نندارچي
((ش))
شغل: دنده، بوختیا، وظیفه، کسب
شفاهي: ګرنی، په خوله، د خولې، په یادو، د خولې خبرې
((ښ))
ښکالو: د پښو اواز، پسپسی، غوږی، کشهار، څپهار
ښکېلاګر: استعمارګر، استعمار چي، نیواګر، بندوونکی
ښکېلاک: نیواک، استعمار، بند، راګېر
((ص))
صادر: لېږل شوی، څرګند، پېښ شوی، ترسره شوی
صحنه سازي: صحنه جوړونه، منظر کښ
صنعت: جوړېدل، سازېدل، جوړشوي شیان، سامانونه، وسایل
صوفي: پاک نفس، تزکیه، د تصوف د طریقت پیرو، د وړینو جامو اغوستونکی
((ع))
عدالت: برابري
عابد: پرهېزګار، متقي، تقوادار، عبادت کوونکی
عارض: عرض کوونکی، شکایت کوونکی، حق غوښتونکی
عارف: صوفي سالک، خدای ﷻ پېژندونکی، پوه، هوښیار
عالي: لوړ، شریف، محترم
عواطف: احساسات، جذبې، ولولې، مهربانی، الطاف
((غ))
غمېدل: خواشینېدل، خپه کېدل، په غم کېدل
غورځنګ: خوځښت، نهضت
((ف))
فدا: ځار، جار، واری، قربان
فرمان: د واکمن لیکلی حکم، د ولسمشر حکم، اجازه، د ولسمشر امر په لیکلې بڼه
فن: د علم او صنعت په اړه یوهه او آګاهی
فضیلت: غوره والی، ښېګڼه، برتري
فطرت: طبیعت، پنځ، پیدایښت، خلقت
فقه: پوهه، فهم، پر یو څه خبرتیا، د دین د ارکانو او احکامو علم.
فقید: ورک، له منځه تللی، مړ، له لاسه وتلی
((ق))
قلنګ: د ملنګ نذرانه، باج، کلنګ
((ک))
کافرستان: د کافرو ځای، د کافرو وطن
کاذب: دروغجن

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرکټر: هغه شخص یا لوبغاړی چې د کیسې لیکوال یې د کیسې د پیښو د بهیر پر مخ بیولو لپاره ټاکي.
کړه کتنه: نقد، سم قضاوت، یوه څیز ته اصلاحي کتنه
کروندګر: بزګر، دهقان
کسات: غچ، بدل، انتقام
ککړتیا: چټلېدل، ګنده کېدل، لړلي کېدل
کونجکه: کنجکه، د صدف پوخ، ګوجی
کوټلتیا: پوخوالی، مضبوطتیا، محکمتیا، درنښت

((ګ))

ګلشن: ګلبڼ، د ګلانو باغ، ګلباغچه

((ل))

لامل: سبب، علت
لرغونی: پخوانی، لرغون، قدیمي
لطافت: نرم والی، ښه والی، سپېڅلتیا، نزاکت، ښکلا
لقب: هغه نوم چې د یوه ځانګړي صفت له امله پر چا ایښودل شوی وي.
لېوالتیا: لېوالتوب، مینتوب، هیله مندي، ارزومندي

((م))

مبارزه: هڅه، زیار، جنګ، جګړه، شخړه
متاع: توښه
مجرب: ازمایل شوی، تجربه شوی
مجلي: جلوه ګاه، ښکاره کوونکی
محاوره: خبرې اترې، مکالمه
مرام: مقصد، مطلب، هیله، مراد
مرکچیان: مرکوال، مرکه کوونکي، جرګه مار
مزمن: اوږد مهاله، د اوږدې زمانې، د ډېر وخت
مستقل: خپلواک، ازاد، خپل اختیاره
مستند: منل شوی، باوري، د اصل له مخې، د اعتبار وړ
مسمومیت: زهري کېدنه، په زهرو ککړېدنه
مشال: مشعل، ډیوه، څراغ
مشاور: سلاکار، مشوره ورکوونکی، نظر ورکوونکی
مشرتابه: د مشرتوب، مشریزه، سرغندوبه، د مشرۍ
مصنوعات: لاسي او ماشیني تولیدات، جوړ کړی شوي، تولید کړی شوي
معتاد: روږدی، عملي، په نشه اخته
معراج: پورته، اوچت، لوړ، آسمان ته د حضرت محمد (ص) ختل.
معرفت: پېژندګلوي
مقبول: منل شوی، ښکلی، ګران
مقرب: نژدې، خپلوان، دوست، خاص ملګری
مل: ملګری، سره یوځای
مناجات: دعا، التجا، هغه بیان چې خدای ﷻ ته پکې زاري شوې وي.
منثور: په نثر، له نظم پرته
منظرکشي: منظر کښنه، په کلمو کې دیوې صحنې انځور
مدام: همیشه
منظوم: په شعر، په نظم، نظم شوی
مهذب: متمدن وړ، بې عیبه، تورپل شوی، اصلاح شوی، سم شوی
موخه: هدف، مقصد،
میل: لېوالتیا، اشتها، اشتیاق، مینه
مړو: مړه، مړنی، سړی، جمع یې مړونه، لهجوي، (د مړو وده له تا ده)

((ن))

نابود: له منځه تللی، ورک، محوه، نشت
ناشونی: نه کېدونکی، نه کېدلو والا، ناممکن
ناورین: غم، خپګان، ویر، ماتم
ندا: غږ، اواز
نظم: ترتیب
نظامي: پوځي، عسکري
نغښتل: راټولول، سره ودل، سره یو ځای کول
نګین: غمی، قیمتي کانۍ
نمو: وده، لوېدنه، غټېدنه
نهضت: خوځښت، غورځنګ، تحریک
نومیالی: نامتو، مشهور
نومیالی: نامتو، مشهوره
نومځی: ضمیر، هغه کلمه چې د نامه استازیتوب کوي
نیاز: اړتیا، حاجت، ضرورت
نیله: ریښه، ځیله، جړه، وله
نېب: پرله پسې، بیا بیا، مکرر، مسلسل

((و))

واکمن: واکوال، واکدار، اختیارمند
وده: ډېرښت، تکثر، زیاتوالی
ورشو: څرخای، شین او سمسور ځای، ښپراز چاپېریال
وژغنی: وزغنې، د وزو وښتان
ولوله: جذبه، احساس، شور و شوق

((هـ))

هسک: لوړ، اوچت، اسمان
همراز: راز شریکی، نژدې ملګری، خاص
همرکاب: درکاب ملګری، د لارې ملګری، د سفر ملګری همسفر، د سفر ملګری
همسر: سیال، برابر
همفکر: همخیاله، د یوه فکر والا، د یوه فکر څښتنان
هنر: فن، کمال، فني مهارت، کسب

هنر: فن، کمال، فني مهارت، کسب

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library